رواداری
RAWADARI

# په ۲۰۲۵ کال کې د افغانستان د بشري حقونو وضعیت

مارچ ۲۰۲۶


Photo (C) Mahshad Jalalian / Alamy

رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختيا، حساب ورکوونی، او د قرباني محوره عدالت د کلتور د تامينولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پرېتوب د اصل په بشپړ رعايت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شويو نړيوالو اصولو او معيارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د پېښې، څرنگه چې پېښې شوې دي، په ريښتينولۍ خپروي.

# د مطالبو لړلیک


سریزه ۳
د معلوماتو د راټولولو تګلاره ٤
اطلاعاتو د لاسرسي محدودیتونه ۵
**لومړۍ برخه، د مدني او سیاسي حقونو وضعیت ۷**
د ژوند د حق نقض ۸
۱. د پاکستان د هوایي ځواکونو د بریدونو له امله رامنځته شوې مرګ ژوبله ۹
۲.د هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونو له امله رامنځته شوې مرګ ژوبله ۱۰
۳. له وسله والو شخړو څخه پاتې د چاودېدونکو توکو له امله رامنځته شوې مرګ ژوبله ۱۱
۴. هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۱۲
له محاکمې پرته د وژنو د مستندولو محدودیتونه ۱٤
د طالبانو لخوا د هدفي، مرموزو او غیرقانوني وژنو د عاملینو د محاکمې لپاره اقدامات ۱۵
الف- د مخکني حکومت د کارکوونکو سازمان شوې وژنې ۱٦
ب- د مخالفو ډلو په غړیتوب او همکارۍ د تورنو ملکي وګړو وژنې ۱۹
ج- د نورو ملکي وګړو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۲۰
جبري تري تم کول ۲۲
خپلسرې او غیرقانوني نیونې ۲٦
د خپلسرو او غیر قانوني نیونو عاملان ۲۷
الف- د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسرې نیونې ۲۸
ب- د مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعانو خپلسرې نیونې ۳۰
ج- د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د وګړو خپلسرې نیونې ۳۱
د- د امربالمعروف له قانون څخه د سرغړونې له امله خپلسرې او غیرقانوني نیونې ۳۳
د انساني کرامت د حق نقض ۳۵
الف- د زندانیانو شکنجه کول او ورسره ناوړه چلند ۲۵
د طالبانو په توقیف ځایونو کې د شکنجې ډولونه او لارې چارې ۳٦
د قربانیانو روایتونه ۳٦
د زندانیانو وژل ۲۸
د طالبانو د زندانونو د اغېزناکې څارنې د میکانیزمونو نشتوالی ٤۱
ب- د ظالمانه او غیر انساني مجازاتو پلي کول ٤۲
۱. د سنګسار او قصاص مجازات ٤۳
۲. بدني سزا ٤٤
۳. د غیرانساني مجازاتو نورې بڼې ٤۵
د سوله ییزو غونډو او راټولېدونو ځپل ٤٦

**دويمه برخه- د ښځو د بشري حقونو وضعيت** ٤٨
۱. د تعليم پر حق د محدوديتونو سختېدل ٤٩
د کوچنيو نجونو لپاره حجاب او شرعي محرم اړين ګرځول ۵۰
د مرکه شويو خبرې ۵۰
ښځو ته د ښوونيزو خدماتو د وړاندې کولو له امله د ښوونکو نيول ۵۲
۲. د کار تبعيضي شرايط ۵۳
د روغتيا او تعليم په برخو کې د دندو پرېښودو ته د ښځو اړيستل ۵۳
۳. د روغتيا ساتنې او درملنې خدماتو ته د لاسرسي ننګونې ۵۵
د مرکه شويو خبرې ٥٦
۴. د آزاد تګ راتګ د حق نقض ۵۸
د مرکه شويو خبرې ۵۹
۵. عدالت ته د لاسرسي نشتوالی ٦٠
ښځو سره د تاوتريخوالي پېښو ته د رسيدګۍ نشتوالی ٦١

**درېمه برخه- د متضررېدونکو قومي او مذهبي ډلو د بشري حقونو وضعيت** ٦٣
۱. د دولتي خدماتو او پراختيايي پروژو په وړاندې کولو کې قومي او مذهبي ډلو سره تبعيض ٦٤
۲. په استخدام کې تبعيض ٦٥
۳. پر مذهبي آزاديو د محدوديت لګول ٦٦

**څلورمه برخه- پايه او وړانديزونه** ٦٩
پايله ٧٠
وړانديزونه ٧١

# سریزه

دا راپور له قربانیانو، ژوندي پاتې شویو، عیني شاهدانو او نورو سیمه ییزو سرچینو سره د مخامخ مرکو په ګډون، لومړنیو سرچینو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو او شواهدو پر بنسټ جوړ شوی، چې په ۲۰۲۵ کال کې په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت څیړي. د مدني او سیاسي حقونو وضعیت، د ښځو حقونه، او د زیان منونکو قومي او مذهبي ډلو وضعیت تر ټولو مهم مسایل دي، چې په یاده زماني موده کې په دې راپور کې څیړل کیږي.

راټول شوي اطلاعات او شواهد ښیي چې په دې موده کې د بشري حقونو سرغړونې نه یوازې دوام لري، بلکې په ډیری برخو کې یې شدت هم موندلی او لا ډیر سازمان شوي ابعاد یې پیدا کړي دي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۴ کال په پرتله، هدفي او له محاکمې پرته وژنې، خپلسرې نیونې، جبري تري تم کېدل، شکنجه او نور ظالمانه له سپکاوي ډک چلندونه د پام وړ زیات شوي دي. په ورته ډول، د دې راپور د موندنو له مخې، پخواني حکومتي چارواکي، خبریالان، د بشري حقونو مدافعین، او هغه اشخاص چې د مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور تورن دي، د غیرقانوني وژنو، توقیف، جبري تري تم کېدو، او د غچ اخیستنې د نورو اقداماتو نښه ګرځېدلي دي.

د ښځو د بشري حقونو وضعیت هم په دې موده کې، د زده کړو له حق څخه د محرومیت د دوام، له کار، د تګ راتګ له آزادۍ، عدالت ته له لاسرسي، او د حاکمو چارواکو له لوري د لا سخت چلند له امله، په بېلابېلو اړخونو کې لا پسې خراب او اندېښمنوونکی شوی دی. ترلاسه شوي شواهد ښیي چې د «امر بالمعروف او نهی عن المنکر» په نوم د قانون په پلي کېدو سره، د ښځو پر وړاندې تبعیض، محدودیتونه او ټولنیز کنټرول لا سازمان شوې بڼه خپله کړې، او په دې توګه یې د هغوی د فردي او ټولنیز ژوند لا ډېرې برخې تر خپل اغېز لاندې راوستې دي؛ هغه وضعیت چې کېدای شي د جنسیت پر بنسټ د ځورونې او د بشریت ضد جرم مصداق وبلل شي.

په همدې مهال، د طالبانو محکمو د دې راپور ورکولو په موده کې د بدني سزاوو پراخه لړۍ، چې پکې دُرې وهل او د سپکاوي نور ډول ډول مجازات هم شامل دي، تطبیق یا تأیید کړي دي؛ هغه سزاوې چې د شکنجې او ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکو چلندونو د مخنیوي له اصولو سره په څرګند ډول په ټکر کې دي. قومي او مذهبي لږکي هم په دې موده کې د کار او اقتصادي فرصتونو، عامه سرچینو او خدمتونو ته په لاسرسي کې له تبعیض سره مخامخ شوي، او د خپلو مذهبي مراسمو د ترسره کولو په ازادۍ کې له محدودیتونو سره مخ دي.

د خپلواکې څارنې د میکانیزمونو نشتوالی او له مجازاتو او حساب ورکولو څخه د بشري حقونو د سرغړونو د مرتکبینو دوامدار معافیت، د بشر حقونو د سرغړونو د بېلابېلو بڼو د دوام او زیاتوالي او عدالت ته د قربانیانو د لاسرسي څخه د محرومیت لامل شوی دی. تمه کیږي چې په دې راپور کې شاملې موندنې او سپارښتنې به د نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو، حاکمو چارواکو او نورو اړوندو ادارو لخوا په پام کې ونیول شي، او د افغانستان د خلکو د بنسټیزو حقونو د ساتنې لپاره به عملي اقدامات ترسره او پلي شي.

## د معلوماتو راټولولو تګلاره

رواداری د ۲۰۲۵ کال په جریان کې په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړونو د پېښو د معلوماتو راټولولو او مستندسازۍ ته دوام ورکړی، او د دې بنسټ څارونکو په پرله‌پسې ډول له قربانیانو او د هغوی د کورنیو له غړو، عیني شاهدانو، د بشري حقونو له مدافعانو، مدني فعالانو، خبریالانو، د مکتبونو له ښوونکو او د پوهنتونونو له استادانو، د دولتي ادارو له کارکوونکو، مدافع وکیلانو، د ګذر وکیلانو، سیمه‌ییزو مشرانو، د روغتیایي برخو له کارکوونکو او اړوندو ملي او نړیوالو بنسټونو سره د هېواد په ۳۰ ولایتونو کې مرکې ترسره کړې دي.[1] له تحلیل او تایید وروسته، راټول شوي معلومات د میاشتنیو راپورونو په بڼه تنظیم شوي، او په د بریښنایی ذخیره کولو په خوندي سیستم کې ثبت او ساتل شوي دي.

د بشر حقونو د سرغړونو له پېښو سره د تړلو معلوماتو، اسنادو او شواهدو د راټولولو بهیر د رواداري د سیمه‌ییزو څارونکو له خوا او د دې بنسټ د څېړنیزې ډلې تر مستقیمې څارنې لاندې ترسره شوی دی. په دغو اقداماتو کې له یادو شویو سرچینو سره د منظمو پوښتنلیکونو له لارې د منظمـو مرکو ترسره کول، او همدارنګه د تکمیلي شواهدو راټولول شامل ؤ؛ لکه رسمي مکتوبونه، قضایي اسناد، انځورونه، غږیز فایلونه، د روغتونونو او کلینیکونو اسناد، او هغه راپورونه او معلومات چې د طالبانو تر کنټرول لاندې بنسټونو له لوري خپاره شوي دي. همدارنګه، د راټولو شویو معلوماتو د اعتبار، دقت او کیفیت د تضمین په موخه، د رواداري د څېړنې ډلې د کال په اوږدو کې سیمه‌ییزو څارونکو ته تخصصي روزنې، تخنیکي مشورې او اړینې لارښوونې وړاندې کړې دي.

خو، هغه څه چې پدې راپور کې وړاندې شوي دي، د مستندو او تایید شویو معلوماتو ټولګه ده چې په مستقیم ډول له لومړنیو سرچینو څخه ترلاسه شوي دي. هغه قضیې چې د شته محدودیتونو او ننګونو له امله یې د اعتبار په اړه د کافي شواهدو تایید یا لاسرسی ممکن نه و په راپور کې نه دي راوړل شوې.

ترلاسه شوي معلومات د کیفي او پرتلیز تحلیلي میتود په کارولو سره ارزول شوي، او په ۲۰۲۵ کال کې ثبت شوې پېښې د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو له معلوماتو سره پرتله او ارزول شوي دي. دا کار د بشري حقونو د سرغړونو د مهمو بڼو، د ثبت شویو سرغړونو د ډول او ماهیت، او همدارنګه د قربانیانو او هدف ګرځېدلو ډلو د ځانګړنو د روښانه انځور  وړاندې کولو په موخه ترسره شوی دی.

خو له دې سره سره، د معلوماتو د لاسرسي په برخه کې د منظمـو محدودیتونو او د بشري حقونو د سرغړونو د مستندولو په بهیر کې د شته خنډونو په پام کې نیولو سره، د ارقامو هغه کموالی چې د دې راپور په ځینو برخو کې یاد شوی، خامخا د وضعیت د ښه کېدو معنا نه لري؛ بلکې کېدای شي د لګول شویو محدودیتونو او د معلوماتو د راټولولو او کره والي د ازمویلو په بهیر کې د موجودو ننګونو انعکاس وي.

د راپور لومړۍ برخه د مدني او سیاسي حقونو د وضعیت ارزونې ته وقف شوې ده، او وروستې برخې د ښځو او زیان منونکو قومي او مذهبي ډلو د بشري حقونو وضعیت څېړي. دا چې رواداري د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمایي کې د بشري حقونو د وضعیت راپور مخکې له مخکې خپور کړی دی، نو د دې راپور په بېلابېلو برخو کې تشریح شوې بېلګې او مثالونه تر ډېره د کال په دویمه نیمایي کې ثبت شوي موارد رانغاړي.

1 هرات، نیمروز، فراه، غور، دایکندي، خوست، پکتیا، پکتیکا، کابل، پروان، پنجشېر، میدان وردګ، سمنګان، غزني، بدخشان، تخار، ننګرهار، کنړ، کندهار، ارزګان، زابل، هلمند، بامیان، لوګر، فاریاب، بلخ، جوزجان، نورستان، لغمان او سرپل.

## اطلاعاتو ته د لاسرسي محدودیتونه

د دې راپور د موندنو له مخې، په افغانستان کې واکمنو چارواکو نه یوازې د بیان د آزادۍ او معلوماتو ته د لاسرسي په حق کې د پخوانیو محدودیتونو پلي کولو ته دوام ورکړی، بلکې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې یې نور محدودونکي تدابیر او اقدامات هم پلي کړي دي. لاس ته راغلي شواهد ښيي چې د طالبانو د استخباراتو، امر بالمعروف او اطلاعات او کلتور ادارو آن د ټولنیزو شبکو د کاروونکو فعالیتونه هم څارلي، او په ګڼو مواردو کې یې پر هغو کسانو فشار راوړی، ګواښلي، نیولي، او شکنجه کړي یې دي او ناوړه چلند یې ورسره کړی، چې د بشري حقونو د سرغړونو اړوند د معلوماتو په خپرولو کې یې فعالیت درلود.

همدارنګه، د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د بشري حقونو مدافعین، خبریالان او سیمه ییزې رسنۍ د اطلاعات و فرهنګ وزارت له لیکلې اجازې پرته نشي کولی د امنیتي پیښو، د حاکمو مقاماتو د کم کاریو او په ځانګړې توګه د بشري حقونو د نقض د مواردو په اړه معلومات راټول او خپاره کړي. لکه څنګه چې رواداري د ۲۰۲۵ کال په جریان کې ځینې موارد مستند کړي، دا ښيي چې طالبانو هغه د بشري حقونو مدافعان او خبریالان چې د دې لارښوونې پر خلاف یې عمل کړی، د «بهرنیانو لپاره د جاسوسۍ» یا «د نظام پر ضد د تبلیغ» په تور نیولي او شکنجه کړي دي. دغه وضعیت د پراخې ځان‌سانسورۍ لامل شوی او په هېواد کې د بشري حقونو د سرغړونو د ځینو پېښو د پټ پاتې کېدو لامل ګرځېدلی، او همدارنګه یې د بشر حقونو د مدافعانو او خبریالانو پر ازادۍ او شخصي امنیت مستقیم اغېز کړی دی. لکه څنګه چې د ۲۰۲۵ کال په بهیر کې یو شمېر خبریالان د خپلې استوګنې د ځای پرېښودو ته اړ شوي او نورو ولایتونو ته کډه شوي دي.

له بلې خوا، د قربانیانو او د هغوی د کورنیو غړو، عیني شاهدانو او د معلوماتو د نورو باخبره سیمه ییزو سرچینو پر وړاندې ګواښونه او فشارونه دوام لري. د شکنجې، جبري ترې تم کېدو، او د هدفي او له محاکمې پرته وژنو په ګڼون د بشري حقونو د لویو سرغړونو په اړه طالبانو په مستقیم ډول د قربانیانو د کورنیو غړو او خپلوانو ته ګواښ کړی چې په دې اړوند د هر ډول معلوماتو له ورکولو ډډه وکړي. داسې راپورونه هم شته چې د غیرقانوني او مشکوکو وژنو په ځینو قضیو کې، طالبانو د قربانیانو کورنیو ته ویلي چې له رسنیو سره د درواغو او له واقعیت نه لرې روایتونه شریک کړي.

ترلاسه شوي معلومات ښيي چې طالبان له ټولو بندیانو څخه غواړي، په ځانګړې توګه هغه کسان چې د توقیف په جریان کې د شکنجې یا نورو ناوړه چلندونو سره مخ شوي دي، ژمنه وکړي چې په توقیف ځایونو کې د خپلو تجربو یا مشاهدو په اړه له هیڅ شخص یا ادارې سره خبرې ونه کړي؛ هغه وضعیت چې مستقیمو او آزادو شاهدیو ته لاسرسی یې په جدي توګه محدود کړی او د دې اشخاصو پر وړاندې د غچ اخیستنې خطر یې زیات کړی دی. سربېره پر دې، د بشري حقونو سازمانونه او خپلواکې څارونکې ادارې زندانونو او توقیف ځایونو ته لاسرسی نلري، او د دې مرکزونو مسؤلین رسنیو، د بشري حقونو سازمانونو او نورو اشخاصو ته د هر ډول معلوماتو له ورکولو څخه په کلکه منعه شوي دي.

په ورته وخت کې، د واکمنو چارواکو تر کنټرول لاندې ټولې اداري د باصلاحیته مراجعو له مخکینۍ اجازې پرته له رسنیو یا نورو اشخاصو سره د معلوماتو له شریکولو څخه منعه شوي دي. راپورونه ښيي چې د جنوب لویدیځې حوزې په ګډون په ځینو سیمو کې، د دولتي کارمندانو لخوا په کامرو سمبال ځیرک ټلفونونه کارول، او همدارنګه د مرکې ترسره کول یا په جلاوطنۍ کې د فعالیت کونکو رسنیو سره هر ډول همکاري په کلکه منعه شوې ده.

په دې برخه کې، په پروان او ننګرهار ولایتونو کې د طالبانو د اطلاعات او کلتور ریاست سیمه ییزو رسنیو او خبریالانو ته خبرداری ورکړی چې که دوی له هیواده بهر فعالو رسنیو سره هر ډول همکاري وکړي، نو د استخباراتي ادارې لخوا به ونیول شي او بندیان به شي.

له یادو شویو محدودیتونو سره هممهاله، د «امر بالمعروف او نهی عن المنکر» د قانون پلي کېدل هم د هیوادوالو ترمنځ په عمومي فضا کې د وېرې د لا پراخېدو او د بشري حقونو د سرغړونو اړوند د پام وړ معلوماتو او شواهدو د پټ پاتې کېدو لامل شوی. دغه قانون د نامحرم نارینه سره د ښځو د خبرو کولو منع، د ښځو د غږ او انځورونو منع «ژوندي موجوداتو»، همدارنګه رسنۍ یې د هر ډول مطالبو خپرولو چې د طالبانو د قوانینو او لارښوونو خلاف وي او یا چې «د مسلمانانو د سپکیدو او توهین» باعث ګرځي په جدي توګه منع کړي دي.

د ۲۰۲۵ کال په سپټامبر میاشت کې د انټرنټ بشپړ بندول هم د همدې سیاستونو پر دوام او د اطلاعاتو پر بهیر د پراخو محدودیتونو لګولو په موخه ترسره شوي ؤ، نو ویلای شو چې طالبانو په ۲۰۲۵ کال کې د معلوماتو د کنټرول او د بشري حقونو د سرغړونو د افشا کیدو د مخنیوي لپاره منظم اقدامات کړي دي؛ هغه وضعیت چې له یوې خوا یې عدالت او د جبران میکانیزمونو ته د قربانیانو لاسرسی محدود کړی، او له بلې خوا، د پراخې ځان سانسورۍ او د معلوماتو چمتو کولو څخه د ځینو سرچینو د انکار لامل شوی دی. په هرصورت، د دې راپور موندنې ممکن په ۲۰۲۵ کال کې د بشري حقونو د سرغړونو ټول اړخونه په بشپړه توګه منعکس نه کړي.

لومړۍ برخه

# د مـــدني او سيـــاسي حقونو وضعيــت



مدني او سیاسي حقوق د انسانانو له بنسټي بشري حقونو څخه شمېرل کېږي، چې د بشري حقونو په نړیوالو اسنادو کې، لکه د مدني او سیاسي حقونو په نړیوال میثاق،[2] د شکنجې د مخنیوي په نړیوال کنوانسیون[3] او د بشري حقونو په نړیواله اعلامیه[4] کې، په رسمیت پېژندل شوي دي. د یادو شویو اسنادو پر بنسټ، غړي دولتونه دنده لري چې له دغو حقونو څخه د ملاتړ تر څنګ، د خپلو خلکو لپاره له دې حقونو څخه د بشپړې ګټې اخیستنې شرایط هم برابر کړي.[5] خو سره له دې، د ترلاسه شویو شواهدو او معلوماتو پر بنسټ، د مدني او سیاسي حقونو د سرغړونو ګڼ موارد، لکه له محاکمې پرته وژنې، جبري تري تم کول، خپلسرې نیونې، شکنجه او د ناوړه چلند نور ډولونه، او همدارنګه ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکې سزاوې، په ۲۰۲۵ کال کې زیات شوي دي.

## د ژوند د حق نقض

د ژوند حق د هغو نه ځنډېدونکو حقونو له ډلې څخه شمېرل کېږي چې دولتونه تر هېڅ شرایطو لاندې، ان د جګړې، وسلهوالو نښتو یا نورو عامه بېړنیو حالاتو پر مهال هم، د هغه د ځنډولو اجازه نه لري. د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق د ژوند حق د وګړو د نه تعلیق کېدونکو حقونو په توګه په رسمیت پېژندلی دی.[6]

د دې راپور موندنې ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې به لږ تر لږه ۱۱۵۴ تنه د هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونو، د پاکستاني پوځي ځواکونو د هوایي بریدونو، د ماینونو او مهماتو د چاودنو له امله چې د تېرو جګړو له امله پاتې شوي او یا په هدفي، مرموز ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپيان شوي دي.[7] له دې جملې څخه ۶۱۷ تنه ووژل شوي او ۵۳۷ نور ټپيان شوي دي. په مړو کې ۴۷۳ نارینه، ۵۳ ښځې، او ۹۱ ماشومان شامل دي. همدا راز، په ټپيانو کې ۴۰۵ نارینه، ۵۶ ښځې او ۷۶ ماشومان دي. په قربانیانو کې پخواني حکومتي کارمندان او د هغوی د کورنۍ غړي، خبریالان او د مدني ټولنې فعالان، لاریون کوونکي، ښځې، ماشومان، قومي مشران او هغه اشخاص شامل دي چې د طالبانو مخالفو ډلو سره د اړیکو په تور تورن دي.

په ۲۰۲۴ کال کې، رواداري د ژوند د حق څخه ټولټال ۷۶۷ سرغړونې ثبت کړې وې.[8] د شمېرو پرتله ښيي چې د ژوند د حق د سرغړونې کچه د راپور په دې دوره کې شاوخوا ۵۰.۴ سلنه زیاته شوې ده. همدا رنګه، دا شمېره د ۲۰۲۳ کال د معلوماتو په پرتله، چې ۷۷۲ قضیې وې، ۴۹.۴٪ زیاتوالی ښيي.[9]

د افغانستان پر ځینو برخو د پاکستان د نظامي بریدونو له امله ملکي وګړو مرګ ژوبله د راپور په دې دوره کې د ژوند د حق د نقض خورا مهم عامل ګڼل کیږي چې په ورپسې کرښو به تشریح شي.

پر افغانستان د پاکستاني ځواکونو د نظامي بریدونو له امله د ملکي وګړو تلفات د دې دورې راپور د ژوند حق تر ټولو لوی لامل ؤ، چې په راتلونکي کې به توضیح ورکړل شي.

2 د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، (د ډسمبر ۱۶مه، ۱۹۶۶)، ۶، ۹، ۱۰ او ۲۱ مواد.

3 د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د مخنیوي لپاره بین المللي کنوانسیون، (د ډسمبر ۱۰مه، ۱۹۸۴)، لومړۍ ماده.

4 د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، (د ډسمبر ۱۰مه، ۱۹۴۸)، ۳، ۵، ۹ او ۲۰ مادې.


5 د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، دویمه ماده

6 هماغه سرچینه، ۶مه ماده.

7 د حقونو د سرغړونې د قضیو شمېرې چې د ژوند حق پورې اړوند دي او په‌هرات، نیمروز، بادغیس، غور، فراه، خوست، پکتیا، پکتیکا، کابل، پروان، پنجشیر، میدان وردک، کاپیسا، غزني، بدخشان، کندز، تخار، فاریاب، سمنګان، بغلان، ننګرهار، کونړ، نورستان، کندهار، ارزګان، زابل، هلمند، لوګر، بلخ او جوزجان ولایتونو کې پېښې شوې دي.

8 . رواداري، په ۲۰۲۴ کال کې د بشري حقونو وضعیت، د ۲۰۲۵ کال مارچ، مخ ۷
https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/04/RW_Annual_Report_Human_Rights_Report_2025_Pashto.pdf

9 . رواداري، په ۲۰۲۳ کال کې د بشري حقونو وضعیت، د ۲۰۲۴ کال مارچ، مخ ۴. https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/03/RW_Annual_Report_2023_Pashto.pdf




## ۱. د پاکستان د نظامي ځواکونو د هوايي بريدونو له امله رامنځته شوي مرګ ژوبله

يو له هغو مهمو عواملو څخه چې په ۲۰۲۵ کال کې د ملکي مرګ ژوبلې په زياتوالي اغيزه کوي د طالبانو د پوځي ځواکونو او پاکستاني پوځي ځواکونو ترمنځ پر کرښه د وسله والو شخړو زياتوالی او د کندهار، هلمند، پکتيا، پکتيکا او خوست ولايتونو پر ځينو برخو د دې هيواد هوايي بريدونه دي.

ترلاسه شوي معلومات ښيي چې دغو بريدونو د نړيوال بشرپال قانون بنسټيز اصول لکه د تفکيک، تناسب او احتياط اصول نقض کړي دي، چې په پايله کې يې د ماشومانو او ښځو په ګډون پراخه ملکي مرګ ژوبله رامنځته کړې، او عامه ځايونه او د استوګنې ودانۍ يې ويجاړې کړې دي.

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، پر کرښه د نښتو او د پاکستاني ځواکونو له خوا د هوايي بريدونو له امله په کندهار، هلمند، پکتيا، پکتيکا او خوست ولايتونو کې لږ تر لږه ۳۲۴ ملکي وګړي وژل شوي او ټپيان شوي دي. له دې جملې څخه، ۹۰ تنه، چې ۵۷ نارينه، ۱۳ ښځې او ۲۰ ماشومان پکې شامل دي، وژل شوي، او ۲۳۴ کسان، چې ۱۷۷ نارينه، ۳۵ ښځې او ۲۲ ماشومان پکې شامل دي، ټپيان شوي دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) هم په يوه راپور کې اعلان کړی، چې د ۲۰۲۵ کال په وروستيو دريو مياشتو سپټمبر، اکتوبر او ډسامبر کې د پاکستاني ځواکونو له لورې د کندهار پر سپين بولدک او د هلمند ځينو سيمو کې د هوايي بريدونو له امله لږ تر لږه د ۲۷۰ ملکي وګړي وژل شوي او ټپيان شوي دي. چې له دې ډلې ۵۷ وژل شوي او ۲۱۳ تنه ټپيان شوي دي. او.[10]

سره له دې، د روادارۍ موندنې ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په سپتامبر، اکتوبر او دسمبر مياشتو کې، د کندهار ولايت په سپين بولدک ولسوالۍ او د هلمند ولايت په ځينو سيمو کې د پاکستاني نظامي ځواکونو د هوايي بريدونو

10 . په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی، د پولې په اوږدو کې ملکي مرګ ژوبله، د ۲۰۲۵ کال اکتوبر - ډسمبر، ۲۰۲۶ فبروري، مخ ۲.
https://unama.unmissions.org/prs/document-library/tlfat-mlky-dr-amtdad-srhd-dr-afghanstan-aktwbr-dsmbr-2025

په پایله کې لږ تر لږه ۲۶۲ کسان وژل شوي او ټپیان شوي دي، چې له دې جملې څخه ۲۱۰ تنه وژل شوي او ۵۲ نور ټپیان شوي دي. همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست په ۲۷مه، سهار شاوخوا لس بجې، د پاکستان پوځي ځواکونو د خوست ولایت په «سپېره» ولسوالۍ کې د استوګنې یو کور په هوایي برید کې په نښه کړ، چې د یوې کورنۍ ۷ غړو ته یې مرګ ژوبله واړوله. په وژل شویو کې ۳ ماشومان او په ټپیانو کې ۳ ښځې او یو نارینه شامل دي.

**د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۱۷مه، پاکستاني پوځي ځواکونو د پکتیکا ولایت په برمل او ارګون ولسوالیو کې څلور هوایي بریدونه وکړل، چې د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، لږ تر لږه ۸ ملکي وګړي ووژل شول، چې ۳ د کرکټ لوبغاړي یې ووژل او ۷ تنه نور ټپیان شول. لومړی بم د ارګون ولسوالۍ په بازار کې ولګېد، او دویم برید د استوګنې یوه ودانۍ په نښه کړه. کله چې ځایي اوسېدونکي له قربانیانو سره د مرستې لپاره راټول شوي ؤ، دریم برید وشو چې په پایله کې یې نوره مرګ ژوبله رامنځته شوه. خو پاکستاني چارواکو اعلان وکړ چې د دې بریدونو موخه د تحریک طالبان پاکستان جنګیالي ؤ، او په دې بریدونو کې یې د هغوی ۷۰ تنه وژلي دي.**

سربېره پر دې، د نومبر پر ۲۵مه، ۲۰۲۵ د شپې شاوخوا ۱۲بجې، د خوست ولایت د ګربز ولسوالۍ په «مغولګي» کلي کې د پاکستاني ځواکونو یوې نظامي الوتکې د استوګنې پر یوه کور بمباري وکړ، چې له امله یې د کورنۍ ټول غړي ووژل شول. په مړو کې ۹ ماشومان او یوه ښځه شامله وه، او د دې کورنۍ درې نور غړي ټپیان شوي دي. یوه ځایي اوسېدونکي د پېښې په اړه وویل چې:

**«کله چې موږ د چاودنې غږ واورېد، له لرې څخه مو د ماشومانو چیغې او فریاد اورېده. ټول کلیوال د وېرې او ډار په حالت کې ؤ. کله چې موږ د پیښې ځای ته ورسېدو، کور له خاورو سره خاورې شوی و، او د لوګي او بارودو په منځ کې د مړو جسدونه په سمه توګه نه پېژندل کېدل.»**


## ۲. د هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونو له امله ملکي مرګ ژوبله

د دې راپور د موندنو له مخې، په ۲۰۲۵ کال کې، په کندوز، بلخ، پکتیکا، کونړ، ننګرهار او نورستان ولایتونو کې د هدفي ځانمرګو او انفجاري بریدونو په پایله کې لږ تر لږه ۵۵ تنه وژل شوي او ټپیان شوي دي. له دې جملې څخه ۱۱ تنه مړه او ۴۴ نور ټپیان شوي دي. په وژل شویو کې ۱۰ نارینه او یوه ښځه شامله ده، او ټول ۴۴ تنه ټپیان نارینه دي.

په ۲۰۲۴ کال کې رواداري د ملکي وګړو د ژوند د حق شاوخوا ۱۷۱ سرغړونې ثبت کړې دي چې د هدفي ځانمرګو او انفجاري بریدونو له امله پېښې شوي وې.[11] د دواړو شمېرو پرتله ښیي چې د راپور په دې موده کې د هدفي ځانمرګو او انفجاري بریدونو له امله د ملکي مرګ ژوبلې کچه شاوخوا ۶۷.۸ سلنه کمه شوې ده. دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال د ثبت شویو معلوماتو په پرتله چې ۲۳۷ پېښې وې، څلور چنده کموالی ښیي.[12]

11 . رواداري، د بشري حقونو د وضعیت رپوټ ۲۰۲۴، مخ ۷.
12 . رواداري، د بشري حقونو رپوټ ۲۰۲۳، مخ ۵.

دا ټول بریدونه د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ترسره شوي، چې د هیواد په بېلابېلو برخو کې یې ملکي مرګ ژوبله اړولې ده. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ پر ۱۵مه نېټه، په بلخ ولایت کې د پلور په یو لاسي ګاډي کې د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو د چاودنې له امله، لږ تر لږه ۲ تنه ملکي وګړي ووژل شول او ۶ نور ټپیان شول. تر اوسه کوم چا یا کومې ډلې د چاودنې مسؤلیت نه دی منلی.





همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اپریل پر ۱۴مه نېټه، د مزار شریف په «سه دکان» سیمه کې د شیعه ګانو جومات ته نږدې د یوې بلې چاودنې په پایله کې لږ تر لږه درې کسان ووژل شول، چې یوه ښځه هم پکې شامله وه او ۶ تنه نارینه پکې ټپیان شول. د دې پېښې مسؤلیت کوم چا یا کومې ډلې نه دی منلی.

## ۳. د ماینونو او ناچاودو توکو له امله ملکي مرګ ژوبله

په ۲۰۲۵ کال کې، لږ تر لږه ۱۶۴ کسان د ځای پر ځای شویو ماینونو، سرګلولو او له تېرو جګړو څخه پاتې نورو چاودېدونکو توکو د چاودنو له امله وژل شوي او ټپیان شوي دي. له دې څخه ۷۹ تنه، چې پکې ۳۰ نارینه، ۶ ښځې او ۴۳ ماشومان شامل دي، وژل شوي او ۸۵ نور، چې ۴۷ ماشومان، ۳۲ نارینه او ۶ ښځې پکې شاملې دي، ټپیان شوي دي. دې شمېرو د ۲۰۲۴ کال په پرتله چې ۱۶۲ پېښې وې[13]، ۱.۲فیصده زیاتوالي موندلی دی. همدا راز، دا شمېره د ۲۰۲۳ کال په پرتله چې ۱۰۷ قضیې وې، شاوخوا ٪۵۳.۲ زیاتوالی هم ښیي. ثبت شوې پېښې په عمده توګه په کلیو او د هیواد په هغو برخو کې رامنځته شوې دي چې پخوا د وسله والو شخړو ځایونه وُ.

**په دې برخه کې د دریو کلونو د شمېرو پرتله ښیي چې په ماینونو او ناچاودو توکو د ککړو سیمو د پاکولو لپاره اغېزناک او کافي اقدامات نه دي شوي، او دا ګواښ لاهم د ملکي وګړو، په ځانګړې توګه د ماشومانو ژوند په جدي توګه له خطر سره مخ کوي.**

13 . رواداري، په ۲۰۲۴ کال کې د بشر حقونو وضعیت، مخ ۸.




د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۵مه، د هرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ یو ۳۵ کلن سړی د جګړې څخه د پاتې شوي ماین په پایله کې ومړ. په ورته ډول، د ۲۰۲۵ کال په نوامبر میاشت کې، د کندهار ولایت د خاکرېز ولسوالۍ په دره سیمه کې د ځای پر ځای شوي ماین د یو موټر د برابرېدو په پېښه کې ۲ تنه نارینه ووژل شول او ۴ نور ټپیان شول. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې دا پېښه پر یو عام سړک رامنځته شوې ده.

د ۲۰۲۵ کال د نوامبر پر ۲۴مه، په بدخشان په ولایت کې د یو ماین د چاودنې له امله ۲ کسان ووژل شول او ۷ نور ټپیان شول. د طالبانو د پولیسو د قوماندانۍ د یوې مطبوعاتي اعلامیې له مخې، په قربانیانو کې نارینه، ښځې او ماشومان شامل دي. سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د نوامبر پر ۲۶مه، د بلخ ولایت په نهر شاهي ولسوالۍ کې د ماین چاودنې ۳ ماشومان ووژل او ۲ نور یې ټپیان کړل.

همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۷مه نېټه د لاسي بم په چاودنه کې په فراه ولایت کې درې ماشومان ووژل شول. په همدې ولایت کې په یوه بله پیښه کې، د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر پر ۱۰مه، د بالابلوک په ولسوالۍ کې د استوګنې په یو کور کې د چاودنې له امله د یوې کورنۍ پنځه غړي ووژل شول، چې په کې یو پلار، مور او دوه ماشومان شامل ؤ.

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۱۲مه، د ارزګان ولایت د چارچینو ولسوالۍ په شېرخاني کلي کې د هاوان یوه مرمۍ وچاودېده چې درې وروڼه یې ووژل. همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر پر لومړۍ نېټه، د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې د یو لاسي بم د چاودنې له امله یو ځوان هلک ووژل شو. دا پېښه د قره باغ ولسوالۍ په باران کلا سیمه کې هغه وخت رامنځته شوه چې دې کس لاسي بم پر ځمکه وواهه او وچاودېد.

**سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۲۳مه، د میدان وردګو ولایت د چک ولسوالۍ په «لور خوات» کلي کې د یوې زړې هاوان مرمۍ د چاودنې له امله یو ۱۵ کلن زده کوونکی ووژل شو او څلور نور ماشومان چې عمرونه یې د ۱۲ او ۱۶ کلونو ترمنځ ؤ ټپیان شول. دا پېښه هغه مهال رامنځته شوه کله چې د ښوونځي زده کوونکو د هاوان سرګلولې سره لوبې کولې.**


پورته يادې قضيې ښيي چې په ماينونو او ناچاودو توکو د هيواد د ډېرو برخو ککړتيا لا هم د ملکي وګړو، په ځانګړې توګه د ماشومانو امنيت او ژوند ته جدي ګواښ ګڼل کيږي. هالوټرسټ (The HALOTRUST) په يو راپور کې ويلي چې په افغانستان کې ۶.۴ ميليونه خلک د ناچاودو توکو له خطر سره مخ دي، او ماشومان د دې چاودنو د قربانيانو او ټپيانو ۸۰ سلنه جوړوي.[14]

## ۴. هدفي، مشکوک او له محاکمې پرته وژنې

د دې راپور د معلوماتو له مخې، په ۲۰۲۵ کال کې، لږ تر لږه ۶۱۱ تنه، چې ۵۲۸ نارينه، ۴۸ ښځې او ۳۵ ماشومان پکې شامل دي، د طالبانو او نامعلومو کسانو له خوا په هدفي، مرموز ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپيان شوي دي. دغه شمېرې د ۲۰۲۴ کال په پرتله، چې ۴۳۵ پېښې وې، شاوخوا ۴۰.۴ سلنه زياتوالی ښيي.[15] همدا راز، دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال د ثبت شويو معلوماتو په پرتله چې ۴۲۸ پېښې وې، شاوخوا ۴۲.۷٪ فيصده زياتوالی ښيي.

د ترلاسه شويو شواهدو پر بنسټ، په نښه شويو کسانو کې په ټوليزه توګه پخواني دولتي کارمندان، هغه کسان چې د طالبانو ضد ډلو کې د غړيتوب يا همکارۍ په تور تورن ؤ، لاريون کوونکي، قومي مشران او سيمه ييز نفوذ لرونکي شخصيتونه شامل ؤ. په قربانيانو کې يو شمېر هغه کسان هم شامل دي چې پخوا يې له طالبانو سره شخصي دښمني درلوده.

د دې خلکو د وژلو لپاره کارول شوې طريقې په ډزو وژل، د سرې وسلې کارول، سر پرې کول او اور اچول شامل ؤ. همدارنګه، يو شمېر يې له وژل کېدو مخکې تښتول شوي، نيول شوي، ګواښل شوي، يا ترې پوښتنې ګروېږنې شوې دي، او ځينې يې له خوشې کيدو وروسته په مشکوک ډول وژل شوي دي.




14 . هولوټرسټ بنسټ، «په هرو پنځو افغانانو کې يو يې د ځمکنيو ماينونو او چاوديدونکو توکو له خطر سره مخ دی» د جون ۱۰مه، ۲۰۲۵، https://www.halotrust.org/news/one-in-five-afghans-at-risk-of-landmines-and-explosives/

15 . رواداري، په ۲۰۲۴ کال کې د بشر حقونو د وضعيت رپوټ، مخ ۹.

په دې برخه کې د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو له ثبت شویو معلوماتو سره پرتله د شمېرو د پام وړ زیاتوالی، دا ښيي چې د افغانستان د وګړو ځینې مشخصې ډلې، لکه د پخواني حکومت کارکوونکي او نور منتقد یا مخالف کسان، لا هم په هدفي ډول او د غچ اخیستنې په انګېزه د مشکوکو او له محاکمې پرته وژنو له ګواښ سره مخ دي. سره له دې، له ځواب ورکولو څخه د مجرمینو دوامدار معافیت، چې په راتلونکو برخو کې به په تفصیل سره وڅېړل شي، د داسې کړنو د دوام خطر زیات کړی دی.

## له محاکمې پرته د وژنو د مستندولو محدودیتونه

په افغانستان کې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې هدفي، مشکوکې او له محاکمې پرته وژنې د ژوند د حق د نقض تر ټولو پیچلې بڼې دي. د دې قضیو پیچلتیا له یوې خوا نامعلومو اشخاصو یا ډلو ته د دې وژنو د منسوبولو له امله ده، او له بلې خوا د واکمنو چارواکو لخوا د اړوندو معلوماتو د کتمان یا پټولو لپاره سیستماتیکې هڅې دي.

شواهد ښيي چې طالبان د ګواښونو، ډارولو او فشار له لارې د قربانیانو کورنیو او نورو سیمه ییزو سرچینو ته اجازه نه ورکوي چې د دې پېښو د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړي. له همدې امله، له محاکمې پرته د وژنو مستندول، په ځانګړې توګه په ښارونو او ولایتي مرکزونو کې، له جدي ستونزو سره مخ شوي او په ځینو مواردو کې په عملي توګه ناممکن شوي دي. په یو شمېر کلیو او لرې پرتو سیمو کې، که څه هم په ځینو مواردو کې د ویرې او مستقیمې څارنې کچه ټیټه راپور شوې ده خو د مخابراتي خدماتو د نشتوالي، محدودیتونو او نورو خنډونو له امله قربانیانو او عیني شاهدانو ته لاسرسی له پام وړ ننګونو سره مخ دی.

د دې راپور د موندنو له مخې، د قربانیانو خپلوان او عیني شاهدان د استخباراتي ادارې لخوا تر څارنې لاندې دي او د غچ اخیستنې له وېرې د دې پېښو په اړه د معلوماتو ورکولو یا تبصرې کولو څخه ډډه کوي. سربېره پر دې، رواداري په ځینو سیمو کې داسې قضیې مستندې کړې دي چې ښيي طالبانو له دې اشخاصو څخه غوښتي چې یا په بشپړه توګه چوپ پاتې شي یا د دوی له روایت سره سم تحریف شوي داستانونه خلکو او رسنیو ته وړاندې کړي.

له بلې خوا، د دغه ډول پېښو د خپرولو د مخنیوي په موخه، پر رسنیو او خبریالانو د ګواښ او فشار لړۍ هم دوام لري. د بېلګې په توګه،

**د ډسمبر پر ۲۳مه، د کندهار ولایت یو اوسیدونکی د نامعلومو وسله والو کسانو لخوا چې په موټرسایکل سپاره ؤ، ووژل شو. د دې راپور د لیکلو تر وخته، هیڅوک نه دی نیول شوی؛ خو د طالبانو امنیتي ادارو له یوې سیمه ییزې رسنۍ سره د پیښې تایید کړی دی، او ټینګار یې کړی چې دې رسنۍ اړوند راپور په اصطلاح په ګنګ او مبهم ډول خپور کړی، او د تفصیلي جزئیاتو له ورکولو څخه یې ډډه کړې ده.**

د طالبانو د واک ته رسیدو په لومړیو میاشتو کې، سیمه ییزو رسنیو، د مدني ټولنې فعالینو او د بشري حقونو مدافعینو د دې پېښو په مستندولو او پوښښ کې مهم نقش لوباوه. خو اوس مهال، لکه څنګه چې یادونه وشوه، د رسنیو او مدني فعالیتونو لپاره فضا خورا محدوده شوې ده.

د پورته ذکر شویو مواردو سربیره، په یو شمېر ولایتونو کې په هغو قضیو کې چې په داسې وژنو کې د طالبانو د ښکېلتیا د پام وړ نښې نښانې موجودې وې، د قربانیانو جسدونه نظامي روغتونونو ته لیږدول شوي او طالبان د سختو امنیتي تدابیرو په نیولو سره د قربانیانو د هویت او د پېښو د رامنځته کېدو په اړه معلوماتو ته د لاسرسي مخه نیسي. په ورته ډول، د دې راپور موندنې ښيي چې نور روغتونونه او روغتیایی مرکزونه هم د قربانیانو د هویت یا د دې پېښو د جزیاتو په اړه رسنیو او خبریالانو ته د معلوماتو ورکولو یا خپرولو څخه منعه شوي دي.[16] د هیواد په جنوب لویدیځه سیمه کې، ډېری دا وژنې د روغتونونو لخوا نه ثبت کیږي. د دې محدودیتونو له امله، د ۲۰۲۵ کال په بهیر کې، رواداري بنسټ په دې برخه کې و نه توانید چې د یو شمیر قربانیانو د دقیق هویت په اړه کافي شواهد ترلاسه کړي او په بشپړ ډول یې مستند کړي.

بل د پام وړ ټکی هغه طریقې دي چې په داسې وژنو کې کارول کیږي. په تیرو کلونو کې، هغه خلک چې په نښه کېدل، ځینې وختونه یوازې ټپیان کېدل یا له مرګ څخه بچ کېدل؛ خو په ۲۰۲۵ کال کې دا وژنې ډېرې منظمې شوې او په ډېرو ظالمانه طریقو سره ترسره شوېدي. د بېلګې په توګه، په جنوب لویدیځه حوزه کې، مرتکبینو لومړی قربانیان تښتولي، او له وژلو وروسته یې د هغوی مړي په لرې ځایونو کې غورځولي دي. په ځینو مواردو کې، حتا د قربانیانو سرونه پرې شوي یا اور وراچول شوی.

خو، په هغو قضیو کې چې د پخوانیو حکومتي کارمندانو او هغو اشخاصو د وژنې په اړه دي چې د مخالفو ډلو د غړیتوب یا همکارۍ په تور تورن دي، باوري شواهد د طالبانو ښکیلتیا ته اشاره کوي. طالبانو د بېلابېلو طریقو او تاکتیکونو په کارولو سره او د غچ اخیستنې په انګیزه دغه افراد وژلي، چې د دې راپور په راتلونکو برخو کې به په تفصیل سره وڅیړل شي.

## د طالبانو لخوا د هدفي، مرموزو او غیرقانوني وژنو د عاملینو د محاکمې لپاره اقدامات

د بشري حقونو په نړیوالو اسنادو کې د راغلیو احکامو او مقرراتو پر بنسټ، د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د دویمې او شپږمې مادې په ګډون، حکومتونه مکلف دي چې نه یوازې د ژوند د حق د نقض او د افرادو د خپلسرو وژنو مخه ونیسي، بلکې په اغېزناکه، بې پرې او خپلواکه توګه د ترسره شویو پېښو پلټنه وکړي او مرتکبین مسؤل وګرځوي.[17] له داسې مسؤلیت څخه انکار کول د معافیت فرهنګ د بنسټیز کېدو او د بشري حقونو د نقض د دوام لامل کیږي.

سره له دې، طالبان پر افغانستان د واکمنو چارواکو په توګه د حقوقي پلوه د هیوادوالو د ساتنې، د قانون پلي کولو او د عدالت د ټینګښت مسئولیت لري، خو په تیرو څلورو کلونو کې، طالبانو د هدفي، مشکوکو او له محاکمې پرته وژنو د عاملینو د تعقیب او سزا ورکولو لپاره هیڅ شفاف اقدام نه دی کړی، او نه یې هم خلکو ته د خپلو اجرآتو په اړه معلومات ورکړي دي. له همدې امله، دا قضیې پرته له هر ډول قانوني اجرااتو پر ځای پاتې دي؛ چې له یوې خوا د غچ اخستنې او د پرله پسې تاوتریخوالي د دوام لامل شوی، او له بلې خوا یې عدالت ته د قربانیانو د کورنیو د لاسرسي حق تر پښو لاندې کړی دی.

16 . رواداري، د بشري حقونو وضعیت ۲۰۲۴ کال، مخ ۹.

17 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق.۲ او ۶ مواد.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې د هدفي، مشکوکو او له محاکمې پرته وژنو له ۶۱۱ قضیو څخه، طالبانو یوازې په هلمند، کندهار، بامیان او هرات ولایتونو کې ۴ کسان نیولي دي، چې د دې کسانو د محاکمه کولو او سزا ورکولو په اړه هیڅ معلومات نشته.


طالبان د پخوانیو حکومتي چارواکو، قومي مشرانو او د خپلو سیاسي او فکري مخالفینو د وژنو پېړه پر نامعلومو وسله والو کسانو وراچوي، او د دې پېښو له رامنځته کیدو وروسته، دوی د عاملینو د تعقیب او سزا ورکولو په اړه خبري کوي؛ خو، شواهد ښيي چې د وخت په تېرېدو سره، په دې اړه هیڅ اقدام نه کیږي، او نه یوازې هیڅ تحقیق نه کوي، بلکې طالبان د هر ډول څېړنې، معلوماتو راټولولو او د رسنیو یا نورو کسانو له خوا د راپور برابرولو مخه هم نیسي او په بېلابېلو طریقو د قربانیانو پر کورنیو فشار راوړي چې له هر ډول عدالت غوښتنې څخه تېر شي.

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، په داسې وژنو کې د طالبانو د استخباراتو د لاس لرلو په اړه معتبر شواهد شته، او حتا په هغو قضیو کې چې خلکو هڅه کړې دا پېښې مستندې کړي او په اړه یې معلومات ورکړي، دوی سمدلاسه د طالبانو لخوا نیول شوي او بندیان شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې هغوی د هغو وژنو په اړه، چې د شخصي دښمنیو، کورنیو شخړو، د ځمکې پر سر لانجو او نورو ورته مواردو له امله رامنځته کېږي، سمدستي اقدام او رسیدګي کوي.

د دې قضیو د قانوني او اغېزناک حل نشتوالی، سربېره پر دې چې د طالبانو لخوا د خلکو د امنیت او خوندیتوب په ډاډمنولو کې د خپلو قانوني مسؤلیتونو په ترسره کولو کې پاتې راتلل په ګوته کوي، د دوامدار معافیت او د وېرې او ډار د فضا لامل شوی دی.

## الف- د پخوانیو حکومتي کارمندانو منظمه وژنه

د دې راپور معلومات ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې، د پخواني حکومت لږترلږه ۸۰ کارمندان په هدفمې، مشکوکو ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپیان شوي دي. دا شمېرې په ۲۰۲۴ کال کې د ثبت شویو معلوماتو په پرتله چې ۹۱ قضیې وې شاوخوا ۱۲سلنه کموالی ښیي. پورته یاد شوي ارقام د ۲۰۲۳ کال په پرتله چې ۸۳ پېښې وې، ۳.۶سلنه کموالی ښیي.



لکه څنګه چې مخکې تشریح شوه، معلوماتو ته د لاسرسي په اړه د مخ په زیاتیدونکو محدودیتونو په پام کې نیولو سره، د غیرقانوني وژنو د مستندولو پروسه له جدي او پام وړ ننګونو سره مخ وه. له همدې امله، په دې برخه کې د ثبت شویو قضیو په شمېر کې کمښت خامخا د وضعیت ښه والی یا د پخوانیو حکومتي چارواکو له محاکمې پرته وژنو کې د ریښتیني کمښت معنا نلري، بلکې ممکن سرچینو ته د لاسرسي محدودیتونه، د خپلواک نظارت نشتوالی، د غچ اخیستنې ویره، او د شاهدانو او قربانیانو کورنیو باندې فشار منعکس کړي.

ترلاسه شوي معلومات ښيي چې طالبان او په ځانګړې توګه د دوی استخباراتي اداره د غچ اخیستنې په بریدونو کې د پخوانیو حکومتي کارمندانو د هدف ګرځولو لپاره له مختلفو طریقو او تاکتیکونو څخه کار اخلي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال په فبروري کې، د کندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې یو پخوانی سرتیری له یوې لفظي شخړې وروسته د طالبانو لخوا په ډزو ووژل شو. د دې پخواني سرتېري خپلوانو رواداري ته وویل چې هغه د دوکاندار په توګه کار کاوه او له طالبانو سره له یوې لفظي شخړې وروسته ووژل شو. خو طالبانو د پېښې په اړه یوه اعلامیه خپره کړه او ویې ویل چې یو غل له دوی سره په نښته کې وژل شوی دی.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۲۱مه، یو پخوانی سرتېری په پکتیکا ولایت کې د طالبانو امنیتي پوستې ته نږدې په ډزو ووژل شو. عیني شاهدانو ویلي چې دا سړی، چې د خپلې کورنۍ یوازینی نفقه ګټونکی و، د دې ولایت د خیرکوټ ولسوالۍ په بازار کې د خپلې مور او ماشومانو په مخ کې ووژل شو. د پېښې عاملین په موټرسایکل سپاره وسله وال کسان ؤ چې له ډزو وروسته وتښتېدل. همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۱۰مه، نامعلومو وسله والو د خوست ولایت په مرکز کې یو پخوانی نظامي کس وواژه. د دې پیښې د عاملینو د هویت او انګېزې په اړه هیڅ معلومات نشته، او طالبانو هم د دې کسانو د څارلو او مجازات کولو لپاره تر اوسه کوم اقدام نه دی کړی.

په عین حال کې، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۲۵مه، د ملي امنیت ادارې د یوه پخواني کارمند جسد، چې د راپورونو له مخې د طالبانو همکار و، شاوخوا څلور کاله وروسته په میدان وردګو ولایت کې په یوه څاه کې وموندل شو. دا کس په اصل کې د پنجشېر ولایت د عنابه ولسوالۍ اوسیدونکی و او د ۲۰۲۱ کال په اګست کې له طالبانو څخه د ملاتړ اعلانولو وروسته میدان وردګو ته تللی و. د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، د هغه د کورنۍ غړو په دې موده کې څو ځله له طالبانو سره اړیکه نیولې وه ترڅو د هغه د برخلیک په اړه معلومات ترلاسه کړي، خو روښانه ځواب یې نه و ترلاسه کړی. سره له دې، طالبانو اعلان کړی چې د پېښې عاملین یې نیولي دي؛ خو د قرباني کورنۍ ویلي چې تر اوسه د دې موضوع په اړه هیڅ معلومات نه دي ورکړل شوي.

د ۲۰۲۵ کال د جولای میاشتې پر ۲۷، د ډسمبر پر ۲۷مه او د ډسمبر پر ۲۹مه، د فاریاب ولایت په میمنه ښار، بلچراغ ولسوالۍ او خواجه سبزپوش ولسوالۍ کې د ولایتي شورا یو پخوانی غړی او دوه پخواني سرتیري ووژل شول. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، سیمه ییزو چارواکو تر اوسه د مجرمینو د پیژندلو او محاکمه کولو لپاره هیڅ اقدام نه دی کړی.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د جولای په میاشت کې، یو پخوانی سرتېری، چې د پنجشېر ولایت د مرکز اوسېدونکی و، په کابل ښار کې د خپل کور مخې ته د نامعلومو وسله والو له خوا په ډزو ووژل شو. د دې پخواني نظامي د یو خپلوان په وینا، هغه له کوم چا یا کومې ډلې سره دښمني نه درلوده. خو طالبانو پخوا څو ځله هغه ته ګواښونه کړي ؤ، او د وسلو غوښتنه یې ترې کړې وه.

له بلې خوا، د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ په کوزاسیاب سیمه کې د ملي اردو یو پخوانی سرتېری د اګست پر ۱۵مه د نامعلومو کسانو له خوا په ډزو ووژل شو. هغه د «۲۰۵ اتل قول اردو» سرتیری و، او په دې وروستیو کې یې د واکسیناتور په توګه کار کاوه. د دې پېښې د عاملینو د هویت او انګېزې په اړه معلومات

په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۲۶مه، یو پخوانی نظامي د لوګر ولایت په محمد اغې ولسوالۍ کې د نامعلومو وسله والو له خوا له ایران څخه افغانستان ته له راستنېدو وروسته ووژل شو. هغه د پخواني حکومت په امنیتي ځواکونو کې څلور کاله خدمت کړی و او د افغانستان د اسلامي جمهوریت له نسکورېدو وروسته یې په ایران کې پناه اخستې وه. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې د دې پخواني سرتیري یو ورور هم مخکې د نامعلومو وسله والو لخوا وژل شوی و.



Photo (C) Mahshad Jalalian / Alamy

نشته. همدارنګه، د اګست پر ۱۹مه، د لغمان ولایت په بدیع آباد کلي کې یو پخواني نظامي د نامعلومو کسانو له خوا په ډزو ووژل شو. هغه د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د هلمند ولایت د لښکرګاه ښار د یوې امنیتي حوزې آمر و، چې واک ته د طالبانو د بېرته راګرځېدو وروسته یې په لغمان ولایت کې په یو باغ کې د ساتونکي په توګه دنده ترسره کوله.


سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۱۹مه، په بدخشان ولایت کې د نامعلومو کسانو له خوا د یو پخواني نظامي سر پرې شو. له سیمه ییزو سرچینو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، دا کس د دې ولایت د فیض آباد ښار اوسیدونکی و، او په پخواني حکومت کې یې له جرمونو سره د مبارزې په څانګه کې کار کاوه. هغه په دې وروستیو میاشتو کې ټکسي چلوله. د راپورونو له مخې، سړی په لومړي سر کې تری تم شو او دوه ورځې وروسته یې جسد په کوز یفتال سیمه کې وموندل شو، چې سر یې له بدن څخه جلا شوی و.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) هم په یو راپور کې ویلي چې د اکتوبر له لومړۍ نېټې څخه د ډسمبر تر ۳۱مې پورې یې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د پخوانیو غړو د وژنې لږترلږه ۱۴ پېښې ثبت کړې دي.[18]

هغه قضیې چې په دې برخه کې پرې بحث وشو د پخوانیو حکومتي چارواکو له محاکمې پرته د وژنو بیلګې دي، چې ټولې یې لږترلږه دوه عامې ځانګړتیاوې لري؛ لومړی، قربانیان د نامعلومو وسله والو لخوا په نښه شوي دي؛ او دویم دا چې د واکمنو چارواکو لخوا د اغېزناکو څېړنو ترسره کولو، د مجرمینو پیژندلو یا د هغوی د محاکمه کولو لپاره هیڅ اقدام نه دی شوی. دا دوه عامې ځانګړتیاوې، په تېرو څلورو کلونو کې د پخوانیو حکومتي چارواکو د دوامدارو له محاکمې پرته وژنو سربېره، په حقیقت کې د دې اشخاصو پر وړاندې د بریدونو سازمان شوی او هدفمند څرنګوالی ښیي، چې جدي اندیښنې یې راپورته کړې دي.

## ب- له مخالفو ډلو سره د غړیتوب یا همکارۍ په تور د ملکي وګړو له محاکمې پرته وژنې

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو په ۲۰۲۵ کال کې لږ تر لږه ۴۰ ملکي وګړي د دوی له مخالفو ډلو سره د همکارۍ او اړیکو په تور وژلي دي. دا شمېرې د ۲۰۲۴ کال د معلوماتو په پرتله چې ۴۶ قضیې وې، شاوخوا ۱۳سلنه کموالی ښیي. همدارنګه، په ۲۰۲۵ کال کې ثبت شوې شمېرې د ۲۰۲۳ کال په پرتله چې ۲۱ پېښې وې، شاوخوا ۹۰.۴٪ زیاتوالی ښیي.




18 په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت: د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر-ډسامبر تازه ریوټ، مخ ۴.
https://unama.unmissions.org/en/document-library/update-human-rights-situation-afghanistan-october-december-2025

د تېرو درېو کلونو د شمېرو پرتله کول ښيي چې طالبان د عادلانه محاکمې او اغېزناک حساب ورکولو میکانیزمونو اصولو ته له پاملرنې پرته  لا هم خپل سیاسي او فکري مخالفین د غچ اخیستونکو بریدونو له مخې په نښه کوي؛ هغه وضعیت چې د هیوادوالو لپاره د امنیت نشتوالي او د ژوند حق د دوامدارې سرغړونې په اړه جدي اندېښنې راپورته کوي.

د ۲۰۲۵ کال په مارچ کې، د طالبانو استخباراتي مامورینو د هرات ولایت د انجیل ولسوالۍ یو اوسیدونکی له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور ونیو، او درې ورځې وروسته یې د هغه جسد د هغه کورنۍ ته وسپاره. دا کس د پخواني حکومت له نسکورېدو وروسته ایران ته تللی و، چې خپل ټاټوبي ته له راستنېدو لس ورځې وروسته، د طالبانو له خوا ونیول شو او بیا ووژل شو.

**همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۲۲مه، د هرات ولایت یو بل اوسیدونکی د طالبانو لخوا د یوې مخالفې ډلې د غړیتوب په تور ونیول شو او بیا په ډزو ووژل شو. د دې کس جسد د هرات ښار په «کندهار دروازه» کې د یو زوړ ټانک په میل پورې وځړول شو او په یوه ویډیو کې چې په خواله رسنیو کې خپره شوې د طالبانو یو شمېر غړي د دغه کس جسد په لغتو وهي.**

د طالبانو یو غړی دې پېښې ته په هرات ښار کې د دې ډلې د لسمې امنیتي حوزې د قوماندان له وژنې سره تړاو ورکوي. ځکه چې د «افغانستان د خلکو د آزادۍ اسلامي غورځنګ» په نوم یوې ډلې د دې وژنې مسؤلیت پر غاړه اخیستی و، او ادعا شوې وه چې وژل شوی کس له دې ډلې سره تړاو درلود. د راپورونو له مخې، د جسد په شا باندې یو لیک ایښودل شوی و چې «مرګ پر آزادۍ غوښتونکي غورځنګ» پرې لیکل شوي ؤ. خو، په هرات کې د طالبانو د پولیسو قوماندانۍ په یوه پیغام کې اعلان وکړ چې دغه کس په غلا تورن و او د نظامي عملیاتو په ترڅ کې نیول شوی او وژل شوی دی.


د سپټمبر پر ۲۷ نېټه د پنجشیر ولایت یو تن اوسیدونکي د ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور د طالبانو له خوا ووژل شو. دغه کس ته نژدې سرچیني وایې چې هغه به بزګرۍ او مالدارۍ باندې مشغول ؤ او د هیڅ ډول سیاسي او نظامي ډلې سره یې اړیکه نه درلوده. معلومات ښیې چې طالبانو حتی د هغه د جنازې او فاتحې مراسمو ته هم اجازه ورنکړه او جسد یې د څو تنو قربیانو له خوا خاورو ته وسپارل شو.

همدارنګه، د جون په ۲۶ نېټه د د پخواني حکومت دوه تنه کارکوونکي د پنجشیر د بازارک ولسوالۍ په مربوطاتو کې د (روند سبز) طالبانو مخالفې ډلې سره د عضویت په تور ونیول او زندان ته یې ولیږدول. دغه کسان یوه اونۍ لپاره په بند کې وه. بلاخره طالبانو هغوي د جون پر ۵ د ۲۰۲۵ کال په داسې حال کې چې لاسونه یې تړلي وي ووژل.

## ج- د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او غیرقانوني وژنې

د راپور په دې موده کې، لږ تر لږه ۳۷۸ ملکي وګړي، چې ډېری یې مدني فعالان، خبریالان، لاریون کوونکي، د پخواني حکومت ملاتړي او پلویان، قومي مشران او دیني عالمان شامل ؤ، د طالبانو او نامعلومو وسله والو کسانو لخوا په مشکوکو او غیرقانوني لارو وژل شوي او ټپیان شوي دي. له دې جملې څخه ۲۵۷ تنه چې له ډلې یې ۲۱۷ تنه نارینه، ۲۴ ښځې او ۱۹ ماشومان وژل شوي او ۱۲۱ نور ټپیان شوي چې ۱۰۷ نارینه ۷ ښځې او ۶ ماشومان دی. هغه ماشومان چې په دې برخه کې په شامل شوي دي، د مستقیمو بریدونو هدف نه وو، بلکې د خپلو د کورنیو د غړو پر وړاندې د هدفمند بریدونو یا عملیاتو په ترڅ کې وژل شوي دي. همدا راز، په دې شمېرو کې د ۳۹ لاریون کوونکو وژنه هم شامله ده، چې په اړونده برخه کې به تشریح شي.

په ۲۰۲۴ کال کې، د پورته یادو ډلو ۲۹۸ کسان په ورته پیښو کې وژل شوي او ټپیان شوي ؤ.[19] له همدې امله، د دواړو شمېرو پرتله کول ښيي چې د راپور په دې موده کې، د نورو ملکي وګړو شمېر چې په غیرقانوني او مشکوک ډول وژل شوي دي ۲۶.۸ سلنه زیات شوی دی. همدا راز، دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال د ثبت شویو معلوماتو په پرتله چې ۳۲۴ پېښې وې، ۱۶.۶سلنه زیاتوالی ښيي.




په دې برخه کې د ژوند له حق څخه د سرغړونو په شمېر کې د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو په پرتله د پام وړ زیاتوالی لیدل کیږي، چې د ملکي وګړو، په ځانګړې توګه د سیمه ییزو نفوذ لرونکو شخصیتونو او قومي او مذهبي مشرانو پر وړاندې هدفي تاوتریخوالي دوام لري. د دې راپور د موندنو پر بنسټ، غچ اخستل، د حساب ورکولو نشتوالی، او د مجرمینو لپاره دوامدار معافیت د داسې قضیو د زیاتوالي له مهمو عواملو څخه دي. ځکه چې طالبان د دې اشخاصو د پیژندلو او سزا ورکولو لپاره هیڅ اقدام نه کوي، او نه هم د قربانیانو کورنیو او خلکو ته د دوی د هویت په اړه معلومات ورکوي.

**د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر پر ۱۶مه، د پکتیا ولایت د سید کرم ولسوالۍ یو خبریال او مدني فعال د نامعلومو کسانو لخوا ووژل شو. دې سړي ته د نږدې سرچینو په وینا، هغه د شپې له خوا د ټلیفوني اړیکې له ترلاسه کولو وروسته له خپل کوره ووت، او بله ورځ سهار یې جسد کور ته نږدې په یوه ویجاړه ودانۍ کې موندل شو. ترلاسه شوي معلومات ښيي چې د قرباني پر بدن د شکنجې نښې وې، او د دې راپور د لیکلو تر وخته، د واکمنو چارواکو لخوا د وژنې د عاملینو اړوند د تحقیقاتو یا پیژندنې او تعقیب په اړه هیڅ معلومات نه دي خپاره شوي.**

په بدخشان ولایت کې په ورته پیښه کې، یو مدني فعال او د اسماعیلي ټولنې غړی نیمه شپه د نامعلومو وسله والو لخوا په خپل کور کې ووژل شو. هغه په بدخشان ولایت کې د اسماعیلیه شیعه ګانو د مذهبي مشر آغا خان د پرمختیایي بنسټ قونسل و. معلومات ښيي چې طالبانو هغه څو ورځې وړاندې د یوې انتقادي وینا له امله چې پر اسماعیلیانو یې محدودیتونو په اړه کړې وه نیولی او هغه ته یې ګواښ کړی و.

19 . رواداري، په ۲۰۲۴ کال کې په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت رپوټ، مخ ۱۱.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د جولای پر ۲۳مه، د هرات ولایت یو سیمه ییز مشر او جهادي قوماندان د انجیل ولسوالۍ په قفسلان کلي کې د نامعلومو وسله والو کسانو له خوا ووژل شو. د دې پېښې د عاملینو په اړه هم هیڅ معلومات نشته. په ورته ډول، د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر پر ۱۳مه، د نیمروز ولایت یو شیعه اوسیدونکی ووژل شو. طالبانو وروسته درې کسان په قتل کې د لاس درلودلو په تور ونیول، چې یو یې د هغوی د استخباراتو کارمند دی. د پېښې د انګېزې په اړه جزئیات نه دي خپاره شوي.

له بلې خوا، د ۲۰۲۵ کال په اګست کې، په کندهار ولایت کې یو سوداګر د نامعلومو کسانو له خوا د چاقو په ګوزارونو ووژل شو. د شته معلوماتو پر بنسټ، هغه په دې ولایت کې د مخکني حکومت اړوند د قول اردو او «۰۳ قطعې» قراردادي و. اوس مهال د دې پیښې د عاملینو د هویت یا انګېزې په اړه معلومات نشته. د یاد کس د کورنۍ غړي هم د هر ډول تبصرې یا معلوماتو ورکولو څخه ډډه کوي.

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، په هغو پېښو کې چې په دا ډول وژنو کې د طالبانو د مستقیمې ښکیلتیا څرګند شواهد مطرح دي، د مجرمینو د تعقیب، محاکمې یا سزا ورکولو لپاره اغېزناک اقدامات نه ترسره کیږي.

**د بېلګې په ډول، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۲۰مه، د خوست ولایت یو اوسېدونکی د طالبانو د غړو لخوا په عام محضر کې په ډزو ووژل شو. یو عیني شاهد ویلي دي چې: «موږ خواړه اخستل چې طالب وسله والو دغه سړی په ډزو وواژه او بیا یې له کومې اندیښنې پرته سېمه پرېښوده.» معلومات ښیي چې له پېښې وروسته، طالبانو سیمه ییز مشران د قرباني کور ته واستول ترڅو د وژنې عاملین وبخښي. په ورته وخت کې، راپورونه ښیي چې د کورنۍ پر غړو فشار راوړل شوی چې له رسنیو سره د دې موضوع په اړه بحث ونه کړي او د غیر رسمي میکانیزمونو له لارې یې حل کړي. سره له دې، که څه هم د عاملانو هویت په څرګند ډول معلوم دی، سیمه ییزو چارواکو د هغوی د تعقیب او سزا ورکولو پر ځای سیمه ییز منځګړیتوب ته مخه کړې ده.**

په یوه ورته پیښه کې د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۲۱مه، په خوست کې د طالبانو د پخواني والي وراره یو سړی چې د چاپ خونه یې درلوده په ببرک خان پارک کې ماښام مهال وواژه. هغه بیا پرته له کوم خنډ څخه سیمه پرېښوده او وروسته یې اعلان وکړ چې په تېروتنه یې پر هغه کس ډزې کړې دي. د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، د دې وژنې مرتکب د قرباني کورنۍ ته دوه لکه افغانۍ واستولې چې موضوع هېره کړي او هغه وبخښي.

## اجباري تري تم کول

جبري تري تم کول د حکومتي استازو یا اشخاصو یا ډلو لخوا د افرادو نیول، توقیف، تښتونه، یا له آزادۍ څخه محرومیت ته ویل کیږي چې د دولت په رضایت، ملاتړ یا چوپتیا سره ترسره کیږي. د دې عمل اصلي ځانګړتیا د قربانیانو د نیولو، برخلیک او ځای په اړه د معلوماتو له ورکولو څخه په قصدي ډول انکار دی.[20] سره له دې، د جبري تري تم کولو څېړنه په یوې ځانګړې مودې پورې اړه نلري، بلکې د تښتونې یا توقیف له وخت څخه پیل کیږي او تر هغه وخته پورې دوام کوي، چې د تري تم شوي کس برخلیک او ځای معلوم نشي او هغه د قانون له ملاتړ څخه بهر پاتې نشي.[21] د بین المللي جنایي محکمې قانون جبري تري تم کېدل د بشري حقونو یو له جدي سرغړونو څخه ګڼي، او د انسانیت پر وړاندې د جرم د یوې بیلګې په توګه یې په رسمیت پیژني.[22]

20 . د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله، له جبري تري تم کېدو څخه د ټولو وګړو د خلاصون بین المللي کنوانسیون ((د ډسمبر ۲۰مه، ۲۰۰۶)، پریکړه لیک ۱۷۷/۶۱، ماده ۲.
21 . د بشري حقونو شورا، د جبري یا اداري تري تم کېدو پر وړاندې کمېټه، د شپاړسمې غونډې رپوټ، A/HRC/۱۶/۴۸، جنوري ۲۰۱۱، عمومي تبصره ۱.
22 . د روم اساسنامه، د جرمونو بین المللي محکمه، (د جولای ۱۷مه، ۱۹۸۸)، UNTص ۹۰ ۲۱۸۷، ماده ۷، (۱)، (i).

خو د دې راپور موندنې ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې، د افغانستان په ۱۲ ولایتونو[23] کې لږ تر لږه ۶۶ کسان له نیول کېدو وروسته د طالبانو او نامعلومو کسانو له خوا تري تم شوي دي. دا شمېره د ۲۰۲۴ کال په پرتله چې ۵۱ پېښې وې[24]، شاوخوا ۲۹.۴ سلنه زیاتوالی ښیي. همدارنګه، د دې راپور د دورې اړوند د جبري تري تم کولو د شمېرو پرتله کول د ۲۰۲۳ کال په پرتله چې ۳۰ پېښې دوه چنده زیاتوالی ښیي.




د جبري تري تم کولو د مستندو قضیو قربانیان ډېری پخواني حکومتي چارواکي، هغه اشخاص چې د مخالفو ډلو سره د غړیتوب یا همکارۍ په تور تورن دي، او همدارنګه ځینې قومي یا مذهبي مشران دي. راټول شوي معلومات ښيي چې د دوی له نیول کیدو وروسته، دغو اشخاصو ته وکیل ته د لاسرسي د حق، خپلې کورنۍ سره د اړیکو نیولو، او نورو قانوني ملاتړونو ته د لاسرسي په ګډوند، د عادلانه محاکمې بنسټیز تضمینونو ته لاسرسی نه و ورکړل شوی. سره له دې، طالبانو په قصدي ډول د دې اشخاصو د ځای او برخلیک په اړه له معلوماتو ورکولو څخه ډډه کړې، او په ځینو مواردو کې، لکه څنګه چې شواهد ښیي، بندیان د سختې شکنجې په پایله کې وژل شوي او وروسته یې جسدونه پیژندل شوي دي.

د دې راپور د موندنو له مخې، د طالبانو استخباراتي اداري په ګڼ شمېر مواردو کې له جبري تري تم کولو څخه د غچ اخیستلو، ځپلو او حتی د پخواني حکومت د مخالفینو، منتقدینو او کارمندانو د فزیکي له منځه وړلو لپاره د یوې وسیلې په توګه کار اخیستی دی. د دوی له نیول کیدو وروسته، دا اشخاص له خپلو اساسي حقونو څخه محروم شوي دي، په ځانګړي توګه له دې حق څخه چې سمدلاسه خپلو کورنیو ته د دوی د ځای په اړه خبر ورکړي، او په اغیزمنه توګه له قانوني ملاتړونو څخه محروم شوي دي. په ځینو مواردو کې، د قربانیانو له تري تم کېدو څه موده وروسته، د هغوی جسدونه پیژندل شوي یا خپلو کورنیو ته سپارل شوي دي.

**د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د جولای پر ۲۶مه، د ملي امنیت اداري یو پخوانی کارکوونکی د غور ولایت په الله یار ولسوالۍ کې د طالبانو د استخباراتو ځانګې لخوا ونیول شو. د دې راپور د موندنو له مخې، هغه د استخباراتو د «کوهستانونو قطعې» لخوا ونیول شو، او دوه ورځې وروسته د هغه جسد د دې ولسوالۍ په «سفید رخنه» کلي کې د یو بل کس له جسد سره یوځای وموندل شو، چې د هغه هویت لا نه دی مشخص شوی.**

23 . غزني، هرات، نیمروز، غور، بدخشان، کندهار، فراه، میدان وردګ، بامیان، هلمند، بلخ او تخار.
24 . رواداري، په ۲۰۲۴ کال کې د بشري حقونو وضعیت، مخ ۱۲.

د یادونې وړ ده چې دا پخوانی نظامي مخکې هم دوه ځله د استخباراتو اداري لخوا نیول شوی و؛ لومړی ځل هغه د یو میل وسلې له سپارلو وروسته خوشې شو، او دویم ځل هغه د طالبانو د نظامي محکمې لخوا د صادر شوي شپږ میاشتې بند له تېرولو وروسته خوشې شو. هغه له هند څخه د اقتصاد فارغ و، او د جمهوریت له سقوط څخه مخکې یې د ملي امنیت په اداره کې کار کاوه.

**په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۵ کال په نومبر میاشت کې، د غور ولایت په لعل او سر جنگل ولسوالۍ کې یو پخوانی نظامي تری تم شو. هغه پخوا په کابل کې د امنیتي افسر په توګه کار کاوه. د هغه د یوه خپلوان په وینا، وسله والو کسانو چې ځانونه یې د طالبانو غړي معرفي کړل، هغه یې د شپې له کوره په زوره بوتلو. وسله والو کسانو له هغه وغوښتل چې له دوی سره لاړ شي او څو پوښتنو ته ځواب ووايي. له هغه وخت راهیسې، د هغه د برخلیک یا ځای په اړه هیڅ معلومات نشته. سرچینې دا هم وویل چې د یاد کس کورنۍ او خپلوانو څو ځله د طالبانو سیمه ییزې ادارې ته مراجعه کړې، خو هغوی د موضوع په اړه بې خبره ښودلې ده.**

خو د دې پخواني نظامي کس د نیولو، ځای یا وضعیت په اړه تر اوسه کوم رسمي سند نه دی وړاندې شوی، او د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، هغه پخوا هم د استخباراتو د ادارې تر څارنې لاندې و، او څو ځله دې ادارې ته احضار شوی و.

په ورته ډول، د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د یوه پخواني نظامي مړی د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۱۹مه د دې ولایت د دهک ولسوالۍ په مربوطاتو کې وموندل شو. ترلاسه شوي معلومات ښيي چې هغه له دې پېښې لس ورځې مخکې تری تم شوی و، خو د طالبانو ځايي ادارې اعلان کړی چې هغه د نامشروعو اړیکو له امله وژل شوی او جسد یې سوځول شوی دی. خو تر اوسه پورې د دې پېښې د عاملینو د نیولو یا محاکمه کولو په اړه هیڅ معلومات نه دي خپاره شوي. ځایي سرچینو دا ادعا رد کړې او ویلي یې دي چې طالبان پخپله د دې پخواني نظامي د جبري تري تم کېدو او وژنې عاملان دي.

د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۱۶مه، طالبانو د هلمند ولایت یو اوسېدونکی ونیو او بیا یې تری تم کړ. د دې کس د کورنۍ غړي سیمه ییزو چارواکو ته له بیا بیا مراجعې سره سره د یوې اونۍ لپاره د هغه د برخلیک یا ځای په اړه نه پوهېدل؛ خو وروسته څرګنده شوه چې یاد کس د جمهوري دورې پر مهال د پولیسو له یو پخواني قوماندان سره د کورنۍ اړیکې په تور د طالبانو له خوا نیول شوی دی. هغه بالاخره په ضمانت خوشې شو، خو ترلاسه شوي معلومات ښيي چې لا هم د طالبانو له خوا تر فشار او څار لاندې دی.

په یوه بله قضیه کې، یو پخوانی سرتیری چې په دې وروستیو کې له ایران څخه افغانستان ته شړل شوی و، د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر دویمه نېټه د اسلام کلا په پوله د استخباراتو اداري لخوا ونیول شو او وروسته تری تم شو. له هغه وخت راهیسې، د هغه د ساتل کېدو د ځای یا برخلیک په اړه هیڅ رسمي معلومات نشته.

داسې قضیې هم شته چې د طالبانو استخباراتي اداري د فشار او مالي ګټې لپاره د یوې وسیلې په توګه له جبري تري تم کولو څخه کار اخستی دی. لکه څنګه چې یو پخواني عسکر په دې اړه وویل، د هغه زوی له څلور میاشتو تري تم کېدو وروسته په کابل کې د طالبانو د استخباراتو په یوه نظارت خونه کې وموندل شو. طالبانو وروسته له هغه څخه د هغه د زوی د ژوندي خوشې کولو په بدل کې ۶۰۰۰ ډالر وغوښتل.

په ورته وخت کې، د بامیان ولایت په ورس ولسوالۍ کې یو پخوانی نظامي د طالبانو لخوا نیول شوی او نامعلوم ځای ته لیږدول شوی دی. د مستندو معلوماتو له مخې، هغه د ۲۰۲۵ کال د نومبر پر ۲۳مه سهار شاوخوا لس بجې د ولسوالۍ د بازار په یوه هوټل کې د څو طالب سرتېرو لخوا ونیول شو. د دې پخواني نظامي کورنۍ په بامیان ولایت کې د طالبانو اړوندو څانګو ته څو ځله مراجعه کړې، خو تر اوسه یې د هغه د وضعیت یا ځای په اړه رسمي معلومات نه دي ترلاسه کړي. دا کس د جمهوریت له ړنګېدو وروسته ایران ته تللی و، او په دې وروستیو کې افغانستان ته راستون شوی و.

د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر په ۱۸مه، درې پخواني سرتېري چې په دې وروستیو کې له ایران څخه هیواد ته راستانه شوي ؤ، د میدان وردګو ولایت په مرکز میدان ښار کې د نامعلومو کسانو له خوا ونیول شول او تري تم شول. د دې پیښې له وخته تر دې راپور لیکلو پورې، د دې کسانو د برخلیک او ځای په اړه رسمي معلومات نه دي خپاره شوي. ځایي سرچینو ویلي چې دې کسانو د ملي مقاومت جبهې سره اړیکه درلوده او د دوی نیول په همدې موضوع پورې تړاو لري.




Photo (C) Abaca Press / Alamy

د پورته ذکر شویو پېښو سربېره، د دې راپور موندنې ښيي چې د طالبانو یو شمېر ځواکونو په خپلسري ډول خلک نیولي، تري تم کړي او شکنجه کړي دي. هغه وضعیت چې د غیرقانوني چلندونه شتون، او د طالبانو تر کنټرول لاندې ادارو د فعالیت اړوند د اغېزناکې څارنې، او د حساب ورکولو نشتوالی په ګوته کوي. د مثال په توګه، د کندهار ولایت د یوې امنیتي حوزې یو سرتېري، د خپل ملګري په غوښتنه، یو کس چې ورسره یې قانوني شخړه درلوده، تښتولی او بیا یې تری تم کړی دی. په دې موده کې، قرباني په یو نامعلوم ځای کې توقیف شوی او سخت شکنجه شوی دی؛ داسې چې هغه ته یې مخدره توکي ورکړي ؤ، په زنځیرونو یې تړلی او د مرګ ګواښ یې ورته کړی و. دغه کس د طالبانو په محکمه کې وروسته له هغې چې خوشې شو، له هغه کس څخه چې تری تم کړی او شکنجه کړی یې و، د طالبانو په محکمه کې شکایت کړی دی.

## خپلسرې او غیرقانوني نیونې

د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د نهمې مادې له مخې، هرڅوک د شخصي آزادۍ او امنیت حق لري او هیڅوک باید په خپلسرې توګه و نه نیول شي یا په توقیف کې و نه ساتل شي. له آزادۍ محرومول یوازې په هغو قضیو کې اجازه لري چې له قانون سره سم او د عادلانه محاکمې د اصولو په چوکاټ کې ترسره شي.[۲۵] له همدې امله، د اعتبار وړ قضایي حکم پرته هر ډول توقیف یا د عادلانه محاکمې د اساسي تضمینونو نه مراعاتول د شخصي آزادۍ او امنیت حق څخه سرغړونه ګڼل کېدای شي.

**د دې راپور موندنې ښيي چې په ۲۰۲۵ کال کې، لږ تر لږه ۲۵۵۹ کسان په خپلسر او غیرقانوني ډول نیول شوي او بندیان شوي دي. په ۲۰۲۴ کال کې، رواداري د خپلسري او غیرقانوني توقیف ټولټال ۸۸۵ قضیې ثبت کړې وې.[۲٦] د دوارو شمېرو پرتله ښيي چې د راپور په دې موده کې د خپلسري او غیرقانوني توقیفونو کچه دوه چنده زیاته شوې ده. په ورته ډول، له ۲۰۲۳ کال سره د ۲۰۲۵ کال د معلوماتو پرتله کول، چې ۶۲۳ پېښې وې، څلور چنده زیاتوالی ښيي.**




25 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، نهمه ماده.
26 . رواداري، د بشري حقونو وضعیت ۲۰۲۴، مخ ۱۴.

د ترلاسه شویو شواهدو او معلوماتو پر بنسټ، د «امر بالمعروف نهه عن المنکر قانون» پلي کول، او په ځانګړې توګه د امر بالمعروف مامورینو ته په خپلسري ډول له آزادۍ څخه د محرومولو او د هیوادوالو، ښځو او نارینه ؤ د توقیف په برخه کې د پراخو واکونو ورکول، چې د دې راپور په راتلونکو برخو کې به تشریح شي، په دې برخه کې د پېښو د زیاتوالي یو له مهمو عواملو څخه دی. سربېره پر دې، د مخالفینو او منتقدینو پر وړاندې غچ اخیستونکي اقدامات، د مدني فعالیتونو پراخه ځپنه، د عادلانه محاکمې د بنسټیزو اصولو په رعایت کې پاتې راتلل، او د غیرقانوني چلند دوام نور هغه عوامل دي چې د دې راپور په موده کې د خپلسرو او غیرقانوني نیونو په زیاتوالي کې مرسته کوي.

په دې برخه کې د پېښو پام وړ زیاتوالي د اتباعو د آزادۍ او شخصي امنیت حق په اړه جدي اندیښنې راپورته کړې دي. په هرصورت، په دې راپور کې شامل معلومات خامخا د خپلسري او غیرقانوني توقیفونو اصلي شمېر نه منعکسوي، ځکه چې د طالبانو لخوا لګول شوي محدودیتونو او د دوی تر کنټرول لاندې توقیف ځایونو ته د لاسرسي د نشتوالي له امله د ډېرو قضیو ثبت کول ممکن نه ؤ.

د حکومت پخواني کارمندان او د هغوی د کورنۍ غړي، هغه کسان چې د پوځي او سیاسي مخالفو ډلو سره د غړیتوب یا همکارۍ په تور تورن دي، د مدني ټولنې فعالین او خبریالان، د ټولنیزو رسنیو کاروونکي، دیني عالمان، قومي مشران او لاریون کوونکي هغه ډلې دي، چې په ۲۰۲۵ کال کې د طالبانو لخوا په خپلسري ډول نیول شوي او بندیان شوي دي.

پر نارینه وو لګول شوي تورونه په عمده توګه د وسلې درلودل، د پوځي او سیاسي مخالفو ډلو سره همکاري، د طالبانو پر ضد تبلیغات یا نیوکې، د ږیرې او د سر ویښتو اړوند د امربالمعروف اداري له مقرراتو سرغړونه، د موسیقۍ اورېدل، د جماعت په لمانځه کې نه ګډون، ښځو سره خبرې، په پلورنځیو کې پر ښځو د مالونو پلورل او د راټولېدونو او غونډو جوړول دي. همدا راز پر ښځو لګول شوي تورونه په عمده ډول په شرعي محرم پورې له اړوندو مقرراتو سرغړونه، د پوښاک ډول او په عامه ځایونو کې د دوی حضور دی.

## د خپلسرو او غیرقانوني نیونو عاملان

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د دې راپور په موده کې ډېری خپلسرې نیونې د امر بالمعروف او استخباراتو د ریاستونو لخوا ترسره شوې دي. د استخباراتو ځواکونو په عمده توګه پخواني حکومتي چارواکي، مخالفین او لاریون کوونکي، دیني عالمان، خبریالان، د مدني ټولنې فعالان او د ټولنیزو رسنیو کاروونکي پرته له دې چې کوم رسمي اسناد وړاندې کړي، تورونه اعلان کړي، یا د بشري حقونو معیارونه او د عادلانه محاکمې اصول مراعات کړي، نیولي او بندیان کړي دي. د تورونو د دلایلو په اړه د سمدستي خبرتیا حق، مدافع وکیل ته لاسرسی، او د خپلو کورنیو سره د اړیکو نیولو د حقونو په ګډون، د توقیف په جریان کې دا اشخاص له خپلو اساسي حقونو څخه محروم شوي دي. په ورته ډول، داسې مستندې قضیې شته چې یو شمیر اشخاص د خپلو ټاکل شویو د بند مودو له تېرېدو وروسته له شپږو میاشتو څخه تر دوو کلونو پورې په توقیف کې پاتې شوي او خوشې شوي ندي.


د امر بالمعروف اداري هم په پراخه کچه هیوادوال د دې اداري د سختو مقرراتو د نه مراعات کولو او د پورته ذکر شویو معیارونو او اصولو له رعایتولو پرته په پراخه کچه نیولي دي. **د دې راپور موندنې ښیي چې د امر معروف قانون له خپرېدو وروسته، د هیواد په بیلابیلو برخو کې د رستورانتونو، عامه ترانسپورت، روغتونونو، هټیو او ښارونو په ګډون، په عامه ځایونو کې د ښځو د نیولو پېښې زیاتې شوې دي. دغه ښځې، د امر بالمعروف د قانون له مخې د مطرح شویو تورونو د ډول په پام کې نیولو سره، خپلو بنسټیزو حقونو ته له لاسرسي پرته، په توقیف کې له څو ساعتونو څخه تر څو میاشتو پورې موده تېره کړې ده.**

سربېره پر دې، د پولیسو قومانداني، والیانو، ولسوالانو، او د ادارو د چارواکو په ګډون ځینې نورو ادارو او سیمه ییزو چارواکو هم په خپلسري ډول د خلکو د آزادۍ او شخصي امنیت حقونه تر پښو لاندې کړي او دوی یې په غیر رسمي توقیف ځایونو کې ساتلي دي. د بېلګې په توګه، د هیواد د جنوب لویدیځې حوزې یه یوه ولسوالۍ کې د طالبانو د زراعت د سیمه ییزې اداري مسئول، یو کس د ځمکې د اجارې د نه پرې کولو له امله په خپل دفتر کې د لسو ورځو لپاره بندي کړی و. دا قضیې ښیي چې د اغېزناکې څارنې او حساب ورکولو په نشتوالي کې، په مختلفو اداري کچو کې ځینې چارواکي کولی شي خلک په خپل سر او له قانوني پروسو څخه بهر ونیسي او زنداني یې کړي.

**بې قانونۍ او فساد نور هغه عوامل دي چې د خپلسرو او غیرقانوني نیونو زیاتوالي باندې اغیزه کوي. لکه څنګه چې یو مرکه کوونکي ویلي: «د ۲۰۲۵ کال په جولای میاشت کې، کله چې زه کار ځای ته روان وم، د سرحدي پولیسو د تحقیقاتو د څانګې لخوا زنګ راغی چې دې اداري ته مراجعه وکړم. کله چې زه هلته ورسېدم، دوی زما ټلفون واخیست او پرته له کوم وضاحت څخه یې په یوه کانټینر کې واچولم، چې شاوخوا یوه اونۍ پکښې وم. کله چې به ما وپوښتل چې زما د نیولو دلیل څه دی،ځواب به یې راکاوه چې تحقیقات روان دي او باید انتظار وکړې. شاوخوا یوه نیمه اونۍ وروسته، یو څوک راغی او راته و یې ویل چې ته آزاد یې او موږ په تېروتنه توقیف کړی وې.»**

## الف- د پخوانیو حکومتي کارمندانو خپلسري نیونې

د دې راپور د موندنو له مخې، په ۲۰۲۵ کال کې لږ تر لږه ۱۳۸ پخواني دولتي کارمندان، ملکي او نظامي دواړه، ډېری د طالبانو د د استخباراتو د څانګې لخوا په غیرقانوني ډول نیول شوي او بندیان شوي دي. له ۲۰۲۴ کال سره د دې شمېرو پرتله، چې ۱۴۲ قضیې پکې ثبت شوي وې، شاوخوا ۲.۸٪ کموالی ښیي. همدا راز، دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال په پرتله، چې شاوخوا ۱۱۸ پېښې وې، ۱۶.۹٪ زیاتې شوې دي.




د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر په لومړۍ نېټه، طالبانو د غزني ولایت په خواجه عمري ولسوالۍ کې یو پخوانی نظامي کس ونیو او درې شپې یې بندي کړ. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، له هغه څخه وغوښتل شول چې د جمهوریت دورې پورې اړوند وسلې ورته وسپاري یا یې معادل نغدې پیسې ورکړي. دا کس مخکې هم د طالبانو لخوا توقیف او شکنجه شوی و، خو بالاخره په ضمانت خوشې شو. سره له دې، هغه ته ویل شوي چې هرکله د طالبانو لخوا احضار شي، باید امنیې قوماندانۍ ته حاضر شي.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د نوامبر پر ۹مه او ۱۰مه، دوه نور پخواني سرتيري د غزني ولايت له جاغوري او آب بند ولسواليو څخه ونيول شول. شواهد ښيي چې طالبانو له دواړو کسانو څخه غوښتي چې د پخواني حکومت اړوند وسلې او مهمات ورته سپاري. دا خلک لا هم په زندان کې دي. د اسلحي لرل په تېرو څلورو کلنو کې د طالبانو له خوا د پخواني حکومت د کارکوونکو د نيولو معمول تور ګڼل کيږي. ځرنګه چې دغه کسان د نيولو د فشار د تحمل او ناوړه چلند سره، په ډېرى مواردو کې مجبور شوي دي چې د طالبانو له خوا د اسلحو بديل غوښتل شوي قيمت هم ورکړي.

د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۳مه، يو پخوانی سرتيری په خواجه دو کوه ولسوالۍ کې ونيول شو، او د نوامبر پر ۱۷مه، يو بل پخوانی سرتيری د جوزجان ولايت په شبرغان ښار کې ونيول شو. ياد کسان د دغه راپور تر نويشته کولو پوري لا هم په زندان کې دي.

د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر پر ۲۶مه او د اکتوبر پر ۳مه، يو پخوانی عسکر او د ولايتي شورا يو پخوانی غړی په فارياب په ولايت کې د طالبانو لخوا ونيول شول. په ورته ډول، د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۳۰مه، طالبانو په باميان ولايت کې يو پخوانی سرتېری ونيو. طالبانو دا کس په غلا تورن کړی دی، خو يو شمېر ځايي اوسيدونکو دا تور ناسم بللی او دا يې د نيول کېدو د توجيه کولو او دا د پخواني حکومت پر کارمندانو د فشار راوړلو يوه هڅه ګڼي. د شته معلوماتو پر بنسټ، دا کس د جمهوري رژيم له نسکورېدو وروسته د کرني او د بزګرۍ په فعاليتونو بوخت و.

سربېره پر دې، رواداري په ۲۰۲۵ کال کې داسې قضيې مستندې کړې دي چې ښيي په ځينو پېښو کې د پخوانيو حکومتي کارمندانو سربېره، طالبانو د دوی د کورنۍ غړي هم په نښه کړي دي.

**د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۱۸مه، د طالبانو استخباراتي مامورينو د دايکندي ولايت په کجران ولسوالۍ کې د يوه پخواني عسکر پلار ونيو. دغه ۷۰ کلن سړی د اوو ورځو لپاره په توقيف کې ساتل شوی او د ترلاسه شويو معلوماتو له مخې، په دې موده کې شکنجه شوی هم دی. طالبانو له هغه څخه د ۱۲ ميله وسلو غوښتنه کړې ده.**

په يوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۵ کال په نوامبر کې، د طالبانو د استخباراتو څانګې په ارزګان ولايت کې د جمهوري دورې د يوه پخواني پوليس قوماندان په کور بريد وکړ چې مخکې وژل شوی و، او د هغه درې زامن يې د وسلو ساتلو په تور ونيول. دا کسان له درېو ورځو وروسته د رسمي تور لګولو پرته خوشې شول او بې ګناه اعلان شول.


**په ورته وخت کې، د ۲۰۲۵ کال په اګست کې، طالبانو د په جنوب غرب حوزه کې د يوه پخواني سيمه ييز چارواکي پر کور بريد وکړ او د هغه شخصي موټر يې ترې يوړ. ترلاسه شوي معلومات ښيي چې د پخواني حکومت د دې سيمه ييز چارواکي ورور هم د بريد پر مهال وهل شوی او کنځل شوی دی. هغه وروسته د خپل موټر د بېرته ترلاسه کولو لپاره امنيه قوماندانۍ ته ورغلی و، خو د هغه په وينا، د طالبانو لخوا ونيول شو او ووهل شو. هغه رواداري ته په خپلو څرګندونو کې ويلي: «کله چې زه د خپل ورور د موټر اخيستلو لپاره لاړم، يو طالب زما لاس ونيو، په يو کانټينر کې يې واچولم، او ويې ويل، ته د جمهوري حکومت د يو کافر کارمند ورور يې. بيا يې زما په وهلو پيل وکړ. څو ورځې وروسته خوشې شوم، خو هيچا زما غږ وا نهورېد.»**

په يوه بله ورته پېښه کې، د وسله والو طالبانو يوې ډلې په پکتيکا ولايت کې د يو پخواني نظامي پر کور بريد وکړ او د هغه ورور يې سخت وواهه. دا پېښه د خيرکوټ ولسوالۍ په «سګاني» کلي کې رامنځته شوې ده.

## ب- د مدني ټولنې د فعالانو او د بشري حقونو د مدافعينو خپلسري نيونې

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو په ۲۰۲۵ کال کې لږ تر لږه ۷۷ د مدني ټولنې فعالان او د بشري حقونو مدافعين، د ۷ ښځو په ګډون  په خپلسري توګه نيولي او بنديان کړي دي. د دې کسانو پر وړاندې تورونه په عمده توګه د ښځو او نجونو لپاره د تعليمي کورسونو جوړول، د طالبانو پر ضد تبليغات کول، او د ښځو د حقونو او نورو مسلو په اړه د دې ډلې پر پاليسيو نيوکه کول شامل ؤ.

په ۲۰۲۴ کال کې، رواداري د مدني فعالانو، د بشري حقونو د مدافعينو او خبريالانو د خپلسرو او غيرقانوني نيولو ټولټال ۸۲ پېښې ثبت کړې وې. د پورته ذکر شويو شمېرو پرتله کول ښيي چې د مدني ټولنې د فعالانو، د بشري حقونو د مدافعينو او خبريالانو د خپلسري او غيرقانوني توقيف کچه په ۲۰۲۵ کال کې شاوخوا ۶ سلنه کمه شوې ده. همدا راز، دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال په پرتله، چې ۹۰ پېښې وې، ۱۴٪ کموالی ښيي.




د راپور ورکولو په دې موده کې، د مدني ټولنې د فعالانو، خبريالانو او د بشري حقونو د مدافعينو ډېرى خپلسري او غيرقانوني توقيفونه د طالبانو د استخباراتو د څانګې لخوا ترسره شوي دي. معلومات ښيي چې دا کسان ډېرى د طالبانو پر پاليسيو په سوله ييز ډول د اعتراض او نيوکې کولو له امله نيول شوي او بنديان شوي دي، په ځانګړې توګه د ښځو د اساسي حقونو او آزاديو په اړه د محدوديتونو اړوند د تنقيد له امله. نيول شوي کسان، د عادلانه محاکمې اصولو ته له پاملرنې پرته، لکه د تور د رسمي ورښودلو، صلاحيت لرونکو مراجعو ته رسماً د دوسيو سپارلو او د قضايي پړاوونو له ترسره کولو پرته، زنداني شوي دي.

سره له دې، ترلاسه شوي معلومات ښيي چې طالبانو د انتقادي او مخالفو غږونو د محدودولو او ځپلو لپاره خپلسري او غيرقانوني توقيفونه د يوې وسيلې په توګه کارولي دي، او د دوی د پاليسيو په اړه هر ډول اعتراض ته يې په هره کچه او اندازه د زور او تاوتريخوالي د ميتودونو په کارولو سره ځواب ورکړی دی. په دې منځ کې، د طالبانو استخباراتي اداري په دوامداره توګه د خبريالانو، مدني فعالانو، د بشري حقونو مدافعينو او حتا د ټولنيزو رسنيو د کاروونکو فعاليتونه څارلي دي، چې په ځينو مواردو کې يې د نيولو، احضارولو، يا د فشار او ډارولو د نورو بڼو لامل شوي دي.

په ۲۰۲۵ کال کې رواداري ګڼ شمېر قضيې ثبت کړې دي چې پکې خلک په ټولنيزو رسنيو کې د انتقادي يادښتونو خپرولو له امله نيول شوي او بنديان شوي دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۴مه، د هرات ولايت د يوې خبري اداري مشر د طالبانو لخوا ونيول شو. د دې کس پر وړاندې تور دا و چې د طالبانو د اړوندو ادارو له مخکينۍ اجازې پرته يې جنايي راپورونه خپاره کړي دي. په ورته ډول، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر

پر ۲۷مه، د هرات ولایت یوه ښځه د امربالمعروف اداري د مامورینو لخوا د مدني او بشري حقونو د فعالیتونو په تور ونیول شوه. هغه څو ساعته وروسته د کورنۍ په ضمانت او دې شرط چې د د ې ورسوته به مدني فعالیت نه کوي خوشې شوه.

په یوه بله قضیه کې، د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۲۵مه، د طالبانو استخباراتي مامورینو په بامیان ولایت کې یو مدني فعال او د پوهنتون استاد ونیو. د هغه د نیول کېدو دلیل په ټولنیزو رسنیو کې د انتقادي موادو خپرول او د اوسني وضعیت په اړه اعتراض ښودل شوی دی. هغې په خپله فیسبوک پاڼه کې د ښځو د بشري حقونو وضعیت او د زده کړې له حق څخه د هغوی د محرومیت په اړه نیوکه کړې وه. دا مدني فعال د ځایي مشرانو په ضمانت د ۱۲ ورځو بند وروسته د طالبانو له توقیف خونې څخه خوشې شو.

همدارنګه، د استخباراتو ځواکونو په خوست ولایت کې د ټولنیزو رسنیو یو فعال ونیو. دې کس ته نږدې سرچینو ویلي چې د هغه د نیول کیدو لامل په ټولنیزو رسنیو کې د طالبانو په اړه د هغه نیوکې وې. هغه پخوا هم څو ځله د ځایي طالب چارواکو لخوا د انتقادي موادو د خپرولو له امله احضار شوی و.


د ۲۰۲۵ کال د اپریل پر ۱۵مه، طالبانو په غزني ولایت کې د یوې سیمه ییزې راډیو یو مسئول مدیر د «نظام پر ضد د تبلیغ» په تور ونیو او په درېو میاشتو بند یې محکوم کړ. هغه د جولای په درېمه نېټه له زندانه خوشې شو، او د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، د هغه د نیولو دلیل په ټولنیزو رسنیو کې د شته ستونزو څرګندول او د طالبانو پر پالیسیو نیوکه کول ؤ.

په ورته وخت کې، د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر پر ۱۵مه، طالبانو د بدخشان ولایت د شهدا ولسوالۍ یو اوسیدونکی د فیسبوک د یو پوسټ د خپرولو په تور ونیو. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې دا کس له نږدې شپږو میاشتو راهیسې په توقیف کې دی. په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۳۰مه، د استخباراتو مامورینو له فیض آباد ښار څخه یو مدني فعال د طالبانو په اړه په ټولنیزو رسنیو کې د انتقادي موادو د خپرولو په تور ونیو او زنداني یې کړ.

د پورته ذکر شویو مواردو سربېره، رواداري د بشري حقونو د فعالانو د نیولو ګڼ شمیر قضیې هم مستندې کړې دي چې ښځو او نجونو ته د تعلیمي پروګرامونو چمتو کولو له امله نیول شوي دي، چې د راپور په راتلونکو برخو کې به په تفصیل سره تشریح شي.

## ج- د طالبانو مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د افرادو خپلسرې نیونه

د راپور ورکولو په دې موده کې، طالبانو لږ تر لږه ۱۹۲ کسان د دوی د نظامي او سیاسي مخالفو ډلو سره د همکارۍ او اړیکو په تور نیولي او بندیان کړي دي. دا شمېره د ۲۰۲۴ کال په پرتله شاوخوا ۳۱.۹٪ کموالی ښیي، چې هغه مهال ۲۸۲ قضیې ثبت شوې وې. سربېره پر دې، د دې راپور ورکولو د دورې معلومات د ۲۰۲۳ کال په پرتله چې ۱۲۴ پېښې وې، شاوخوا ۵۴.۸٪ زیاتوالی ښیي.




یاد کسان په مشخص ډول د ملي مقاومت جبهې، آزادۍ جبهې او هم په حزب التحریر کې د غړیتوب په تور د طالبانو د استخباراتو او پولیسو د اداري له خوا نیول شوي دي. د یادو کسانو په منځ کې لږ تر لږه یوه یې ښځه ده، چې د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور نیول شوې.

ترلاسه شوي شواهد او معلومات ښیي چې د دې اشخاصو د نیولو او توقیف په پروسه کې، مدافع وکیل ته د لاسرسي او په معقول وخت کې دوسیو ته د قضایي رسیدګۍ په ګډون، د عادلانه محاکمې معیارونه او موازین نه دي رعایت شوي. د بېلګې په توګه، په کندهار، هلمند، پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو کې د طالبانو یو شمېر سیاسي او فکري مخالفین له شپږو میاشتو څخه تر دوو کلونو پورې توقیف شوي دي، پرته له دې چې د دوی قضیې محکمې ته واستول شي.

د ۲۰۲۵ کال د مې پر ۲۴مه، طالبانو په کابل ښار کې د پنجشیر ولایت یو اوسیدونکی ملي مقاومت جبهې سره د تړاو په تور ونیو. د دې سړي د کورنۍ یو غړي وویل چې هغه په دې وروستیو کې له ایران څخه راستون شوی و، او له کوم بل سیاسي ګوند یا غورځنګ سره یې تړاو نه درلود.

د ۲۰۲۵ کال په اګست کې، یو پخوانی نظامي د هلمند ولایت د استخباراتو د مامورینو لخوا د طالبانو ضد ډلو سره د اړیکو په تور ونیول شو. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې دا کس د توقیف په جریان کې له شکنجې او نورو ناوړه چلندونو سره مخ شوی و.

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۸ مه، د هرات ولایت یو اوسیدونکی د استخباراتو د مامورینو لخوا د طالبانو ضد ډلو سره د همکارۍ په تور ونیول شو او زنداني شو. هغه د نومبر په درېمه نېټه د یو باوري ضمانت له ورکولو وروسته له زندان څخه خوشې شو. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، دا کس د توقیف په جریان کې سخت وهل شوی دی.

**همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۷ مه، یوه پخوانۍ نظامي ښځه د هرات ولایت د استخباراتو اداري لخوا د طالبانو ضد ډلو سره د همکارۍ په تور ونیول شوه. هغه د شواهدو د نشتوالي له امله د ولایت د مرکز د ښځو له زندان څخه لس ورځې وروسته خوشې شوه.**

په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۵ کال د نومبر پر ۵مه، د ملي اردو یو پخوانی افسر د هرات ولایت له کرخ ولسوالۍ څخه د دې ډلې د دفاع وزارت د ځواکونو لخوا  مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور ونیول شو. هغه وروسته «الفاروق» قول اردو ته ولیږدول شو، خو د هغه د اوسني حالت په اړه هیڅ معلومات نشته.

ګڼ شمېر نورې قضیې هم شته چې ځینو دغو کسانو خپله د محکومیت ټاکل شوې موده بشپړه کړې، خو لا هم په توقیف کې پاتې دي او خوشې شوي نه دي. له کندهار ولایت څخه ترلاسه شوي معلومات ښیي چې د طالبانو محکمو د زندان چارواکو ته لیکونه لیږلي دي او د دې اشخاصو د خوشې کیدو غوښتنه یې کړې، خو پلي کول یې ځنډیدلي او تر اوسه عملي شوي نه دي.

د طالبانو په مخالفو ډلو کې د غړیتوب یا همکارۍ په تور د افرادو نیول، پرته له دې چې د عادلانه محاکمې اساسي اصول مراعات کړي، لکه څنګه چې په پورته ذکر شویو قضیو کې یادونه وشوه، د افرادو د آزادۍ او شخصي امنیت حق څخه د سرغړونې او د بشري حقونو په نړیوالو اسنادو کې د شاملو مکلفیتونو څخه د سرغړونې یوه بیلګه ګڼل کیږي.

## د-  د طالبانو د امربالمعروف قانون څخه د سرغړونې په تور نیول

**په ۲۰۲۵ کال کې، لږ تر لږه ۲۱۲۵ کسان، چې ۸۸ یې ښځې وې، په خپلسري ډول نیول شوي او د قانوني موازینو له رعایت پرته نیول شوي او زنداني شوي دي. د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د دې اشخاصو پر وړاندې تورونه په عمده توګه د امربالمعروف له قانون څخه د سرغړونې اړوند ؤ، لکه د جامو ډول، د ږیرې او ویښتو سټایل او اندازې پورې اړوند مقررات، د پګړۍ نه په سر کول، د موسیقۍ اورېدل، د جماعت په لمانځه کې ګډون نه کول، د حجاب نه اغوستل، د شرعي محرم نه درلودل، د غیر محرمو سره خبرې کول، او ورته مسایل.**



Photo (C) dpa picture alliance / Alamy

سربېره پر دې، يو شمېر نور وګړي د اعتراضي لاريونونو په جريان کې نيول شوي دي، چې په اړه به يې په اړونده برخه کې په تفصيل سره وضاحت ورکړل شي.

د دې راپور موندنې ښيي چې د پورته ذکر شويو اشخاصو خپلسري او غيرقانوني نيونې په ۲۰۲۵ کال کې پنځه چنده زياتې شوې دي. په ۲۰۲۴ کال کې، رواداري د نورو ټولو ملکي وګړو د خپلسرو او غيرقانوني نيونو شاوخوا ۳۷۹ قضيې ثبت کړې وې. همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال معلومات د ۲۰۲۳ کال د ثبت شويو شمېرو په پرتله چې ۲۹۱ ثبت شوې پېښې وې، له اووه چنده څخه ډېر زيات زياتوالی ښيي.

په دې سيمه کې د خپلسرو نيونو د زياتوالي تر شا يو له اصلي عواملو څخه د غيرقانوني کړنو زياتوالی او د امر بالمعروف د مامورينو لخوا د هيوادوالو په ځانګړې توګه د ښځو په عامه او شخصي ژوند کې پراخې مداخلې دي. دې اقداماتو، د خپلو پراخو ابعادو او د عملي کېدو د طريقې له مخې، د شخصي حريم، فردي ازاديو او د اشخاصو د شخصي امنيت په اړه جدي اندېښنې راولاړې کړې دي.

سره له دې، راټول شوي شواهد او معلومات ښيي چې په ۲۰۲۵ کال کې د طالبانو د امربالمعروف مامورينو له شپنيو ګزمو او په دوامداره توګه په ښارونو، کليو، هوټلونو، رستورانتونو، دوکانونو، زيارتونو، جوماتونو، عامه او خصوصي ښوونځيو او دوکانونو کې پرله پسې موجوديت سره، هيوادوال ځورولي او په ځينو مواردو کې يې په ډله ييزه توګه نيولي دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۷مه، دوی د دايکندي ولايت په مرکز کې د يوې ليسې ۲۷ زده کونکي ونيول او د رېرې نه درلودو او په لويديځ سټايل د ويښتانو جوړولو په تور يې د دريو ورځو او شپو لپاره بنديان کړل. همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۸مه، د دايکندي ولايت د «نيلي زاړه بازار» څخه لږ تر لږه ۴۶ دوکانداران د امر بالمعروف افسرانو لخوا د جماعت په لمانځه کې د ګډون نه کولو په تور ونيول شول او ناوړه چلند ورسره وشو.

**په ورته وخت کې، د ۲۰۲۵ کال په ډسمبر کې، د کندهار ولايت په دامان ولسوالۍ کې د امر بالمعروف مامورينو يوازې په يوه ورځ کې له دوو هوټلونو څخه ۱۰ تنه د «لمونځ پريښودو» او رېرې کمولو په تور ونيول. په هلمند ولايت کې، د ۲۰۲۵ کال په جولای کې، ۱۷ ځايي اوسيدونکي، چې عمرونه يې د ۲۰ او ۳۰ کلونو ترمنځ ؤ، او ډېری يې بزګران ؤ، د ولسي موسيقۍ د غږولو په تور ونيول شول. ترلاسه شوي معلومات ښيي چې د دې اشخاصو له بندي کولو وروسته، د امربالمعروف مامورينو هغوی وهلي او شکنجه کړي دي.**

**په يوه بله قضيه کې، د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر په ۱۶مه، د طالبانو د امربالمعروف مامورينو د هرات ولايت په جبريل ښارګوټي کې يوه ښځه د «بې حجابۍ» په تور ونيوله. پنځه ورځې وروسته، هغه د هرات ښار په مرکز کې د ښځو له زندان څخه په ضمانت خوشې شوه. د يادې ښځې په وينا، د نيولو پر مهال ورسره له تحقير او سپکاوي ډک او ناوړه چلند شوی دی. هغې ويلي چې د امربالمعروف مامورينو هغې ته «چټل هزاره»، «بې دينه» او «بد شکله» کلمې کارولې دي.**

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۱۶مه، د امربالمعروف مامورينو د باميان ولايت له مرکز څخه پينځه نجونې د بې حجابۍ په تور ونيولې او بنديانې يې کړې. دا کسان د يوې اونۍ لپاره بنديانې وې او بالاخره د دوی د کورنيو لخوا د ضمانت وړاندې کولو وروسته خوشې شوې. په يوه بله قضيه کې، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۸ مه، د پروان ولايت يو اوسيدونکی، خپل کور ته نږدې د جماعت په لمانځه کې د نه ګډون په تور ونيول شو. هغه د طالبانو له زندان څخه له يوې ورځې او يوې شپې وروسته خوشې شو؛ خو د بيا ځل ځورېدو څخه د وېرې له امله هغه اړ شو چې له خپلې کورنۍ سره بل ولايت ته کډه شي.

د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر پر ۱۸مه، د غزني ولایت د امربالمعروف مامورینو د «نکریزو شپې» مراسمو په جریان کې د یوې ناوې پلار او ورور ونیول. د دې کورنۍ یو غړي ویلي دي:

«دا زما د خور د نکریزو شپه وه او موږ په کور کې موسیقي غږوله. د شپې ۱۲ بجو شاوخوا د امربالمعروف مامورینو موټر د دروازې مخې ته ودرېد. دوی د ناوې پلار راوغوښت. زما پلار ځان معرفي کړ او غوښتل یې چې د موسیقۍ غږولو بخښنه وغواړي، خو دوی هغه په زور موټر ته واچاوه او زما مشر ورور یې هم ونیولو. د خلکو د غوښتنو او منځګړیتوب سره سره، د امربالمعروف مامورینو دواړه له ځان سره بوتلل. په هغه شپه، د واده مراسم په غم او اندېښنې بدل شول، او خور مې تر سهاره ژړل. بله ورځ، یو شمېر سیمه ییز مشران د امربالمعروف دفتر ته ورغلل او زما پلار او ورور په ضمانت خوشې شول.»

**په غزني ولایت کې یو بل مرکه شوي کس وویل چې د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر لومړۍ نیټه د هغه د ورور د واده مراسم د ښار په یوه تالار کې ترسره کېدل، چې د امربالمعروف مامورین تالار ته راغلل او هڅه یې وکړه چې د ښځو په تالار کې د موسیقۍ غږولو او د مراسمو د عکاسۍ له امله د هغه پلار له ځانه سره بوځي. هغه وایي چې د مشرانو په منځګړتوب یې پلار ته اجازه ورکړل شوه چې په مراسمو کې پاتې شي او د میلمنو پالنه وکړي. خو د امربالمعروف مامورینو د هغه د پلار پر ځای هغه له ځان سره بوتلو. هغه چې درې شپې توقیف شوی، وایي: «د ورځې په اوږدو کې، موږ څو کسان په یوه کانټینر کې وو، او هره ورځ یې نوي خلک راوړل. زه او دوه نور کسان یې د شپې له خوا د جنایي جرمونو څانګې ته لېږدولو.»**

## د انساني کرامت د حق نقض

انساني کرامت یو ذاتي حق دی او د مساوي بشري حقونو بنسټ ګڼل کیږي. دا حق د انسانانو پر حرمت او کرامت ټینګار کوي، چې باید په هیڅ حالت کې له پامه ونه غورځول شي. له همدې امله، د انساني کرامت درناوی د نورو د حقونو رعایت کولو ته اړتیا لري، لکه له هر ډول شکنجې، تحقیر، سپکاوي، او د ظالمانه چلند نورو ډولونو څخه خلاصون.[27] خو د رواداري موندنې ښیي چې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې، طالبانو د ډارولو، سزا ورکولو، سپکاوي، معلوماتو ترلاسه کولو یا اعترافاتو اخیستلو لپاره په مختلفو لارو خلک شکنجه کړي او ناوړه چلند  یې ورسره کړی دی.

سربېره پر دې، په پورته ذکر شوې موده کې، د طالبانو محکمو په پراخه کچه ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډکې سزاګانې صادرې او پلي کړې دي، چې د عادلانه محاکمې معیارونو او د انساني کرام د حق د رعایت په اړه یې جدي اندېښنې راپورته کړې دي.

### الف- د بندیانو شکنجه کول او ورسره ناوړه چلند

له شکنجې څخه خلاصون د افرادو یو مطلق، نه جلا کیدونکی او نه سلب کېدونکی حق دی چې په هیڅ حالت کې نشي تر پښو لاندې کیدای، حتی په استثنایی حالاتو کې لکه د جګړې ګواښ، داخلي بې ثباتۍ، ناامنۍ، یا د بیړني حالت په کوم بل وضعیت کې. د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکو چلندونو یا سزاګانو پر ضد نړیوال کنوانسیون او د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق د خلکو شکنجه کول او ناوړه چلندونه منعه کړي دي.[28]

27. د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، مقدمه او لومړۍ ماده.
28. د شکنجې د مخنیوي نړیوال کنوانسیون، لومړۍ ماده. د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۷مه ماده.

اوس مهال، په افغانستان کې د جرم په توګه د شکنجې د پېژندلو لپاره کوم ځانګړی قانوني چوکاټ نشته، ځکه چې طالبانو پخوانی اساسي قانون، جزایي قوانین، او د شکنجې د مخنیوي ځانګړی قانون ځنډولی دی.[۲۹] له همدې امله، شکنجه او ناوړه چلند د عدلي او قضایي بنسټونو او تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب په ځایونو کې، د معمول طریقو په توګه کارول کېږي.

سربېره پر دې، د شکنجې او ناوړه چلند اړوند د عاملانو د مسئول ګرځولو او د شکایتونو د ارزونې لپاره د خپلواکو او اغېزناکو میکانیزمونو نشتوالی د دې لامل شوی چې له مجازاتو څخه معافیت دوام ومومي او قربانیان عدالت ته لاسرسی ونه لري.

د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب ځایونو ته د رواداریٰ د نه لاسرسي له امله، په زندانونو کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه د دقیقو ارقامو ورکول شتون نلري. اما د دې سره سره، د مصاحبه کوونکو څخه ترلاسه شوي معلومات ښيي چې د اعتراف او معلوماتو د اخیستلو په موخه شکنجه او ناوړه چلند په پراخه کچه کارول کیږي. په قربانیانو کې ډېری پخواني حکومتي کارمندان، هغه کسان چې د طالبانو ضد ډلو سره د اړیکو په تور تورن ؤ، خبریالان او د مدني ټولنې فعالین شامل دي.

## ۱ - د طالبانو په توقیف ځایونو کې د شکنجې ډولونه او لارې چارې

**د رواداري موندنې ښيي چې په ۲۰۲۵ کال کې، د ولایتونو په مرکزونو کې د ځینو عمومي زندانونو (محبسونو) وضعیت لومړنیو اسانتیاوو ته د بندیانو د لاسرسي له پلوه نسبتا ښه شوی، او په دې ځایونو کې د شکنجې او بد چلند لږې قضیې راپور شوې دي. سره له دې، تر ټولو ډېرې شکنجې او ناوړه چلندونه د استخباراتو د اداري، پولیسو او په ځانګړې ډول د ولسوالیو په کچه د امنیه قوماندانۍ په حوزو او نظارتخونو کې ترسره شوي دي.**

د برقي شاټونو ورکول، چپه ولچک کول، د نارینه وو په تناسلي غړو پورې د درنو شیانو ځړول، د نشه یي دوا ورکول، د قربانیانو سرونه په پلاستیکي کڅوړو کې بندول او ساه بندول، مصنوعي ډوبول، په زوره د ډېرو اوبو ورکول، په کرکیو یا چتونو پورې او یا په رسیو له ویښتو یا لاسونو او پښو څخه ځړول، خلک اړ ایستل چې د اوږدې مودې لپاره په دردناکو حالتونو کې ودریږي یا کیني، په کوتک، سوکانو او لغتو، د ټوپک په کنداغ او کیبلونو وهل، د سر د ویښتانو او د لاسونو د نوکانو ایستل، په ځاه کې اچول، د اوبو او خوړو څخه محرومول، یا تشناب ته له لاسرسي څخه محرومول، د اوږدې مودې لپاره په یوازیتوب کې د تورو تمبو شاته ساتل، د جنسي، قومي او مذهبي پلوه د هغوی تحقیر او سپکاوی، تر ستونې نیول، وژل او د بندیانو او د هغوی د کورنۍ د غړو د وژلو ګواښ د طالبانو په زندانونو او توقیف ځایونو کې د شکنجې عامې طریقې دي.

## ۲ - د قربانیانو روایتونه

د ترلاسه شویو معلوماتو او شواهدو پر بنسټ، طالبانو شکنجه د سزا ورکولو، ډارولو یا سپکاوي، معلوماتو ترلاسه کولو یا له قربانیانو څخه د اعترافاتو ترلاسه کولو لپاره د یوې وسیلې په توګه کارولې ده، او حتی هغه اشخاص یې شکنجه کړي او ناوړه چلند یې ورسره کړی دی چې دوی د ناسمو او غلطو معلوماتو له مخې نیولي دي. د بېلګې په توګه، له هلمند ولایت څخه یو خوشې شوی بندي وویل: «د روان کال د جون د اتمې نېټې سهار وختي، زه د طالبانو لخوا هغه وخت ونیول شوم کله چې زه د ولسوالۍ بازار ته روان وم. دوی زه د امنیه قوماندانۍ ته بوتلم او هره شپه یې د ټوپک په کنداغونو، سوکانو او لغتو سره شکنجه کولم. زه هلته یوه اونۍ

29 . رواداري، د طالبانو په عدلي او قاضیي نظام کې عدالت ته لاسرسی، مخ. ۱۳، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/03/RW_Rule-of-Law-Report-Pashto.pdf

وم او د خپل تور په اړه هیڅ نه پوهیدم. یوه اونۍ وروسته یې خوشې کړم او ویې ویل چې د بل چا سره په تېروتنه یې نیولی وم.»

د هیواد له یو سویلي ولایت څخه یو بل قرباني چې د استخباراتو په نظارت خونه کې شکنجه شوی و، له رواداري سره په یوه مرکه کې داسې ویلي دي:

«...په دربمه شپه، یو سړی چې په سختۍ سره یې پښتو ویله او پاکستانی ښکاریده، ما ته یې وویل چې ته تر سبا پورې وخت لرې چې اعتراف وکړې کنه وژل کېږې. ویل یې موږ ستا ملګري هم نیولي دي، او هغوی ټولو په خپلو جرمونو اعتراف کړی دی. زه نه پوهېدم چې دوی د څه په اړه خبرې کولې او زما ګناه څه ده، ځکه چې ما هیڅ جرم نه و کړی. ماسپښین دوه بجې وې چې دوو کسانو زما په شکنجه کولو پیل وکړ. کله چې دوی ماته برقي شاټونه راکول، زما پوستکی سوځېده او ما د سوځېدو بوی مې حس کاوه. دوی په دوامداره توګه زما پښو، غوږونو او د بدن مختلفو برخو سره د بریښنا تارونه نښلول، او راته یې ویل چې اعتراف وکړم چې زه یو امریکایی جاسوس وم او ما ورسره کار کړی دی. هر کله چې ما منفي ځواب ورکاوه، دوی زه ډیر سخت شکنجه کولم. دوی زما سترګې دومره تېزې رڼا ته مخ کولې چې د دوو ساعتونو لپاره مې سترګو کار نه کاوه. ما دوه ورځې نه ډوډۍ خوړلې او دوی ماته په یوه چټل ګیلاس کې اوبه راکولې چې نیم یې له خټو ډک و. واقعاً ستړی شوی وم او د دوی پوښتنو ته مې هیڅ ځواب نه درلود. پرله پسې هره ورځ یې په بېلابېلو طریقو شکنجه کولم، زما په تناسلي آلې پورې درووند وزن ځړاوه چې زما لپاره یې تصور کول هم ګران ؤ... یوه ورځ، کله چې ډاکټر د بندیانو د معاینې لپاره راغلی و، ما ولیدل چې شپاړس کلن تنکي ځوان هلکان هم د بندیانو په منځ کې ؤ. له دوی څخه یو چې سترګې یې توري حلقې کړې وې او حالت یې غیر معمولي ښکاریده، ما ته نږدې شو او ویې ویل، کاکا، ته هم اعتراف وکړه، کنه تا سر هم همدا کار کوي. ما وپوښتل، څه کار؟ خپل ټپی او شین شوي بدن ته په اشارې سره یې راته وښوده چې جنسي استفاده ترې شوې. هغه د سختې شکنجې له امله یې د غایطه موادو کنټرول له لاسه ورکړی و. د دې صحنې لیدل زما لپاره ډېر زړه بوګنوونکي ؤ. هیڅکله مې تصور نه کاوه چې یو انسان تر دې حده تر تیري او بې حرمتۍ لاندې راشي.»

د کندهار ولایت یو اوسیدونکی چې په دې وروستیو کې د طالبانو ضد یوې ډلې د غړیتوب په تور دوه کاله بند شوی و، او په وروستیو کې خوشې شوی دی، رواداري ته یې په یوه مرکه کې وویل:

«موږ درې تنه وو او د استخباراتو په زندان کې په خورا سختو طریقو شکنجه کېدوو؛ تر دې حده چې زه تر ۱۴ ورځو او شپو نشوم ویده کیدای. اوس زما اعصاب سم کار نه کوي او جدي رواني ستونزې لرم. له درملو پرته خوب نشم کولی او حافظه مې هم خرابه شوې ده. د اعتراف اخستلو لپاره یې مونږ سخت په کیبل وهلو، تر دې چې په دې موده کې ما لس کیلو وزن بایلود.» هغه دا هم ویلي چې د هغه یو ملګری په زندان کې ناروغه شوی و، ځکه چې طالبانو هغه په سخته تودوخه کې ساته او شکنجه کاوه یې.

د غزني ولایت څخه یو بل مرکه شوی، چې د دریو میاشتو لپاره د طالبانو په زندان کې و، وایي:

«د شکنجې طریقه دا وه چې د بندیانو لاسونه یې په چت پورې تړل چې پښې یې له ځمکې پورته وې. بیا یې په شا، پښو او لاسونو په لرګیو، زنځیرونو او د ټوپک په کنداغونو وهل. د بلاک مسؤل کس موږ شکنجه کولو، هغه یو بې سواده کس و، چې حتا لاسلیک یې بل چا کاوه. هغه ډېر ظالم و، او هره ورځ یې درې، څلور بندیان په همدې طریقه شکنجه کول.»


په ورته ډول، د هرات ولایت یو اوسیدونکی چې د ۲۰۲۵ کال په نوامبر کې د طالبانو له زندان څخه خوشې شوی، ویلي یې دي چې د استخباراتو په نظارت خونه او په هرات مرکزي زندان کې سخت شکنجه شوی، چې اوس هغه خپل ادرار نشي کنټرولولی، جنسي ورتیا یې له لاسه ورکړې او اوس په بد رواني وضعیت کې دی.

**په کندهار ولایت کې د طالبانو د محکمو یو کارمند، د استخباراتو اداري او د امنیه قوماندانۍ له خوا د شکنجه کېدو د تایید تر څنګ ویلي هغه کسان چې په دې ادارو کې شکنجه کیږي، هغه وخت محکمو ته معرفي کیږي کله چې دوی په بشپړ ډول ښه شي. د دې سرچینې په وینا، طالبان د شکنجې د قضیو د پټولو او قربانیانو ته د بشري حقونو د سازمانونو د لاسرسي د مخنیوي لپاره له مختلفو لارو چارو کار اخلي. د بېلګې په توګه، په تېرو وختونو کې، په دې ولایت کې د شکنجې قربانیان میرویس حوزوي روغتون ته لیږدول کیدل؛ مګر په دې وروستیو کې دوی نظامي روغتونونو ته لیږدول کیږي چې د شکنجې د نښو هیڅ اسناد یا شواهد نورو اشخاصو او ادارو ته په لاس ور نشي. له بلې خوا، د شکنجې قربانیان ګواښل کیږي چې په زندانونو کې د خپلو تجربو په اړه چوپ پاتې شي.**

هغه قضیې چې تشریح شوې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې د طالبانو تر کنټرول لاندې زندانونو کې د ثبت شویو شکنجو د ټولو مستندو شویو پېښو بېلګې دي. رواداري په یو څېړنیز راپور کې چې د قربانیانو د لومړي لاس او مستندو بیانونو پر بنسټ ولاړ دی، د آزادۍ د سلب د ځایونو وضعیت او د وګړو د نیول کېدو له وخته تر خوشې کېدو پورې هغوی سره د طالبانو د چلند ډول په تفصیل سره څېړلی دی.[30]

## ۳ - د بندیانو وژل

د دې راپور د معلوماتو له مخې، په ۲۰۲۵ کال کې، لږ تر لږه ۱۱ کسان د طالبانو تر کنټرول لاندې زندانونو کې له سختو شکنجو وروسته وژل شوي دي. په ۲۰۲۴ کال کې، رواداري په ټوله کې د شکنجې ۲۰ پیښې ثبت کړې وې، چې په وژنه تمامې شوې وې. د دواړو شمېرو پرتله ښیي چې په ۲۰۲۵ کال کې د بندیانو وژنې شاوخوا ۴۵٪ کمې شوې دي. همدا راز، دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال په پرتله چې ۱۰ پېښې وې ۱۰سلنه زیاتوالی ښیي.




30 . رواداري، شکنجه او ناوړه چلند: د طالبانو تر واکمنی لاندې افغانستان کې د زندانونو وضعیت، (جون ۲۰۲۵)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/06/RW_TortureReport_Pashto-Final-1.pdf

د ترلاسه شویو معلوماتو او شواهدو پر بنسټ، په ۲۰۲۵ کال کې، د شکنجې ډیرې پېښې چې د وژنې لامل شوې دي، د طالبانو د استخباراتو اداري په اړوندو نظارت‌خونو کې رامنځته شوې دي. قربانیان ډېری پخواني حکومتي کارمندان او هغه کسان دي، چې له مخالفو ډلو سره د غړیتوب یا همکارۍ تور پرې لګیدلی.

د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال په ډسمبر کې، د طالبانو استخباراتي مامورینو په هلمند ولایت کې د یوه پخواني نظامي پر کور چاپه ووهله او هغه یې د یو موټرسایکل د غلا په تور ونیو. له ځایي سرچینو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، دا کس د استخباراتو د نظارت‌خونې په یوه تیاره کوټه کې ساتل کېده، چې درې ورځې وروسته د سختې شکنجې له امله ومړ. له پېښې وروسته، طالبانو د قرباني کورنۍ ته ګواښ کړی و، او له هغوی یې غوښتي ؤ چې چوپ پاتې شي، او د هغه د مړینې د څرنګوالي په اړه له رسنیو یا نور چا سره خبرې ونه کړي. د طالبانو ځايي چارواکو همدا راز دې کورنۍ ته ویلي چې که چا د پیښې په اړه پوښتنه وکړه، باید ورته ووایي چې قرباني د زړه د حملې له امله مړ شوی دی. خو د قرباني د کورنۍ یو غړي ویلي دي چې د قرباني پر بدن د شکنجې او سختو وهلو او ټپونو نښې دوی ته قناعت ورکړ چې هغه د استخباراتو په نظارت خونه کې د شکنجې له امله وژل شوی دی.

په ورته وخت کې، د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۳۰مه، یو پخوانی نظامي د غزني ولایت په اندړو ولسوالۍ کې د طالبانو لخوا ونیول شو او د سختو شکنجو له امله ووژل شو. د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، د دې پخواني سرتیري مړی څو ورځې وروسته د ځایي خلکو لخوا وپیژندل شو او وموندل شو. عیني شاهدانو ویلي چې دوی د قرباني پر بدن د شکنجې ځرګندې نښې لیدلې دي. خو په غزني ولایت کې د طالبانو ځايي چارواکو تر اوسه د دې پېښې په اړه څه نه دي ویلي.

په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۲۱مه، یو پخوانی نظامي د غزني ښار په لومړۍ امنیتي حوزه کې له نیول کېدو او سختې شکنجې وروسته ومړ. طالبانو د دې پخواني نظامي د جسد د سپارلو پر مهال د هغه کورنۍ ته وویل چې هغه د یو روږدي کس سره د نښتې په ترځ کې وژل شوی دی. د قرباني کورنۍ د دې ادعا د ردولو تر څنګ ویلي دي چې هغه د طالبانو له خوا نیول شوی و، او د سختې شکنجې نښې یې هم پر بدن لیدل کېدې. په ورته ډول، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۳۰مه، د غزني ولایت په مرکزي زندان کې یو ۱۷ کلن ځوان مړ شوی او طالبانو یې مړی د هغه کورنۍ ته سپارلی دی. د قرباني خپلوانو ویلي چې هغه تېر کال د یو سړي د وژنې په تور نیول شوی او زنداني شوی و. د جسد د سپارلو پر مهال، طالبانو ویلي چې هغه د نامعلومو دلایلو له امله ځان زندۍ کړی اوی ځانوژنه یې کړې؛ هغه ادعا چې د قرباني کورنۍ یې نه مني.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ پر ۱۴مه، طالبانو د ملي مقاومت جبهې د یوه غړي او د پنجشیر ولایت د یوه اوسېدونکي جسد د دوو کلونو بند او شکنجې وروسته د هغه کورنۍ ته وسپاره. دا کس دوه کاله وړاندې د کابل-پنجشیر پر لاره د درملنې لپاره د لیږدولو پرمهال پیژندل شوی او نیول شوی و. د هغه د یوه خپلوان په وینا، په دې موده کې هغه د طالبانو په زندانونو کې سخت شکنجه شوی و؛ د هغه لاس مات شوی و او د بدن څو نورې برخې یې متضررې شوې وې. هغه لومړی د استخباراتو په نظارت خونه کې او وروسته د پلچرخې او بګرام په زندانونو کې ساتل کیده.

پورته یادې قضیې، چې د طالبانو په توقیف ځایونو کې د شکنجې د هغو پیښو یوه برخه جوړوي چې د مرګ لامل شوې دي، ښیي چې واکمنو چارواکو نه یوازې د عاملانو د تحقیق، تعقیب او سزا ورکولو لپاره هیڅ اقدام نه دی کړی، بلکې له دغو مرګونو څخه په انکار او نورو لاملونو ته په منسوبولو سره، او همدارنګه د ګواښ او وېروونې له لارې یې هڅه کړې چې د قربانیانو کورنۍ چوپتیا ته اړباسي.



همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال په اکتوبر کې، د دایکندي ولایت د خدیر ولسوالۍ یو اوسیدونکی، زندان څخه تر خوشې کیدو یوه ورځ وروسته ومړ. هغه ۱۹ کلن و او د مخدره توکو د پېر و پلور په تور په ۶ میاشتو بند محکوم شوی و. د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، هغه د خپلې ټاکل شوې سزا یوازې درې میاشتې بند تېر کړی و، خو د سختې شکنجې له امله د خپلې سزا له بشپړولو مخکې له زندانه خوشې شو او د هغې ورځې په سبا ومړ.

Photo (C) Tuyen Vo / Unsplash

## ۴ - د طالبانو د زندانونو د څارنې د اغېزناک میکانیزم نشتوالی

د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب په مرکزونو کې د شکنجې او ناوړه چلند د دوام یو اغېزناک عامل، د خپلواکو څارنیزو میکانیزمونو نشتوالی او د زندانیانو شکایتونو ته د اغېزناکې او بې پرې رسېدنې د امکان نشتوالی دی.[31] د بشري حقونو د نړیوالو معیارونو له مخې، لکه د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکو چلندونو د مطلق مخنیوي له مکلفیتونو څخه له راولاړېدونکو تعهداتو سره سم، دولتونه مکلف دي چې د آزادۍ د سلب پر مرکزونو خپلواکه څارنه ممکنه کړي او د شکنجې د ادعاوو د ثبت، ارزونې او تعقیب لپاره اغېزناک میکانیزمونه رامنځته کړي.[32]

خو سره له دې، طالبان اوس مهال هېڅ خپلواک داخلي او نړیوال بنسټ ته د توقیفځایونو او زندانونو د لاسرسي او اغېزناکې څارنې اجازه نه ورکوي، او خپله هم د زندانیانو د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو ډولونو اړوند شکایتونو ته د رسېدنې لپاره له کوم شفاف، حساب‌ورکوونکي او اغېزناک میکانیزم څخه پیروي نه کوي. دې وضعیت په عمل کې د بندیانو د بشري حقونو د جدي نقض د دوام او له حساب ورکولو څخه د عاملانو د پرله پسې معافیت لپاره لاره هواره کړې ده.

د دې راپور موندنې ښیي چې د امر بالمعروف او د احکامو او فرمانونو د تعقیب اداره په ځینو ولایتونو کې د شکنجې د اړوندو شکایتونو د ثبت او رسېدنې لپاره ځینې اقدامات ترسره کوي؛ خو د امنیتي بنسټونو یوه د پام وړ برخه دا کار د خپلو صلاحیتونو په چارو کې لاسوهنه بولي او یا له یادو ادارو سره د همکارۍ لېوالتیا نه ښیي.

د ترلاسه شویو شواهدو پر بنسټ، یوازې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، په کندهار ولایت کې د امربالمعروف اداري په امنیتي ادارو کې د شکنجې د تورونو اړوند ۱۶۰ شکایتونه ثبت کړي دي. خو سره له دې، دوی تر اوسه پورې د دې شکایتونو د څرنګوالي، او په ځانګړي ډول د شکنجې د مرتکبینو د تعقیب اړوند کوم راپور نه دی خپور کړی.

**همدا راز، له خوست ولایت څخه ترلاسه شوي راپورونه ښیي چې که د بندیانو کورنۍ د امربالمعروف اداري د شکایتونو اورېدو برخې ته شکایت وکړي، رسیدګي ورته کېږي. همدارنګه، په پروان ولایت کې د فرامینو او احکامو د تعقیب اداري، د امر بالمعروف اداري او محکمو د آزادۍ د سلب د ځایونو د څارنې پر مهال له زندانیانو غوښتي چې خپل احتمالي شکایتونه په لیکلي ډول هغوی ته وړاندې کړي. خو یادو ادارو ته د شکایتونو د لېږلو د طریقې په اړه معلومات نشته.**

په ورته وخت کې، د طالبانو د زندانونو د تنظیم اداره په خپل تشکیل کې د څارنې یوه څانګه لري چې ځینې وختونه د ولایتونو عمومي زندانونه څاري. د هېواد په یو شمېر نورو برخو کې، لکه په بامیان ولایت کې، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر تر نوم لاندې کمېسیونونه د زندانونو د څارنې لپاره جوړېږي، چې تر ډېره د زندانیانو عمومي او معیشتي وضعیت او خوراک او نورو لومړنیو اسانتیاوو ته د هغوی د لاسرسي کچه څاري. په ځینو مواردو کې د دې ولایت د استیناف محکمه یا والي یو پلاوي ته د زندانونو د وضعیت د ارزونې دنده سپاري. دا اداري هیڅکله عامه راپورونه نه خپروي، او د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، پورته یادې اداري یوازې عمومي وضعیت او اساسي اسانتیاوو ته د بندیانو د لاسرسي شرایط څاري، او په اصل کې د بې برخلیکۍ، مدافع وکیل ته د لاسرسي نشتوالي، شکنجې او ناوړه چلند پورې اړوندو شکایتونو ته د رسیدګي واک نلري.

31 . رواداري، د شکنجې او ناوړه چلند په اړه ریوټ، مخ ۶۲
32 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، ۲ او ۱۱ مادې

سربېره پر دې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو څانګه، د خپل څارونکي ماموریت د یوې برخې په توګه، د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب د ځینو ځایونو لیدنه او څارنه کوي. دغه څارنه تر ډېره د ولایتونو په مرکزونو کې د ښځینه او نارینه عامو توقیف‌خونو او زندانونو څارنه رانغاړي. د ترلاسه شویو شواهدو له مخې، د یوناما څارنه له اړوندو مسؤلینو سره د مخکنۍ همغږۍ او اجازې په شرط ده، او دا بنسټ نه شي کولای چې په ناڅاپي ډول او له مخکې تر مخکې همغږۍ پرته د دغو مرکزونو څارنه وکړي؛ هغه محدودیت چې د څارنې پر اغېزناکتیا او د شکنجې او ناوړه چلند د مواردو د خپلواکې مستندسازۍ پر امکان اغېز کوي.

په دې منځ کې، د استخباراتو اداري او د امر بالمعروف اړوند نظارت‌خونې، او همدارنګه په ټولو ولایتونو کې د امنیه قوماندانیو اړوند امنیتي حوزې، چې د شته معلوماتو له مخې په همدغو ځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند تر ټولو ډېر موارد راپور شوي دي، لا هم د یوناما له لاسرسي څخه بهر دي، او دا بنسټ د دغو مرکزونو د څارنې اجازه نه لري.

## ب- د ظالمانه او غیر انساني سزاګانو پلي کول

د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د اوومې مادې له مخې، هېڅوک شکنجه کېدای نه شي او نه هم له ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکو سزاوو او چلندونو سره مخ کېدای شي.[33] د میثاق د اوومې مادې په تفسیر کې، د بشري حقونو کمېټه د بدني سزاګانو او عامه اعدامونو په ګډون، د ظالمانه او غیر انساني سزاګانو، په بشپړ ډول منعه کولو ته اشاره کوي، ځکه چې دا د افرادو او ټولنې لپاره وحشتناک او سپکوونکی طبیعت لري، او ټینګار کوي چې د جګړې یا سیاسي بې ثباتۍ په ګډون هیڅ بیړنی حالت نشي کولی د دې ډول سزاګانو پلي کول توجیه کړي. [34]

سره له دې، معلومات ښیي چې د طالبانو محکمو د دې راپور په موده کې یو لړ ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډکې سزاګانې پلې کړې دي یا یې حکم صادر کړی دی. په دې سزاګانو کې اعدام، سنګسار، جسمي سزاګانې، او د تورنو کسانو د عامه سپکاوي نورې طریقې شاملې دي.

دا چې د طالبانو قضایي بنسټونه د عادلانه محاکمې اصولو ته، لکه له شکنجې څخه د افرادو د خوندیتوب او مدافع وکیل ته د لاسرسي حق ته ژمن نه دي او د شکنجې له لارې ترلاسه شوي اعترافونه د خپلو حکمونو د صادرولو بنسټ ګرځوي، د دې ډول سزاوو پلي کول خورا جدي اندېښنې راولاړوي. په ځانګړې توګه، بې ګناه خلکو ته د سزا ورکولو خطر هم لري، ځکه چې لکه څنګه چې د دې راپور په تیرو برخو کې بحث شول، طالبانو د دې راپور په موده کې د غلطو معلوماتو پر بنسټ یو شمیر خلک نیولي او شکنجه کړي دي.

د طالبانو محکمو د ۱۱۴ ښځو په ګډون کم تر کمه ۸۵۷ تنه له کوره د تېښتې، له واده پرته د اړیکو، غلا، لواطت، قاچاق، او د مخدره توکو او الکولي مشروباتو په کارولو او پېر و پلور په تورونو په دُرو وهلي دي. همدارنګه، په ۲۰۲۵ کال کې، دوی د قتل په تور پر ۶ نارینه وو وراندې د قصاص حکم اجرا کړی، او د نامشروع اړیکې په تور د تورنې یوې ښځې د سنګسار حکم یې صادر کړی دی.

33 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللیمیثاق، ۷مه ماده.

34 . د بشري حقونو کمېټه، ۷مه عمومي تبصره: د میثاق د اوومې مادې پلي کول،د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، د ۱۹۸۲ کال د جولای په ۳۰ مه تصویب شوی، د سند شمیره ۲۰۰۸/۷۰/۲۳، HRI/GEN/1/Rev.9 (جلد. ۱)

## ۱. د سنګسار او قصاص مجازات

په ۲۰۲۵ کال کې، د طالبانو محکمو په خوست، نیمروز، فراه او بادغیس ولایتونو کې لږ تر لږه شپږ د قصاص سزاګانې پلې کړې دي، او همدارنګه په دایکندي ولایت کې یې یوې ښځې ته د سنګسار سزا صادره کړې ده.

د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۲مه نیټه، د طالبانو سترې محکمې په یوه مطبوعاتي اعلامیه کې اعلان وکړ چې «یو قاتل باندې د قصاص الاهي حکم» پلی شو. دا حکم د طالبانو د مشر مولوي هبت الله اخوندزاده له تایید وروسته د خوست ولایت په ورزشي لوبغالي کې پلی شو. د طالبانو د سترې محکمې په مطبوعاتي اعلامیه کې ویل شوي چې اعدام شوی کس د پکتیا ولایت د سید کرم ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی او د خوست ولایت د علي شیر ولسوالۍ فعلي اوسیدونکی و، چې د یو سړي د قصدي وژنې په تور محکوم شوی و.[۳۵]

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۱۶مه، د طالبانو سترې محکمې د بادغیس ولایت په لوبغالي کې د یو سړي د اعدام خبر ورکړ. د طالبانو د سترې محکمې د مطبوعاتي اعلامیې له مخې، دغه کس د یو سړي او یوې ښځې د وژنې په تور محکوم شوی و، چې د هغه د قصاص کولو حکم د طالبانو د رهبر له تایید وروسته د نندارچیانو پر وړاندې پلی شو.[۳۶]

په ورته وخت کې، د ۲۰۲۵ کال د اپریل پر ۱۱مه، د طالبانو سترې محکمې د هیواد په دریو ولایتونو کې په قتل د تورنو څلورو کسانو د قصاص حکم پلی کړ. د طالبانو د سترې محکمې د خبرپاڼې له مخې، دوه تنه د بادغیس ولایت د قلعه نو په ښار کې، یو تن د نیمروز ولایت په مرکز زرنج ښار کې، او یو بل تن د فراه ولایت په مرکز کې په ورزشي لوبغالو کې او د سلګونو نندارچیانو په حضور کې د مرمۍ په ډزو اعدام شول. دا سزاګانې د طالبانو د مشر له تایید وروسته ترسره شوې، او یاد کسان په داسې حال کې اعدام شول چې لاسونه او سترګې یې تړل شوې وې.[۳۷]

په کندهار ولایت کې، په قتل د یو تورن کس د قصاص حکم د استیناف محکمې لخوا د صادر شوی و، چې د مقتول کورنۍ وروسته هغه وباښه او په همدې توګه د سترې محکمې له خوا د قصاص حکم لغوه شو. همدارنګه، د دایکندي ولایت لومړنۍ ښاري محکمې د دایکندي ولایت د مرکز یو ۱۵ کلن ماشوم ته د ۸۰۰۰ افغانیو د غلا په تور د «لاس پرې کولو» د سزا حکم کړی و چې د استیناف محکمې یې سزا تعدیل کړه او یاد ماشوم په حجز (د ماشومانو د اصلاح او روزنې په مرکز کې ساتل کېدو) باندې محکوم شو.


له بلې خوا، د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۱۹مه، د دایکندي ولایت په اشترلي ولسوالۍ کې د طالبانو لومړنۍ محکمې یوه ښځه د نا مشروع ماشوم د زیږون په تور د سنګسار په سزا محکومه کړه. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې د دې ښځې د رسمي اعتراض له امله صادر شوی حکم تر اوسه پلی شوی نه دی او د تعلیق په حال کې دی.

د مرګ سزا په عامه توګه پلې کول، په ځانګړې توګه په عامه ځایونو او د نندارچیانو په مخ کې، د دې چارې بوږنوونکي ماهیت او پر ټولنه یې زیان لرونکو پایلو ته په کتو د ظالمانه او غیر انساني سزا یوه بیلګه ګڼل کیږي چې د بین المللي بشري حقونو د اسنادو له مخې په کلکه منعه شوې ده.

35 . د افغانستان اسلامي امارت، ستره محکمه، خبرپاڼه، د ډسمبر ۲مه، ۲۰۲۵.
36 . هماغه سرچینه، https://supremecourt.gov.af/ps/all-news?page=30
37 . پژواک خبري اژانس، «په دریو ولایتونو کې په څلورو کسانو باندې غچ اخیستونکې سزا ترسره شوه»، د اپرېل ۱۱مه، ۲۰۲۵، https://pajhwok.com/ps/2025/04/11/retaliatory-punishment-was-carried-out-on-four-people-in-three-provinces/?utm_source=chatgpt.com

## ۲. بدني سزاوي

د دې راپور موندنې ښيي چې د طالبانو محکمو په ۲۰۲۵ کال کې د ۱۱۴ ښځو په ګډون لږ تر لږه ۸۵۷ کسان د کوره د تېښتې، لواطت، له واده پرته اړيکو، غلا، د مخدره توکو او الکولي مشروباتو د توليد، خرڅلاو او کارولو په تور په دُرو وهلي دي. دا شمېرې د ۲۰۲۴ کال په پرتله، چې ۵۲۴ پېښې وې، ۶۳.۵٪ زياتوالی ښيي. همدا راز، دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال د معلوماتو په پرتله چې ۹۴۲ پېښې وې، له ۹ سلنې څخه ډېر کموالی څرګندوي.




د ترلاسه شويو شواهدو پر بنسټ، د طالبانو محکمې په ډېرى ډوله جرمونو کې په دُرو وهل د تکميلي سزا په توګه صادروي، چې لويه برخه يې د عامو خلکو له نظره لرې ترسره کېږي. په ځينو مواردو کې، په ځانګړې توګه د اخلاقي جرمونو اړوند، دا سزاوې په عامه توګه ترسره کېږي، او د امر بالمعروف مامورين او د جوماتونو امامان د اعلاناتو او خبر پاڼو له لارې خلک د سزا د پلي کولو په ځای کې حاضريدو ته ورغواړي. د رواداري موندنې ښيي چې د ګډون کوونکو د پام وړ شمېر، د ماشومانو په ګډون د ديني مدرسو ښوونکي او زده کوونکي دي.[38]

په کندهار ولايت کې د طالبانو له محکمو څخه د ترلاسه شويو معلوماتو له مخې، هغوی هره ورځ خلک په خصوصي توګه او د خلکو له نظره لرې په دُرو وهي. د بېلګې په توګه، يوازې په يوه مياشت کې، د دې ولايت محکمو د قاضيانو، شاهدانو او د محکمې د مراجعينو په شتون کې ۷۸ کسان په دُورو وهلي دي. لکه څنګه چې يادونه وشوه، د دُرو وهلو سزا پر تورنو کسانو باندې د اضافي سزا په توګه پلي کيږي، او دا کسان په ورته وخت کې په بند هم محکوميږي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال په ډسمبر کې، د هرات ولايت د ښاروالی ابتدايي محکمې، د طالبانو د سترې محکمې له تاييد وروسته، د قاضيانو او مراجعينو په شتون کې ۸ کسان د الکولي مشروباتو د توليد او پېر و پلور په تور ۳۹ دُرې ووهل. دغه کسان همدا راز هر يو يې د دوه کلونو بند پر سزا هم محکوم شول.

په ورته وخت کې، د ډسمبر پر لسمه، د غزني ولايت په مقر ولسوالۍ کې دوه کسان د نامشروعو جنسي اړيکو په تور په عام محضر کې په دُورو ووهل شول. د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، له دې کسانو څخه يو يې په درې کاله بند او بل يې په پنځو کلونو بند محکوم شو. سربېره پر دې، د لوګر ولايت په ازرې ولسوالۍ کې، يوې ښځې او يو سړي ته په عام محضر کې له کوره د تښتېدو په تور شل شل دُرې ورکړل شوې او په يو کال

38 . رواداري، د بشري حقونو ريوټ ۲۰۲۴، مخ ۲۰.

تعزیري بند محکوم شول. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر پر ۲۶مه، په میدان وردګ ولایت کې د طالبانو یوې ابتدائیه محکمې په عام محضر کې یو سړی او یوه ښځه د نامشروع اړیکو په تور شل دُرې ووهل.

طالبان عموماً د دُرو د حکم له پلي کولو مخکې، د تورنو کسانو هویت، د هغو کسانو په ګډون چې په اخلاقي جرمونو او غلا تورن شوي وي، له جزییاتو سره خپروي او په علني ډول یې اعلانوي. دا عمل د برائت الذمه یا د بې ګناهۍ له اصل او هم د افرادو له وقار او انساني کرامت سره په ټکر کې دی.[۳۹]

## ۳. د غیر انساني سزاګانو نورې بڼې

ترلاسه شوي معلومات او شواهد ښیي چې په ۲۰۲۵ کال کې، د پورته ذکر شویو قضیو سربیره، طالبانو د غیر انساني او له سپکاوي ډکو سزاګانو نورې بڼې هم پلي کړې دي. د ۲۰۲۵ کال په جنوري میاشت کې، هغوی د هلمند ولایت په نوزاد ولسوالۍ کې، په غلا د تورن یو سړي مخ تور کړ او په بازار کې یې د خلکو د لیدو لپاره وګرځاوه. په ورته بله قضیه کې، په همدې نېټه طالبانو د هلمند ولایت په نادعلي ولسوالۍ کې یو پر نشه‌یي توکو روږدی کس، چې د غلا په تور تورن و، په یو اوږد لرګي پورې وتاړه او د عامو خلکو مخې ته یې ودراوه، چې ټول یې ووینې.

سره له دې، دغه ډول اقدامات چې د افرادو د تنبیه او مجازات کولو لپاره د طالبانو له لوري ترسره شوي، کېدای شي د ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکو سزاوو له بېلګو څخه وبلل شي، چې د بشري حقونو په نړیوالو اسنادو کې له درج شویو احکامو سره په ټکر کې دي او د انساني کرامت د حق نقض بلل کېږي.[۴۰]


Photo (C) dpa picture alliance / Alamy

39 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۱۴ او ۱۷ مادې
40 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۷مه ماده.

## د سوله ییزو اعتراضي غونډو او لاریونونو ځپنه

د سوله ییزو غونډو جوړول یو بنسټیز بشري حق دی چې په نړیوالو اسنادو لکه د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق کې تضمین شوی دی. په دې حق کې د نظرونو د څرګندولو، اعتراض کولو یا د ګډو اهدافو د ملاتړ لپاره د عامه یا خصوصي غونډو د جوړولو حق شامل دی.[41] د بشري حقونو د نړیوالو اسنادو له مخې، حکومتونه نه یوازې په خپلسري ډول د غونډو په ترسره کولو او مخنیوي کې له هر ډول لاسوهنې منعه شوې دي، بلکې مکلف دي چې د خوندي ساتلو لپاره یې اړین شرایط هم چمتو کړي. په دې حق باندې هر ډول محدودیتونه یوازې هغه وخت اجازه لري چې د قانون له مخې اټکل شوي وي او په یوه ډیموکراتیکه ټولنه کې د ملي امنیت یا عامه ګټو، نظم، روغتیا یا اخلاقو د ساتنې لپاره، یا د نورو د حقونو او آزادیو د ملاتړ لپاره اړین وي.[42]

سره له دې، طالبان اوس مهال هیڅ ډول لاریونونو یا عدالت غوښتونکو غونډو ته اجازه نه ورکوي او د زور او له تاوتریخوالي د ډکو طریقو په کارولو سره یې ځپي. په ۲۰۲۵ کال کې، دوی لږ تر لږه ۲۹ اعتراضي غونډې په تاوتریخوالي سره وځپلې، او لږ تر لږه ۱۴۰ اعتراض کوونکي یې ونیول، ۷ تنه یې ووژل او ۳۲ نور یې ټپیان کړل. ترسره شوي غونډې او لاریونونه د مالیاتو د زیاتوالي، د ښځو او نجونو د ځورونې، قومي تبعیض، د کروندو د ویجاړولو، د ځمکو د غصب او له طبیعي سرچینو څخه د ناعادلانه ګټې اخیستنې پر ضد ترسره شوي دي. هغه طریقې چې د دې غونډو او لاریونونو د ځپلو لپاره کارول کیږي په کې هوایي ډزې کول، پر لاریون کونکو مخامخ ډزې، او د هغوی نیول او بندیانول شامل دي.

د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۸مه، طالبانو د فاریاب ولایت د دولت آباد ولسوالۍ د قوزی‌بای کلا په کلي کې لږ تر لږه ۵۰ ازبیک لاریون کوونکي ونیول. دا پېښه وروسته له هغه وشوه چې د طالبانو دوو غړو د سیمې نجونې ځورولې. دا عمل وروسته د سیمې د ځوانانو او طالبانو تر منځ د نښتو لامل شو. طالبانو دا ځوانان ونیول؛ خو د کلي اوسېدونکو د سیمې د ځوانانو د نیولو په اعتراض کې یو اعتراضي لاریون وکړ، چې دا راټولېدنه وروسته د طالبانو د تبعیضي چلند په نقدولو سره پراخه شوه. طالبانو د لاریونونو د ځپلو لپاره هوایي ډزې کړې دي او د لاریون کوونکو له وهلو ټکولو نه یې ګټه اخستې، او بندیان یې تورن کړي دي چې د «اسلامي حکومت» او «د اسلام دین» پر وړاندې یې اعتراض کړی دی. دا کسان وروسته د سیمه ییزو مشرانو په منځګړیتوب خوشې شول.

**په ورته ډول، د ۲۰۲۵ کال په لومړیو دریو میاشتو کې د بدخشان ولایت په خاش، جرم، ارغنج خواه، بهارک او وردوج ولسوالیو کې د پنځو لاریونونو په ترځ کې، چې د تبعیض، د ځمکې غصب، له طبیعي سرچینو څخه د غیرعادلانه ګټې اخستنې، د ځمکې او څړځایونو پر سر دعوو او د کوکنارو د فصل د تخریب اړوند جوړ شوي ؤ، لږترلږه ۷ لاریون کوونکي ووژل شول، ۵۱ ټپیان شول، او ۳۲ نور ونیول شول.**

د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۱۱مه، د هلمند ولایت په ګرشک ولسوالۍ کې یو شمېر پلورونکي د کرایې او مالیاتو د زیاتوالي پر ضد د اعتراض لپاره ښاروالۍ ته لاړل، چې د دې اداري چارواکو د هغوی دری تنه ونیول او په یوه کانټینر کې یې بندیان کړل. دا لاریون کوونکي له یوې ورځې او یوې شپې وروسته خوشې شول.

41 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۲۱مه ماده.
42 . هماغه سرچینه.

**په ورته ډول، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۵مه، د سرک غاړې صرافانو د هلمند ولایت په لښکرګاه ښار کې د افغانستان بانک د پریکړې په اعتراض کې یو سوله ییزه لاریون وکړ، چې دوی یې د کار له دوام څخه منعه کړي ؤ. طالبانو دغه راټولېدنه په هوایي ډزو او تاوتریخوالي سره وپاشله، او درې تنه لاریون کوونکي یې ونیول. نیول شوي کسان له درېو ورځو وروسته په ضمانت خوشې شول.**

په یوه بله پېښه کې، وروسته له هغه چې په هرات ښار کې د درې ټایره موټرو پر چلولو نوي محدودیتونه ولګول شول، موټر چلوونکو د طالبانو د والي د دفتر مخې ته احتجاجي غونډه وکړه. خو طالب ځواکونو دوی د هوایي ډزو په واسطه سره وپاشل او د ولایتي اداري ودانۍ ته یې د هغوی د نږدې کېدو مخه ونیوله. ځایي چارواکو په دې وروستیو کې په عامه او له ګڼه ګوڼې ډکو سړکونو کې د درې ټایره موټرو یا ریکشو چلول په بشپړ ډول منعه کړي دي.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۲۸مه، یو شمېر سیمه ییز مشران د غزني ولایت په مرکز کې د «دشت تلخک زار روضه» په سیمه کې د طالبانو له خوا د بار وړونکو موټرو د تمځای جوړولو د پریکړې پر وړاندې د اعتراض په توګه راټول شول. ټاکل شوې دا پروژه د خلکو پر شخصي ځمکو او کاریزونو پلي شي. له همدې امله خلکو اعتراض وکړ، خو طالبانو په تاوتریخوالي سره غونډه وځپله او دوه لاریون کوونکي یې د څو ساعتونو لپاره توقیف کړل.

که څه هم طالبانو په ۲۰۲۵ کال کې د خلکو اعتراضونه او غونډې په تاوتریخوالي سره ځپلي دي، خو په ځینو مواردو کې یې خلک اړیستي دي چې د دوی په خوښه غونډې جوړې کړي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۲۵مه، په بامیان ولایت کې د طالبانو والي، د ښوونځیو او پوهنتونونو د استادانو په ګډون د ګواښونو او د دندې د فشار له لارې دولتي کارکوونکي دې ته اړیستل، چې د بین المللي جزایي محکمې له خوا د دې ډلې د مشرانو د نیولو د حکم پر ضد اعتراضي لاریون وکړي. په ورته ډول، په یو شمیر نورو ولایتونو کې، طالبانو خلک هڅولي چې د فلسطین په ملاتړ لاریونونه او غونډې جوړې کړي.

دويمه برخه

# د انجونو او ښځو د بشري حقونو وضعيت




Photo (C) Sayed Habib Bidell / Alamy

د دې راپور موندنې ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې، طالبانو د ښځو د بنسټيزو حقونو لکه تعليم، کار، د تګ راتګ ازادۍ او عدالت ته له لاسرسي څخه د محروموولو سربېره، د دوی په ژوند کې د تبعيض، محدوديتونو او ټولنيز کنټرول لمن هم پراخه کړې ده، په ځانګړې توګه د امر بالمعروف او نهه عن المنکر قانون د پلي کولو له لارې. دې محدوديتونو ښځې له ډېرو آزاديو څخه محرومې کړې دي او د دوی په فردي او ټولنيز ژوند يې ژورې اغيزې کړې دي.

## ۱. د تعليم پر حق د محدوديتونو سختول

د تعليم حق د افرادو يو له خورا مهمو بشري حقونو څخه ګڼل کيږي، چې د بشري حقونو د نړيوالو اسنادو لخوا پېژندل شوی او د ټولو افرادو لپاره تعليمي او تحصيلي فرصتونو ته د مساوي او برابر لاسرسي پر اړتيا يې ټينګار کی دی.[43] د پورته ذکر شويو اسنادو له مخې، د جنسيت يا نورو دلايلو پر بنسټ له دې حق څخه د ګټې اخستنې په برخه کې هر ډول تبعيض له پورته ذکر شويو مقرراتو څخه انحراف او د بشري حقونو سرغړونه ګڼل کيږي.

خو د رواداري موندنې ښيي چې د راپور په دې موده کې، طالبانو نه يوازې د ښځو پر مخ د ښوونځيو او پوهنتونونو دروازو پرانيستلو لپاره هيڅ اقدام نه دی کړی؛ بلکې د يوې سختې پالیسۍ په غوره کولو سره يې د دوی د تعليم پر حق باندې نور تبعيض او محدوديتونه هم وضعه کړي دي.

د ترلاسه شويو شواهدو او معلوماتو پر بنسټ، د طالبانو د امر بالمعروف اداري په ۲۰۲۵ کال کې د هيواد په بېلابېلو برخو کې پټ تعليمي کورسونه په نښه کړي او تړلي دي او همدارنګه يې د هغو عصري مضامينو تدريس منعه کړی دی، چې پخوا په يو شمير ديني مدرسو کې تدريس کېدل.

**له بلې خوا، له کندهار ولايت څخه ترلاسه شوي معلومات ښيي چې طالبان پلان لري د نجونو ځينې ښوونځي پر ديني مدرسو بدلي کړي. لکه څنګه چې تر اوسه پورې، د کندهار ښار په پنځمه ناحيه او ميدان هوايي ساحه کې د نجونو دوه ښوونځی په ديني مدرسو بدلي شوي دي. همدا راز، په وروستۍ قضيه کې، هغوی ټولو د لوړو زده کړو اړوندو بنسټونو ته امر کړی چې د ښځو لخوا د ليکل شويو کتابونو له تدريس څخه ډډه وکړي.**

د ښځينه ښوونکو او ښځينه زده کونکو لپاره د حجاب او شرعي محرم اړوند مقررات سختول، حتی په ټيټو کچو کې له دريم ټولګي څخه پورته نارينه زده کونکو ته د ښځينه ښوونکو لخوا د تدريس بنديز، د مسلکي زده کړو په پروګرامونو، نقاشۍ او خطاطۍ کې د ښځو او نجونو د ګډون بنديز، د ګنډلو او ګلدوزۍ په څير تعليمي پروګرامونو بندول، د لسګونو تعليمي کورسونو بندول چې په پټه يې د ښځو او نجونو لپاره تعليمي فرصتونه برابرول، او په دې مرکزونو کې د ښوونکو او زده کونکو نيول هغه هم اقدامات دي چې طالبانو د دې راپور ورکولو په موده کې د هيواد په بيلابيلو برخو کې په پراخه کچه پلي کړي دي.

43 . د بشري حقونو نړيواله اعلاميه، ۲۶ ماده. د اقتصادي ټولنيزو او فرهنګي حقونو بين المللي ميثاق، ۱۳مه ماده.

## د کوچنیو نجونو لپاره حجاب او شرعي محرم اړین ګرځول

**له شپږم ټولګي څخه ښکته د نجونو زده کونکو اړیستل چې حجاب او اوږدې جامې واغوندي، او د مخونو د پټولو لپاره ماسکونه اچول، لکه په کندهار، هلمند، زابل، پروان، بدخشان او هرات او یو شمېر نورو ولایتونو کې؛ د سینګار توکو او زیوراتو، د نوکانو د رنګ کارولو او د اوږدو نوکانو درلودلو ممنوعیت هغه محدودیتونه دي چې د امر بامعروف قانون له پلي کیدو وروسته د پام وړ سخت شوي دي. خو، د رواداري موندنې ښيي، هغه زده کونکي چې له دې سختو مقرراتو څخه سرغړونه کوي، مجازات شوي، سپکاوی یې شوی، او په ځینو مواردو کې حتی د دوی جامې څیرل شوي یا له ښوونځي څخه ایستل شوي دي.**

طالبانو د بامیان په ګډون په یو شمیر ولایتونو کې د امر بالمعروف قانون د دودولو او په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو د لباس د ډول او په عامه ځایونو کې د دوی د حضور اړوند د مقرراتو پلي کولو لپاره تعلیمي او تبلیغاتي پروګرامونه جوړ کړي دي. په ورته ډول، د امر بالمعروف مامورین، په دولتي او خصوصي ښوونځیو کې د خپل دوامدار شتون له لارې، د ښځینه زده کوونکو او ښوونکو د لباس اغوستلو د څرنګوالي په ګډون د دې مقرراتو پلي کول څاري.

**همدارنګه، ترلاسه شوي معلومات او شواهد ښيي چې د کندهار ولایت د امر بالمعروف اداري له شپږم ټولګي څخه ښکته هغو ښځینه زده کونکو ته «د محرم کارتونه» ویشلي دي چې عمرونه یې نهه کلنۍ ته رسیدلي دي، او هغوی ښوونځي ته د تګ او راتګ لپاره د دې اړتیا لري چې شرعي محارم ولري. سربېره پر دې، د هلمند او غزني ولایتونو په ځینو ښوونځیو کې، هغه نجونې چې له شپږم ټولګي څخه ښکته دي او د نهه کلنۍ عمر ته رسیدلې دي او په فزیکي توګه په ونه لوړې یا په بدن لویې دي، په ټولګیو کې له ګډون څخه منعه شوې دي. دغه اقدامات د هغې برداشت له مخې پلي شوي، چې طالبان یې د حنفي فقهې پر بنسټ د نجونو د بلوغ د عمر اړوند وړاندې کوي.**

سره له دې، د دې محدودیتونو د پلي کولو لپاره، د امر بالمعروف مامورین په منظم ډول د ښځینه زده کونکو د هویت کارتونه ګوري ترڅو ۹ کلنې نجونې وپیژني او دوی په ټولګیو کې له ګډون څخه منعه کړي؛ دا یو داسې اقدام دی چې د تعلیم له حق څخه د نجونو د لا ډېر محرومیت خطر لري. څکه چې په افغانستان کې ماشومان په ۷ کلنۍ کې ښوونځی پیل کوي، او د دې رویې پر بنسټ، ډېری نجونې به یوازې وکولی شي خپلو زده کړو ته تر دریم ټولګي پورې دوام ورکړي.

په ورته وخت کې، د دې راپور موندنې ښيي چې په غور ولایت کې، نجونې یوازې په ډېرو محدودو ساعتونو کې ښوونځي ته د تګ اجازه لري، او ځینې وختونه دوی د اختلاط یا د مناسبو جامو د نشتوالي په پلمه ښوونځي ته له ننوتلو منعه کیږي.

د مرکه شویو روایتونه

په ورته ډول، د غزني ولایت یو بل زده کونکي ویلي دي:

«له غرمې وروسته، د ټولګي په درېم درسي ساعت کې، د امربالمعروف درې مامورین ښوونځي ته ننوتل. موږ ټول وېرېدلي وو؛ څکه چې زموږ په ښوونځي کې، له شپږم ټولګي څخه پورته نجونو په غیر رسمي توګه او په پټه زده کړې کولې. د ښوونځي مدیر سمدلاسه دغه نجونې پنځم او شپږم ټولګي ته بوتلې او یو شمېر نورې یې د ښوونځي په زېرزمینۍ کې پټې کړې. د امر بالمعروف مامورینو د ښوونځي مدیر او سرښوونکي ته، چې دواړه نارینه وو، وویل، له دې وروسته تاسو په دې ښوونځي کې د دندو ترسره کولو حق نلرئ، او که بیا مو دلته ووینو، بندیانوو مو.»



Photo (C) dpa picture alliance / Alamy

یو مرکه شوي کس له ښځینه زده کونکو سره د امر بالمعروف د مامورینو د چلند د ډول او د غزني ولایت د یو خصوصي ښوونځي د مدیر د نیولو په اړه داسې ویلي دي:

«موږ د درس په حال کې وو چې د امر بالمعروف مامورین ښوونځي ته را ننوتل او د یوې ښځینه زده کوونکې د جامو اغوستلو په ډول یې سخته نیوکه وکړه، چې نوې له ایرانه راستنه شوې وه. دوی زده کوونکي او ښوونکي په ناوړه ژبه تحقیر کړل او د هغوی سپکاوی یې وکړ. دې زده کوونکې، چې په پټه یې په اووم ټولګي کې زده کړې کولې، د امر بالمعروف د مامورینو د چلند پر وړاندې یې غبرګون وښود او ویې ویل، «تاسو زموږ له جامو سره څه کار لرئ او ولې نجونو ته د زده کړې اجازه نه ورکوئ؟» دې خبرو طالبان په غوسه کړل، او هڅه یې وکړه چې دا زده کوونکې ځان سره بوځي؛ خو هغې مقاومت وکړ. وروسته د امر بالمعروف افسران نورو ټولګیو ته لاړل، او ټولې نجونې یې له ښوونځي څخه وشړلې، او د ښوونځي اداره یې مهر لاک کړه. زده کوونکي ډېر وېرېدلي ؤ او ژړل یې. طالبانو د ښوونځي مدیر ونیو او له ځان سره یې یوړ، خو دوه ورځې وروسته د ښوونکو په ضمانت د امر بالمعروف له توقیف ځای څخه خوشې شو. هغوی بېرته ښوونځي ته راغلل او و یې ویل چې معترض زده کوونکی باید له ښوونځي وشړل شي. سربېره پر دې، ۱۶ هغه نجونې چې په اووم ټولګي کې یې په غیر رسمي ډول زده کړې کولې، هم له ښوونځي څخه وویستلې.»

سربېره پر دي، د کندهار په سیمه کې د یوه ښوونځي مدیر وویل چې د ښوونځي د ځارنې پر مهال، د امر بالمعروف مامورین له ښځینه زده کونکو څخه د دیني احکامو، لمونځ او نورو دیني مسلو په اړه پوښتنې کوي، او حتی په هغو قضیو کې چې زده کونکي سم ځوابونه هم ورکړي، تحقیریږي او سپکاوی یې کیږي.

## ښځو لپاره د تعلیمي خدماتو د وړاندې کولو له امله د ښوونکو نیول

**د دې راپور معلومات ښیي چې په ۲۰۲۵ کال کې، طالبانو لږ تر لږه ۱۵ خصوصي ښوونځي، ۴۱ د انګلیسي ژبې ټولګي، او ۱۱ د کمپیوټر ټولګي چې په پټه یې نجونو ته زده کړې ورکولې، وتړل، او د ۸ ښځو په ګډون یې لږ تر لږه ۱۳ ښوونکي ونیول. همدارنګه، په دې موده کې یې په پکتیکا ولایت کې لږ تر لږه ۲۶۷ تعلیمي ټولګي، چیرې چې له ۸۰۰ څخه زیاتې ښځینه زده کوونکو زده کړې کولې، او په بامیان ولایت کې دوه د سواد زده کړې ښوونځي تړلي دي. د سواد زده کړې په دې ښوونځي کې د ډېر عمر لرونکو ښځو لپاره تر شپږم ټولګي تعلیم ورکول کېده.**

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د امر بالمعروف اداري د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې د هرات ښار په ۲، ۵، ۷ او ۱۰ ناحیو کې، او په جبریل ښارګوټي، زنده جان، غوریان، کرخ، انجیل او ګذره ولسوالیو کې یو شمېر تعلیمي کورسونه تړلي دي. دې اداري د دې مرکزونو مسئولینو ته خبرداری ورکړی چې که خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي نو له جدي اقدام سره به مخ شي. د مثال په توګه، د ۲۰۲۵ کال په ډسمبر کې، د طالبانو استخباراتو، پولیسو او د امر بالمعروف مامورینو دوه روزنیز مرکزونه په نښه او وتړل، چې په پټه د ښځو لخوا په خپلو کورونو کې د هرات ولایت په زنده جان ولسوالۍ او جبریل ښارګوټي کې جوړ شوي ؤ. که څه هم طالبانو د ګذر وکیل او مشرانو په ضمانت د دې ښځو له نیولو څخه ډډه وکړه، خو هغوی ته یې خبرداری ورکړ چې که داسې فعالیتونه تکرار کړي، نو و به نیول شي او زنداني به شي. د امر بالمعروف مامورین څو ځلي د دې ښځو کورونو ته ورغلي او له ځایی اوسیدونکو څخه یې د دې تعلیمي مرکزونو د فعالیت د دوام په اړه معلومات اخستي دي.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال په سپتامبر میاشت کې په خوست ولایت کې یو تعلیمي کورس چې په پټه یې له ۱۰ تر ۱۸ کلونو نجونو ته زده کړې ورکولې، د طالبانو د معارف اداري له لوري په نښه او وتړل شو. په دې مرکز کې، ښځو نجونو ته تدریس کاوه. په یوه بله قضیه کې په دې ولایت کې، طالبانو د یو خصوصي ښوونځي مشر ونیو، چې نجونو ته یې له شپږم ټولګي پورته زده کړه ورکوله. هغه وروسته د پیسو په ورکولو د طالبانو له بند څخه خوشې شو.

له بلې خوا، د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۲۳مه، طالبانو د غور ولایت په لعل او سرجنګل ولسوالۍ کې دوه تعلیمي مرکزونه په نښه او وتړل. په دې مرکزونو کې نجونو ته په پټه د شپږم ټولګي څخه پورته مضامین تدریس کېدل. طالبانو د دې تعلیمي مرکزونو چاراواکو ته ګواښ وکړ چې که دوی خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي نو و به نیول شي او زنداني به شي.

د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ پر ۲۷مه، طالبانو په بامیان ولایت کې د انګلیسي او کمپیوټر ۴۶ ټولګي وتړل او ۶ کسان یې ونیول، چې ۴ یې ښځینه ښوونکې وې. دا کسان د نجونو لپاره د تعلیمي خدماتو په وړاندې کولو تورن ؤ. په ورته ډول، په غزني ولایت کې، د انګلیسي ژبې د زده کړې یو مرکز او د خطاطۍ او نقاشۍ یو مرکز د ښځو لپاره د تعلیمي خدماتو وړاندې کولو له امله وتړل شول. طالبانو د دې دوو تعلیمي مرکزونو چاراواکي د یو څخه تر شپږو ساعتونو پورې توقیف کړل.

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۱۰مه، د غزني ولایت د امر بالمعروف مامورینو له دوو خصوصي ښوونځیو څخه یو شمېر ښځینه زده کوونکې وشړلې او ځینې یې ووهلې. دې نجونې په پټه په اووم ټولګي کې زده کړې کولې چې د امر بالمعروف د مامورینو لخوا په نښه شوې. د امر بالمعروف مامورینو دغه نجونې له ښوونځي وشړلې، او له هغوی څخه یې ځلور تنه د نجونو د تعلیم له حق څخه د محرومیت پر سر د شخړې په جریان کې په لرګیو ووهلې او کنځلې دي. د یوې زده کوونکې پلار وویل چې د هغه د ۱۵ کلنې لور پر ملا باندې د لرګیو د وهلو نښې نښانې وې او هغه په ژړا کور ته راستنه شوه. طالبانو د دغو دوو ښوونځیو چارواکو ته خبرداری ورکړی چې که دوی له شپږم ټولګي پورته نجونو ته تدریس ته دوام ورکړي، نو دوی به یې ښوونځي وتړي او بندیان به یې کړي.

## ۲. د کار تبعیضي شرایط

د کار حق او عادلانه کاري شرایطو ته مساوي لاسرسی د هر فرد د بشري حقونو یوه برخه ده، چې د بشري حقونو په ډېری نړیوالو اسنادو کې تضمین شوې ده. له همدې امله، له دې حق څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې د جنسیت، قومیت، مذهب یا ژبې پر بنسټ هر ډول تبعیض او محرومیت په قانوني توګه منعه دی او د بشري حقونو سرغړونه ګڼل کیږي.[44]

سره له دې، د دې راپور موندنې ښیي چې په ۲۰۲۵ کال کې، طالبانو، په داسې حال کې چې په ښځو باندې تبعیضي کاري شرایط دوام لري، د نورو تبعیضي محدودیتونو لګولو او پلي کولو اقدام یې هم کړی دی. د بېلګې په توګه، د روغتیا په څانګو کې د ښځینه ښوونکو او کارمندانو لپاره د شرعي محرم درلودل او د امر بالمعروف اداري د کندهار، هلمند او ارزګان په ګډون په ځینو ولایتونو کې د مطلوب پوښاک په توګه «چادري» اغوستل، د ځینو ښځینه ښوونکو مجبورول چې ښوونځي پریږدي، د ګلدوزۍ او خیاطۍ په څېر مسلکونو کې د کار منعه کول، او د کوچنیو سوداګریو لپاره د جوازونو ورکولو څخه انکار، له هغو محدودیتونو څخه دي چې طالبانو په ۲۰۲۵ کال کې لګولي دي؛ هغه اقدامات چې د افغان میرمنو د کار کولو حق په اړه د واکمنو چارواکو د محدودیت لرونکو او تبعیضي پالیسیو شدت ښیي.

سره له دې د امر بالمعروف اداري هغه ښځې چې د پوهنې او روغتیا په سکتورونو کې کار کوي، اړیستې دي چې کار ته د تګ راتګ او د خپلو دندو ترسره کولو پر مهال شرعي محارم ولري. د اوږدې ړیړې درلودل، پګړۍ او د طالبانو د خوښې جامې درلودل د ښځو د شرعي محارمو له مهمو شرایطو څخه دي. هغه نارینه چې لنډه ږیره او د امر بالمعروف اداري له معیارونو سره سم جامې و نلري، د «محرم کارت» ترلاسه کولو وړ نه دي. دا محدودیتونه د طالبانو له خوا د امر بالمعروف قانون د پلي کولو مستقیمه پایله ده، چې په عمل کې یې د کار کولو حق ته د ښځو لاسرسی نور هم محدود کړی دی.

### د روغتیا او تعلیم په برخو کې د دندو پریښودو ته د ښځو اړیستل

د شرعي محرم درلودلو او د حجاب (چادري) اغوستلو په ګډون د سختو محدودیتونو زیاتوالی، د ښځو لپاره د پوهنې او روغتیا په برخو کې د کار کولو لپاره یو شرط ګڼل کیږي؛ هغه وضعیت چې په مؤثره توګه یې یو شمیر ښځینه ښوونکې او د روغتیا د برخې کارمندانې اړیستې دي چې خپلې دندې پریږدي.

44 . د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۳مه ماده. د اقتصادي ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق، مواد ۶ او ۷.

په دې اړه، د هلمند ولایت یوې ښوونکې له رواداري سره په مرکه کې ویلي: «د امر بالمعروف اداري په لومړنیو ښوونځیو کې ټولو ښځینه کارمندانو او ښوونکو ته اعلان کړی چې دوی حق نلري د شرعي محارمو له ملتیا پرته ښوونځیو ته لاړې شي.»

په ورته ډول، له پروان ولایت څخه یوې نرسې ویلي دي: «هره ورځ، د استخباراتو او امر بالمعروف مامورین کلینیک ته راتلل او زموږ چلند او هغه د پوښاک ډول یې څاره. په دې کار سره یې د روغتیا د برخې کارمندانو او مراجعینو لپاره فضا لکه د زندان په څیر کړې وه. دوی تل د حجاب د ډول، د تګ راتګ د څرنګوالي او د محرم د ملتیا په اړه پوښتنې کولې. له دې امله، زه اړ شوم چې خپله دنده پرېږدم.»

**له بامیان ولایت څخه یو بل مرکه شوي کس ویلي دي: «ماد روغتون د زیږون په څانګه کې کار کاوه، خو کله چې دوی نوي محدودیتونه ولګول، شرایط زموږ لپاره خورا ستونزمن شوي ؤ. د بېلګې په توګه، دوی ویل چې تاسو باید له یو شرعي محرم سره کارځای ته راشئ. ما له دې شرایطو سره ځان نشو برابرولی؛ ځکه زما له کورنۍ څخه هیڅوا نشول کولی زما ملتیا وکړي. کله چې دوی وویل چې له محرم پرته کار ته د تګ اجازه نه لرم، نو زه مجبوره شوم خپله دنده پرېږدم.»**

سره له دې، په هغو قضیو کې چې ښځو د امربالمعروف له خوښې سره سمې جامې نه رعایت کوې یا له مذهبي محرم پرته کارځای ته راتلل، له څورونې سره مخ کېدل او په ځینو مواردو کې له خپلو دندو ګوښه شوي دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د فبروري پر ۱۲مه، د غور ولایت په یوه سیمه ییزه اداره کې یوه ښځینه کارکوونکې د محرم نه درلودو له امله د طالبانو لخوا له دندې ګوښه شوه. هغه د خپلې کورنۍ یوازینۍ ډوډۍ راوړونکې او سرپرسته وه، خو د محرم نه درلودلو له امله له دندې ګوښه شوه. په ورته ډول، په هرات او بادغیس ولایتونو کې، طالبانو څو ښځینه قابلې، نرسانې او واکسیناتورې د شرعي محرم نه درلودلو له امله له دندې ګوښه کړې دي.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال په نومبر کې، طالبانو په دایکندي ولایت کې د درملتونونو، مسلکي څانګو، قابله ګۍ او نرسینګ په ګډون ښځې په خصوصي روغتیایي سکتورونو کې له کار څخه منعه کړې او کم تر کمه دوه ښځې یې له خپلو دندو څخه ګوښه کړې دي. په غزني ولایت کې هم د امر بالمعروف اداري د هلکانو او نجونو خصوصي ښوونځیو ته امر کړی چې د ښځینه ښوونکو له ګمارنې ډډه وکړي. همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۳۰مه، په دې ولایت کې د طالبانو د اطلاعاتو و فرهنګ ریاست ټولو سیمه ییزو رسنیو ته ویلي چې د ښځو د کار او د هغوی د غږونو خپرولو مخه ونیسي.

**په غور ولایت کې، د طالبانو د پوهنې ریاست د ۲۰۲۵ کال د نوامبر پر ۱۱مه لسګونه ښځینه ښوونکې چې د لعل او سرجنګل ولسوالۍ په ښوونځیو کې یې کار کاوه، لرې پرتو کلیو او سیمو ته تبدیلې کړې دي. دغه پرېکړې د دې لامل شوې دي، چې ښځینه ښوونکې په عملي ډول کار ځای ته د تګ راتګ امکان له لاسه ورکړي او د خپلو دندو پرېښودو ته اړې شي.**

## ۳. روغتیايي او درمليزو خدماتو ته په لاسرسي کې ننګونې

بېلابېلو نړیوالو اسنادو او تړونونو روغتیايی خدماتو او روغتیايي پاملرنو ته اغېزناک لاسرسی د ټولو افرادو لپاره د بشري حق په توګه پېژندلی او تضمین کړی دی. په قصدي ډول له دې حق څخه د وګړو محرومول، په ځانګړې توګه د جنسیت یا نورو تبعیضي دلایلو پر بنسټ، د قانون له مخې منعه دي او د بشري حقونو سرغړونه ګڼل کیږي. له همدې امله، ژمن هیوادونه باید اړین اقدامات او ترتیبات غوره او پلي کړي، څو دې خدماتو ته د هیوادوالو لاسرسی اسانه کړي.[45]

د رواداري د څېړنو موندنې او پایلې ښیي چې د دې راپور په موده کې د ښځو روغتیايي او درمليزو خدمتونو ته د لاسرسي وضعیت، د محدودوونکو او تبعیضي تګلارو د پلي کېدو له امله، لا خراب شوی دی. اوس مهال، د ښځو لپاره د روغتیايي خدماتو ترلاسه کول، په ځانګړې توګه په لرې پرتو ولسوالیو او سیمو کې، د پوښاک د ډول او شرعي محرم پورې اړوندو سختو مقرراتو سره سم عمل کولو پورې مشروط دي. سره له دې، د امر بالمعروف مامورین په پرله پسې توګه روغتونونه او نور روغتیايي بنسټونه څاري. دوی هغه ښځې سپکوي او تحقیروي چې شرعي محرم ور سره نه وي یا د طالبانو مطلوبې جامې نه اغوندي، او دې مرکزونو ته یې د ورتلو مخه نیسي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت هم په یوه راپور کې ویلي چې د امر بالمعروف محتسبینو روغتیايي کلینیکونو، دوکانونو، بازارونو، دولتي دفترونو او ټکسي چلوونکو ته امر کړی چې له محرم پرته ښځو ته خدمات وړاندې نه کړي.[46]

**د لاس ته راغلو شواهدو له مخې، د امر بالمعروف مامورین د حجاب او د ښځو د پوښاک اړوند د مقرراتو په پلي کولو کې هم یو شان چلند او دریځ نه لري؛ داسې چې په ځینو ولایتونو، له هغې جملې کندهار، هلمند، زابل، ارزګان، هرات، بدخشان او پروان کې لا سخت دریځ لري او له «چادري» پرته هر ډول پوښاک د «بې‌حجابی» یا «بدحجابی» بېلګه ګڼي.**

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، حتا په هغو قضیو کې چې ښځې په جدي او بیړنیو حالاتو کې روغتیايي مرکزونو ته تللې دي، د ټاکل شوي پوښاک د نشتوالي له امله روغتیايي خدماتو ته له لاسرسي څخه محرومې شوې دي.

**د ۲۰۲۵ کال د نوامبر پر ۲۸مه، د امر بالمعروف افسرانو په غزني ولایت کې یو نارینه ډاکټر د دوو هغو ښځو د غاښونو د علاج په تور، چې شرعي محرم یې نه درلود، ونیو او زنداني یې کړ. سربېره پر دې، په یو شمېر ولایتونو کې، له پورته ذکر شویو مقرراتو څخه د سرغړونې د ادعاوو له امله د طالبانو لخوا څو روغتیايي کلینیکونه تړل شوي دي.**

45 . د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۵ ماده. د اقتصادي ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق، ۱۲مه ماده.

46 . په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی، په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت: اپریل - جون ۲۰۲۵ تازه رپوټ، مخ ۲،
https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-0

د دې راپور د موندنو له مخې، د هېواد په ځینو سیمو، لکه په سوېل لوېدیځه حوزه کې، د ښځینه ډاکټرانو په نشتوالي کې، ښځینه ناروغانې په ډلهییز ډول او د ښځینه روغتیایي کارکوونکو په حضور کې د نارینه ډاکټر له خوا معاینه کېږي. که چیرې په دې مرکزونو کې ښځینه کارکوونکې نه وي، نارینه ډاکټران اجازه نلري چې ښځینه ناروغانې معاینه کړي. همدارنګه، د امر بالمعروف اداري لخوا د لګول شویو محدودیتونو سره سم، نارینه ناروغان په هیڅ حالت کې ښځینه ډاکټرانو ته مراجعې اجازه نلري.

د دې محدودیتونو پراخ پلي کول، سره له دې چې دوی روغتیایی خدماتو ته د ښځو مساوي، اغېزناک او پر وخت لاسرسي په برخه کې یې جدي خنډونه رامنځته کړي دي، د دې لامل هم شوي چې یو شمېر ښځینه ډاکټرانې او نرسانې خپلې دندې پرېږدي. سره له دې، ترلاسه شوي معلومات ښیي چې په ۲۰۲۵ کال کې، د امر بالمعروف د مامورینو د تبعیضي فشارونو له امله، د ډاکټرانو او نرسانو په ګډون په ټول هیواد کې په روغتیایي سکتورونو کې د ښځینه کارمندانو شمېر کم شوی دی.

**سربېره پر دې، په ۲۰۲۵ کال کې، طالبانو په روغتونونو کې د رواني روغتیا مشاورینو ټول پوستونه چې لږ تر لږه ۳۰۰ بستونه د ښځو اړوند وه لغوه کړي دي.**

## د مرکه شویو خبرې


له هلمند ولایت څخه د مدني ټولنې یو فعال ویلي دي:

«د ښځینه ډاکټرانو په اړه هم هماغه سخت محدودیتونه پلي کېږي، لکه په جبري توګه چادري په سر کول او د طالبانو له لوري ټاکل شوي حجاب ته اړ ایستل. دا وضعیت، چې د هرې ورځې په تېرېدو سره خرابېږي، چې په روغتیایي مرکزونو کې یې د ښځینه ډاکټرانو حضور کم کړی دی. بله ستونزه دا ده چې طالبان د ښځینه طبي فارغانو څخه ازموینه نه اخلي، او له همدې امله دوی نشي کولی په روغتیایي سکتورونو کې دندې ترلاسه کړي.»

له غزني ولایت څخه یوې ۵۰ کلنې مېرمنې روغتیایی مرکزونو ته د مراجعې اړوند د خپلې تجربې په اړه ویلي دي:

«زه په اونۍ کې یو ځل کلینیک ته د پیچکارۍ لپاره تلم. یوه ورځ زما مېړه د کار لپاره د سیمې بازار ته تللی و، او زه باید یوازې کلینیک ته تللې وای، چې هم پیچکاري وکړم او هم د وینې فشار معاینه کړم. خو کله چې هلته ورسېدم، دوی ما ته د ننوتلو اجازه رانکړه. ما وضاحت ورکړ چې زما مېړه مخکې هر ځل راسره و، خو نن هغه کور کې نه و او زه یوازې راغلې یم. هر څومره مې چې ټینګار وکړ، و یې نه منله، وروسته یوه ښځینه ډاکټره راغله او ویې ویل: ترورې، لاړه شه او جنجال مه جوړوه. ما وویل، ستونزه نشته، یوازې همدلته په دروازه کې په لاس پیچکاري راته وکړه، خو و یې نه منله.»

له پروان ولایت څخه یو بل مرکه شوي کس ویلي چې د ۲۰۲۵ کال د می پر ۲۳ مه، کله چې د درملنې لپاره یې ډاکټر ته مراجعه وکړه، د محرم د نه درلودلو له امله یې کتنځای ته اجازه ورنکړه. دې مرکه شوي ویلي چې هغه له ۵۰ کلونو څخه ډېر عمر لري او یوازینی زوی یې د کار لپاره ایران ته مهاجر شوی دی. هغې ویلي دي: «ما ډاکټر ته زارۍ وکړې چې ما معاینه کړي، خو هغه نارامه شو او په لوړ غږ یې وویل، ‹محرم دې چیرته دی؟› د بې محرمه ښځو د معاینه کولو له امله امر بالمعروف زما کتنځای تړلی و.»



په ورته ډول، د جنوب لویدیځې حوزې د یو روغتون مسئول ویلي دي:

«پر ښځینه ډاکټرانو فشار او محدودیتونه زیات شوي دي. دوی ته ویل شوي چې یو شرعي محرم خامخا باید ورسره وي، او دا محدودیت د هغو ډاکټرانو لپاره خورا ستونزمن دی چې د شپې په شفټ کې کار کوي. ډېری یې نشي کولی چې کار ته لاړې شي، او پلان یې درلود چې خپلې دندې پرېږدي. په پای کې، موږ په سخته وکولای شول چې د امر بالمعروف اداره قانع کړو چې د ښځینه ډاکټرانو د کتنځای مخې ته یوه زړه ښځه وګمارل شي، چې هغه وکولی شي له ناروغانو پرته د نورو خلکو د ننوتلو مخه ونیسي. سره له دې، موږ لا هم د امر بالمعروف ادارې له خوا تر فشار لاندې یوو.»

Photo (C) Mahshad Jalalian / Alamy

پورته ذکر شوي محدودیتونه، لکه څنګه چې یادونه وشوه، لومړني روغتیایي خدماتو ته د ښځو پر لاسرسي باندې مستقیمه اغیزه لري، او د ترلاسه شویو شواهدو له مخې، ډیری زیږونونه اوس مهال په کور کې ترسره کیږي. دا په داسې حال کې ده چې طالبانو د هیواد په ځینو سیمو کې درملو او د امیندوارۍ په مخنیوي پورې اړوندو نورو پاملرنو ته لاسرسی منعه کړی دی.

## ۴. د آزاد تګ راتګ د حق نقض

د تګ راتګ د آزادۍ حق د بشري حقونو یو له مهمو مصادیقو څخه ګڼل کیږي او تضمینوي چې هر فرد کولی شي له نه توجیه کیدونکو او تبعیضي محدودیتونو پرته د هیواد دننه یا بهر تګ راتګ وکړي او په آزاده توګه خپل د اوسېدو ځای وټاکي.[47] د بین المللي معاهدو غړي دولتونه مکلف دي چې له هر ډول تبعیضي چلند څخه ډډه وکړي او د ازاد تګ راتګ په برخه کې د ښځو حقونه له نارینه‌وو سره په بشپړ برابر ډول تضمین او خوندي کړي.[48]

**د لاس ته راغلیو معلوماتو او شواهدو له مخې، په ۲۰۲۵ کال کې د امر بالمعروف د قانون د پلي کېدو له امله رامنځته شویو محدودیتونو د ښځو د ازاد تګ راتګ حق په بې‌ساري ډول محدود کړی او په عامه ډګرونو کې یې د هغوی حضور په کلکه کم کړی دی. اوس مهال، د هیواد په ډیری برخو کې، ښځې، حتی له حجاب او شرعي محرم سره، تفریحي او ورزشي ځایونو، زیارتونو او مذهبي مرکزونو، پارکونو، د ودونو تالارونو، هټیو او نورو عامه ځایونو ته د لاسرسي حق نلري. په سوېل لوېدیځه حوزه کې ښځې، که محرم هم ورسره وي، د شېربخ او آیسکریم پلورنځیو، د اوبو ویالو ته د ورتګ او له کوره بهر د قدم وهلو اجازه هم نه لري.**

د امر بالمعروف ماموران په ښارونو کې د ګزمو په ترسره کولو او په ځینو سیمو کې د تلاشي تمځایونو په جوړولو سره د یادو شویو محدودیتونو او همدارنګه د ښځو د تګ راتګ اړوند مقرراتو د پلي کېدو څارنه کوي. په همدې اړه، د کندهار د یوې ولسوالۍ د یوه رستورانت مالک رواداري ته ویلي دي چې: «طالبانو ښځې رستورانتونو ته له تګ څخه منع کړې دي، حتا که رستورانتونو د کورنیو او ښځو لپاره جلا ځای هم په پام کې نیولی وي. څرنګه چې دې محدودیت زموږ په کار او عاید منفي اغیزه کړې، موږ اړ یو چې طالبانو ته پیسې ورکړو. هغوی د پیسو په مقابل کې هیڅ نه وایي.»

هغه موټرچلوونکي چې بې له شرعي محرم څخه ښځې په خپلو وسایطو کې سپروي، او یا هغه پلورونکي چې ښځو باندې څه شی پلوري، تر پوښتنو لاندې نیول کېږي او توقیف کېږي. سره له دې، په کندهار ولایت کې هغه ښځې چې د توکو یا خوراکي موادو د پیرلو لپاره ښار او بازار ته ځي، د امر بالمعروف د مامورانو له لوري له سپکاوي او توهین سره مخ شوې دي.

**د کندهار ولایت د عینو مینې ښارګوټي یو دوکاندار رواداري ته ویلي دي: «د امر بالمعروف ځینې مامورین ډېر افراطي چلند کوي. هغوی څو ځله موږ ته ویلي دي چې ښځو ته باید دوکان ته د ننوتلو اجازه ورنه کړئ او باید د دروازې مخې ته یو فزیکي خنډ جوړ کړئ، چې څوک ونه شي کولای دننه شي. له هغوی څخه یوه آن وویل چې باید د دوکان پر مېز جلا لوښی کېږدئ، څو کله چې ښځې څه شی اخلي، پیسې پکې واچوي او تاسې پیسې په مستقیم ډول د هغوی له لاسه وانخلئ.»**

47 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۱۲مه ماده.

48 . د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله، د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون، (۱۸ ډسمبر ۱۹۷۹)، ۱۵مه ماده.

د دې راپور د موندنو له مخې، د امر بالمعروف مامورین، په ځانګړي ډول په بدخشان، تخار او کندهار ولایتونو کې، یوازې «چادرې» د ښځو لپاره د منلو وړ حجاب په توګه تبلیغوي او د پوښاک نور ډولونه نه مني. له همدې امله، هغوی دوکانداران د چادرې پلورلو ته هڅولي او د پوښاک یا د بېلابېلو حجابونو د نورو ډولونو له پلورلو څخه یې منعه کړي دي. همدارنګه، د امر بالمعروف اداري د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په میاشت کې د کندهار ولایت په ډېرو جوماتونو کې د ښځو له خوا د چادرې د کارولو پر اړتیا د ټینګار په موخه یو کمپاین پیل کړ، چې د جوماتونو د امامانو په همکارۍ د جمعې د لمانځه په خطبو کې ترسره کېده.

همدارنګه، له سوېل لوېدیځې حوزې څخه لاس ته راغلي معلومات ښیي، هغه ښځې چې د ضروري توکو د پېرلو لپاره پلورنځیو ته تللې وې، د امر بالمعروف د مامورینو له لوري له سپکاوي او توهین سره مخ شوې او آن یو شمېر یې نیول شوې هم دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ په میاشت کې د همدې حوزې یوه د ډېر عمر ښځه، چې د لومړنیو توکو د پېرلو لپاره ښار ته تللې وه، د طالبانو له خوا ونیول شوه او مستقیم عمومي زندان ته ولېږدول شوه.

په غزني ولایت کې هم، د امر بالمعروف مامورینو په دوو بېلو پېښو کې، د جولای پر ۱۲مه او د اګست پر ۲۵مه درې نجونې د «بې حجابۍ» په تور ونیولې، چې څو ساعته وروسته د سیمې د مشرانو او د هغوی د کورنیو په ضمانت خوشې شوې. په ورته ډول، په هرات ولایت کې، یوازې په یوه ورځ کې، د امر بالمعروف افسرانو د خواجه عبدالله انصاري له زیارت څخه لس ښځې ونیولې، چې د څو ساعتونو وروسته په معتبر ضمانت خوشې شوې.

یوناما هم په یو راپور کې اعلان کړی چې په تلاشي ځایونو کې  د حاکمو چارواکو د تفسیر له مخې د «اسلامي حجاب» د نه رعایتولو له امله د ښځو د ځورونې او وهلو ټکولو موارد، او همدارنګه هغه پېښې مستندې کړې دي، چې ښځو ته له محرم پرته د خریدارۍ لپاره بازار ته د تلو له امله بېرته کور ته د ستنېدو امر شوی.[۴۹]

**په همدې حال کې، له کندهار ولایت څخه لاس ته راغلي معلومات ښیي چې طالبانو په دې وروستیو کې د ښځو لپاره د ماښام او سهار قدم وهل او سپورتي تمرینونه منعه کړي دي؛ هغه فعالیتونه چې په ځینو مواردو کې د روغتیا او د ځینو ناروغیو لکه شکر او کولېسټرولو د کنټرول لپاره یې د ډاکټرانو له خوا سپارښتنه کېږي. سره له دې، که ښځې د ورزش لپاره له خپلو کورونو څخه ووځي، د امر بالمعروف د ماموران له لوري له سپکاوي، ځورونې او اذیت سره مخ کېږي.**

## د مرکه شویو خبرې

د بدخشان ولایت یو اوسېدونکي ویلي دي:

«... د جولای په میاشت کې له خپلې مېرمنې او څو ځوانو لوڼو سره د تفریح او چکر لپاره خپل پلرني ټاټوبي ته روان وو، چې د امر بالمعروف له څو مامورینو سره مخ شوو، چې یو شمېر یې وسله وال هم ؤ. زموږ موټر یې ودرولو، او له هغوی څخه یو تن چې ډېر توند چلند یې درلود، خپل سر یې د موټر له کړکۍ رادننه کړ او زما د مېرمنې او لوڼو په حضور کې یې په ډېرو ناوړه او سپکوونکو الفاظو راته وویل چې ته مسلمان نه یې، ځکه ستا لوڼې برقع او چادرې نه لري او خپل ظاهر یې د «فاحشو» په څېر برابر کړی دی. ډېر سپکاوی یې وکړ، او په هغه سیمه کې تر دوو ساعتونو انتظار وروسته بېرته فیض‌آباد ښار ته را وګرځېدو.»

49 . د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی، د خوندي ځای نشتوالی: افغانستان ته په زوره راستنیدونکي د بشري حقونو له خطرونو سره مخ دي، جولای ۲۰۲۵، مخ ۸، https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-0

**همممهاله، د ۲۰۲۵ کال د جولای پر ۱۹مه د امر بالمعروف مامورینو د غزني ښار په مرکز کې یوه ښځه د بېحجابۍ په تور ونیوله. یوه عیني شاهد په دې اړه ویلي دي:**

**«پرون یو سړی چې له خپلې مېرمنې سره پر موټرسایکل سپور و، د امر بالمعروف د مامورانو له خوا ودرول شو. هغوی له لنډو خبرو او شخړې وروسته غوښتل ښځه خپل موټر ته پورته کړي، خو د مېړه له مقاومت سره مخ شول. هغه ډېر عذر او زارۍ وکړې، خو د امر بالمعروف مامورینو ونه منلې او دواړه یې خپل موټر ته پورته کړل او له ځان سره یې بوتلل.»**

**د هرات ولایت یوه بله مرکه شوې ښځه، چې له خپل مېړه سره د پاسپورټ د ترلاسه کولو لپاره له یوې ولسوالۍ څخه د ولایت مرکز ته تللې وه، د طالبانو له لوري د ځورونې د خپلې تجربې په اړه ویلي دي: «دا چې چادري مې نه درلوده، د امر بالمعروف مامور راته د پاسپورټ اداري ته د ننوتلو اجازه رانکړه. ما وویل چې موږ له لرې ځایه راغلي یو او دلته داسې څوک نه لرو چې لاړه شم او چادري ترې واخلم، خو د امر بالمعروف مامور راته وویل: تاسې فاحشو وطن وران کړی دی. کله چې هغه ماته ښکنځل وکړل، ما هم په ښکنځلو ځواب ورکړ، په هماغه شېبه یې پر مخ څپېړه راکړه او د پاسپورټ اداري ته زما د ننوتلو مخه یې ونیوله.»**

په بامیان ولایت کې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۱۳مه، طالبانو یوه زدهکوونکې نجلۍ د مناسب حجاب د نه لرلو په تور ونیوله. هغه ویلي دي چې: «په بازار کې وم او چادري مې نه درلوده، خو ټیکری او اوږدې جامې مې اغوستې وې چې د امر بالمعروف د اداري موټر زما ترڅنګ ودرېد. درې سړي ترې راکوز شول، او یو یې په لوړ غږ وویل: «ولې دې مخ لوڅ دی، شرم نه لرې؟ ما هڅه وکړه چې هغوی ته وضاحت ورکړم، خو هېڅ پام یې ونه کړ؛ زه یې په زور موټر ته پورته کړم او د امر بالمعروف اداري ته یې بوتلم. زما پلار یې را وغوښت او ګواښ یې وکړ چې که بیا دې په عامه ځایونو کې په همدې ډول راښکاره شوې، بیا دې نیسو او په دُرو دې وهوو. وروسته له هغې چې له زما پلار څخه یې لیکلې ژمنه واخیسته، زه یې خوشې کړم.»

## ۵.  عدالت ته د لاسرسي نشتوالی

د بشري حقونو نړیوال اسناد د ټولو افرادو، ښځو او نارینه وو له حق څخه ملاتړ کوي چې خپلواکو او بېطرفه محکمو ته لاسرسی ولري، مدافع وکیل ته لاسرسی وموميي او د عادلانه محاکمې له نورو اصولو څخه برخمن شي.[50] د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون غړي هېوادونه مکلف کړي چې د قانوني او اجرایي تدابیرو په نیولو سره عدالت، قانوني ملاتړونو، محکمو او قضایي بنسټونو ته د ښځو برابر لاسرسی د هغوی د شکایتونو د ارزونې او د حقونو د دفاع لپاره تضمین کړي.[51]

سره له دې، طالبانو له بیا واک ته رسېدو وروسته د پخوانیو قوانینو په ځنډولو سره د بشري حقونو د تضمین او د ښځو د ملاتړ ټول حقوقي چوکاټونه له منځه وړي دي. په داسې ډول چې اوس مهال د تاوتریخوالي او د بشري حقونو د سرغړونو د ښځینه قربانیانو لپاره د عدالت د تأمین هېڅ اغېزناک حقوقي میکانیزم شتون نه لري. له بلې خوا، شته سخت محدودیتونه او تبعیضي شرایط د دې لامل شوي چې د تاوتریخوالي ښځینه قربانیانې په دوهچنده ډول زیان ووینې؛ داسې وضعیت چې د مجازاتو څخه د معافیت فرهنګ یې  دوامدار کړی او له هغه سره په تړاو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي، ناوړه چلند او د بشري حقونو د بېلابېلو سرغړونو د پراخېدو سبب ګرځېدلی دی.

50 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۱۴مه ماده.

51 . د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون،  موادو ۱۵، ۱۸.

د دې راپور موندنې ښيي چې د طالبانو د «امر بالمعروف او نهی عن المنکر» د قانون پلي کېدو په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د جوړښتي تبعيض او نابرابرۍ لمن پراخه کړې او عدالت ته د هغوی لاسرسی يې په سخت ډول محدود کړی دی.

## ښځو سره د تاوتريخوالي په مخنيوي کې پاتې راتلل

د طالبانو قضايي بنسټونه د اسلامي احکامو له سختدريځه تفسير او له تبعيضي چلند سره، په ډېرو مواردو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي اړوند شکايتونو، په ځانګړي ډول د طلاق او تفريق غوښتنو ته رسيدګي نه کوي. دغه چلند په عمل کې د دې لامل شوی چې ښځې له قانوني ملاتړونو څخه محرومې شي، لا زيات تاوتريخوالی پرې وتپل شي او له عدالته انکار شي.

مدافع وکيل ته د لاسرسي نشتوالی، د تاوتريخوالي ښځينه قربانيانو د ساتنې لپاره د خوندي کورونو نشتوالی، او د هر ډول ملاتړيزو پروګرامونو نشتوالی هغه نورې ستونزې دي چې عدالت ته د ښځو د لاسرسي په برخه کې موجودې دي. د دې وضعيت په پايله کې، او په ځانګړي ډول د ملاتړيزو مرکزونو د نشتوالي له امله، د تاوتريخوالي ښځينه قربانيانې ډېر ځله بېرته د خپلو مېړونو کورنيو ته ستنېږي، او په هغو مواردو کې چې د مېړه کور ته له ستنېدو ډډه وکړي، ښځينه زندانونو او د امربالمعروف څارن خونو ته لېږدول کېږي.

له بلې خوا، د امر بالمعروف د قانون له مخې، ښځې نه شي کولای چې د خپلو شرعي محارمو له ملتيا پرته، په مستقيم ډول د شکايت د ثبت او عدالت غوښتنې لپاره عدلي او قضايي بنسټونو ته مراجعه وکړي. که ښځې دغه لارښوونه عملي نه کړي، نه يوازې دا چې شکايت ته يې پام نه کېږي، بلکې له سپکوونکي چلند، تاوتريخوالي او ناوړه چلند سره هم مخ کېږي.

## د مرکه شويو خبرې

د سوېل لوېديځې حوزې د عدلي او قضايي بنسټونو يو کارکوونکي په دې اړه ويلي دي:

«هغه ښځې چې د طالبانو په محکمو کې د کورني تاوتريخوالي شکايت کوي، د قاضيانو له بېپامۍ سره مخ کېږي، او په ډېرو مواردو کې شرعي حکم نه صادرېږي. برعکس، قاضيان هغوی ته سپارښتنه کوي چې له خپل شکايت څخه تېرې شي او له خپلو مېړونو سره ژوند ته دوام ورکړي، آن که په ډېر سخت او کړکېچن حالت کې هم ژوند کوي.»

د همدې حوزې يو بل مرکه شوي داسې معلومات ورکړي دي:

«د تاوتريخوالي ښځينه قربانيانې مدافع وکيل ته لاسرسی نه لري، څو وکولای شي له خپلو قانوني او انساني حقونو څخه دفاع وکړي. سربېره پر دې، د طالبانو په محکمو کې د روانو کړنلارو له مخې د ښځو د تفريق حق په رسميت نه پېژندل کېږي؛ يعنې که يوه ښځه په دې اړه محکمې ته شکايت وکړي، قاضي يې له مېړه سره روغې جوړې ته اړ باسي او شکايت يې له پامه غورځوي. اوس مهال يوازينی موضوع چې په نسبي ډول ورته رسېدنه کېږي، د ښځو د ميراث حق دی.»

د بدخشان ولایت یو بل نارینه مرکه شوي ویلي دي:

**«یوه ۲۲ کلنه ښځه چې د شدید کورني تاوتریخوالي له امله د طالبانو محکمې ته ورغلې وه او د تفریق غوښتنه یې کړې وه، قاضي ورته وویل چې باید ۸۰۰ زره افغانۍ ورکړي، څو د دې غوښتنې ته رسېدنه وشي. زه د یوې بلې حقوقي دعوې د تعقیب لپاره محکمې ته تللی وم او په خپله د دې صحنې شاهد وم. ما له قاضي څخه وپوښتل چې ولې باید د طلاق د غوښتنې په بدل کې دومره ډېرې پیسې ورکړل شي؟ هغه ځواب راکړ چې که مونږ د طلاق غوښتونکو ښځو لپاره دا ډول سخت شرایط وضعه نه کړو، ښايي ډېرې ښځې له خپلو مېړونو جلا شي. او ویې ویل چې دا کار ځکه کوو، څو ښځې هر ډول سختۍ او ستونزې وزغمي او خپل ژوند ته دوام ورکړي.»**

په ورته ډول، د دایکندي ولایت څخه یو بل مرکه شوي ویلي دي:

«هغه ښځې چې د تاوتریخوالي قربانیاني دي او د طالبانو محکمو ته مراجعه کوي، د قاضیانو له منفي چلند سره مخ کېږي؛ ځکه د هغوی په باور هغه ښځه چې له کوره ووځي، «ښه ښځه» نه ده. له بلې خوا، آن که ښځې له تاوتریخوالي سره مخ شوې وي، بیا هم نه شي کولای هغه ثابت کړي؛ ځکه د طالبانو په محکمو کې د رسېدنې بهیر تر ډېره د شاهدانو پر ګواهۍ ولاړ دی. ډېرې ښځې، په ځانګړي ډول په کلیوالو سیمو کې، د ټولنیزو محدودیتونو او اقتصادي لګښتونو له امله د شاهد د معرفي کولو او یا د خپلو دوسیو د تعقیب توان نه لري.»

د لاس ته راغلو معلوماتو له مخې، د طالبانو قاضیان آن د ښځو پر وړاندې د بشري حقونو د تر ټولو جدي سرغړونو په مواردو کې هم، د قربانیانو د ملاتړیزو پرېکړو پر ځای داسې حکمونه صادر کړي چې د عادلانه محاکمې له بنسټیزو اصولو او له قربانیانو څخه د اغېزناک ملاتړ له معیارونو سره په ټکر کې دي. د بېلګې په توګه، د سوېل لوېدیځې حوزې یو مرکه شوي ویلي دي چې: «د ۲۰۲۵ کال د جون په میاشت کې یو سړي د خپل پور په بدل کې خپله اووه کلنه لور د هغه سړي په نکاح ورکړه چې عمر یې له پنځوسو کلونو زیات و. دغې قضیې په ټولنیزو شبکو کې ډېر شور او غبرګونونه را وپارول، چې په پایله کې طالبان اړ شول دواړه لوري ونیسي. دغه دوسیه وروسته د طالبانو محکمې ته راجع شوه، او قاضیانو پرېکړه وکړه چې نجلۍ به هغه مهال چې نهه کلنۍ ته ورسېږي، د همدې سړي په نکاح کې ورکړل شي.»

په همدې حال کې، د یوې نوې پرېکړې له مخې چې په پکتیکا کې د امنیه قوماندانۍ، د امر بالمعروف ریاست، د حج او اوقاف ادارې، د ولایت د محلي ادارې او قومي مشرانو له خوا شوې، د دویمې ښځې مهر ۵۰۰ زره افغانۍ، د ناواده نجلۍ مهر ۳۰۰ زره افغانۍ او د کونډې ښځې مهر ۲۰۰ زره افغانۍ ټاکل شوی دی. دغه پرېکړه، چې د نکاح د تړون د شرایطو په ټاکلو کې د ښځو له قانوني حقونو او اختیار سره په ټکر کې ده، د دویمو او درېیمو ودونو د زیاتېدو او په نکاح کې د ښځو د حقوقي دریځ د لا کمزوري کېدو په اړه جدي اندېښنې راولاړې کړې دي.

# د متضررېدونکو قومي او مذهبي ډلو وضعيت



Photo (C) KYRYLO KULAHIN / Alamy

د دې راپور موندنې ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې، په مختلفو اداري، اقتصادي او مذهبي برخو کې د واکمنو چارواکو چلند په افغانستان کې د زيان منونکو قومي او مذهبي ډلو پر وړاندې د تبعيض د دوام او شدت لامل شوی دی. ترلاسه شوي شواهد او معلومات ښيي چې د کار فرصتونو، عامه خدماتو، بشري مرستو او ملي سرچينو ته د لاسرسي په برخو کې تبعيض د طالبانو ډلې د هغو هدفي پاليسيو او کړنو پايله ده چې د افغانستان د خلکو لخوا د اقتصادي او ټولنيزو حقونو څخه د ګټې اخيستنې په برخه کې د مساوات او عدم تبعيض اصل يې له پامه غورځولی دی.

هممهاله، د مذهبي مراسمو د ترسره کولو پر ازادۍ د سختو محدوديتونو لګول، پر ماشومانو د ديني زده کړو تپل او لاسوهنه، او آن په ځينو سيمو کې پر لږکيو د مذهب د بدلون جبري کول، هغه نور موارد دي چې د ۲۰۲۵ کال په بهير کې مستند شوي دي.

## ۱. د دولتي خدماتو او پرمختيايي پروژو په وړاندې کولو کې قومي او مذهبي ډلو سره تبعيض

په داسې حال کې چې د بشري حقونو نړيوال اسناد د نژاد، جنس، ژبې او مذهب له مخې له هر ډول تبعيض څخه د افرادو پر مصونيت او په ټولو مادي او معنوي برخو کې سرچينو او فرصتونو ته د برابر لاسرسي پر تضمين ټينګار کړی دی.[52] خو د دې راپور د موندنو له مخې، طالبانو د دولتي خدمتونو، انکشافي پروژو او بشردوستانه مرستو په وېش کې د زيان‌منو قومي او مذهبي ډلو پر وړاندې تبعيضي چلند کړی دی. لکه څنګه چې د هېواد ځينو مشخصو سيمو، په ځانګړي ډول هغو برخو چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د دولت په دوره کې د طالبانو تر کنټرول لاندې وې، له عامه خدمتونو او اقتصادي سرچينو څخه زياته برخه ترلاسه کړې ده.

د پروان ولايت د سياه ګرد، شينواري او کوه صافي ولسواليو، چې پخوا د طالبانو تر نفوذ لاندې وې، په ۲۰۲۵ کال کې تر ټولو زياتې پراختيايي پروژې ترلاسه کړې دي. د بېلګې په توګه، د همدې کال په وروستيو شپږو مياشتو کې يوازې په شينواري ولسوالۍ کې ۱۳۶ بېلابېلې انکشافي پروژې پلي شوې دي، په داسې حال کې چې د همدې ولايت نورې ولسوالۍ د دې ډول پروګرامونو له ډېرې لږې کچې څخه هم بې‌برخې پاتې شوې دي.

همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ له ۱۴مې تر ۱۷مې پورې د غزني ولايت په اندړ، ګيلان، قره‌باغ، آب‌بند او مقر ولسواليو کې ۹۸۲۰ کورنيو ته نغدي او خوراکي مرستې، چې ۲۹۰۰ افغانۍ نغدي پيسې هم پکې شاملې وې، ووېشل شوې دي؛ خو د لاس ته راغلو معلوماتو له مخې، د دغو مرستندويه کڅوړو د ترلاسه کوونکو په منځ کې آن يوه کورنۍ هم له هزاره‌وو، تاجکانو، بياتو او نورو قومي او مذهبي لږکيو څخه نه وه. په يوه بله بيلګه کې، د ۲۰۲۵ کال په لومړيو کې، طالبانو په غزني ولايت کې د ۶ مليون ډالرو څخه د زيات ارزښت لرونکو ۹۸ پرمختيايي پروژو د پيل اعلان وکړ، چې په راتلونکو څلورو کلونو کې به د زنه خان، خوګيانيو او رشيدان په درېو ولسواليو کې د کرنې، مالدارۍ، بندونو جوړولو او څارويو پالنې په برخو کې پلي شي. دغه ولسوالۍ پخوا د طالبانو د نفوذ له ساحو او سيمو څخه وې. سره له دې، راپورونه ښيي چې په ۲۰۲۵ کال کې د غزني د نورو ولسواليو برخه يوازې درې پروژې وې، چې ارزښت يې ۴۶ زره ډالره و.

52 . د ملګرو ملتونو منشور، عمومي اسامبله، (۱۹۴۵)، پراګراف ۳، ماده ۱، بند ج، ماده ۵۵ او ماده ۳، پراګراف ۹. د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، پراګرافونه ۱ او ۲، ماده ۲.

**په بدخشان ولایت کې هم اسماعیلیه مېشتې سیمې له دولتي سرچینو او خدمتونو ته له متوازن لاسرسي بې‌برخې پاتې شوې دي، او لکه څنګه چې لاس ته راغلي شواهد ښيي، د ۲۰۲۵ کال د انکشافي پروژو یوه د پام وړ برخه په وردوج ولسوالۍ کې پلي شوې ده، چې د طالبانو د دوو سیمه‌ییزو قوماندانانو ټاټوبی بلل کېږي. په همدې ډول، په دایکنډي ولایت کې ځانګړې شوې انکشافي پروژې، لکه د سړک جوړونې پروګرامونه، تر ډېره په هغو ولسوالیو او سیمو کې عملي شوې دي چې پخوا د طالبانو د راټولېدو، فعالیت او نفوذ ځایونه ؤ.**

## ۲. په استخدام کې تبعیض

د بشري حقونو د نړیوالو اسنادو له مخې، د کار د حق تضمین، د عادلانه کاري شرایطو برابرول، د شغلي امنیت تأمین، او د دولتي کارکوونکو د قومي، ژبني او مذهبي ځانګړنو پر بنسټ د ګومارنې یا ګوښه کولو مخنیوی، د ټولو افرادو له اساسي او بنسټي حقونو څخه شمېرل کېږي.[53] د دغو اسنادو غړي دولتونه مسوولیت لري چې د کورنیو قوانینو د وضعه کولو او تصویب او د نورو اجرایي تدابیرو په نیولو سره، د هر ډول قومي، ژبني او مذهبي تړاو پرته، د ټولو ښاریانو لپاره عادلانه کاري شرایط برابر کړي.[54]

د دې راپور د موندنو له مخې، طالبان د وړتیا، تخصص او د برابرۍ اصل ته له پامه غورځولو پرته، ایډیولوژیک تړاو، د همکارۍ مخینه او د وفادارۍ کچه د دولتي ادارو د کارکوونکو د ګومارنې او ګوښه کولو معیار ګرځوي. لکه څرنګه چې طالبانو د تېرو څلورو کلنو په جریان د تېر حکومت کارکوونکي د ټولو قومي او مذهبي ډلو څخه د دندو لیري کړي او پر ځای یې دې ډلې ته وفادار او نژدې کسان په دندو ګمارلي دي. لکه څنګه چې یو د هلمند ولایت څخه د شیعه ؤ استازي ویلي دي: «طالبان د خلکو په ګومارنه کې هغو کسانو ته پام کوي چې له هغوی سره د همکارۍ مخینه ولري، او ورته هېڅ توپیر نه لري چې له کوم قوم، مذهب یا سیمې څخه دي. هغوی آن د ټیټو بستونو لپاره د کارکوونکو د ګومارنې په برخه کې هم دا شرط ږدي چې د جمهوریت په دوره کې یې دنده نه وي ترسره کړې.»

سره له دې، لاس ته راغلي معلومات ښيي چې په ځینو سیمو کې د دولتي ادارو د کارکوونکو د ګومارنې یا ګوښه کولو په اړه د طالبانو پرېکړو په نامتناسب ډول د قومي او مذهبي لږکیو پر کاري فرصتونو د لاسرسي اغېز کړی دی. لکه څنګه چې د ۲۰۲۵ کال په جریان کې حاکمو چارواکو د لوړو زده‌کړو وزارت په تشکیلاتي جوړښت کې تنقیصات راوستل، له هغې جملې د علمي کادر بستونه او د کابل، پنجشیر او بامیان پوهنتونونو اداري څانګې، چې ډېری یې د زیان‌منو قومي او مذهبي ډلو پورې تړلو کسانو په واک کې وې.

په غزني ولایت کې هم د ۲۰۲۵ کال په جریان کې لږ تر لږه ۱۹ بستونه، چې د هزاره او تاجکو کارکوونکو پورې تړلي ؤ، د ولایت له محلي اداري، له اطلاعاتو و فرهنګ ریاست او امنیه قوماندانۍ څخه حذف شوي دي.

**همدارنګه، له نیمروز ولایت څخه لاس ته راغلي شواهد ښيي چې قومي او مذهبي لږکي له کاري فرصتونو، په ځانګړي ډول د سرحدي سوداګرۍ په برخه او د ګمرکي بستونو څخه ګوښه شوي، او دا فرصتونه تر ډېره د ځایي مسؤلانو قومیانو او خپلوانو ته ورکړل شوي دي. له همدې ولایته داسې راپورونه هم شته چې د دولتي ادارو ځینو کارکوونکو د دې لپاره چې له دندې ګوښه نه شي، په برېښنایي تذکرو کې خپل مذهب یا ژبه بدله کړې ده.**

53 . د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۳مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو نړیوال میثاق، ۶، ۷ او ۸ مادې.
54 . د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق ۷مه ماده

په غور ولایت کې د یوې محلي اداري د دندې یو غوښتونکي ویلي دي: «درې میاشتې مخکې، کله چې په یوې محلي اداري کې یو اداري بست اعلان شو، ما غوښتنلیک ورکړ، ځکه د هغه ټول شرایط زما له تجربې او زده‌کړو سره برابر ؤ. ما د لیسانس سند درلود او څو کاله مې په دولتي ادارو کې کار هم کړی و. ما لیکلې ازموینه په بریالیتوب سره تېر کړه، خو د مرکې په ورځ چې یې د زېږېدنې ځای پوښتنه وکړه او پوه شول چې زه هزاره یم، د هغوی لحن بدل شو. له مسؤلانو څخه یوه راته په ښکاره ډول وویل چې موږ هغو کسانو ته اړتیا لرو چې زموږ له دریځ سره همغږي وي.»

په هرات ولایت کې هم ورته قضیې راپور شوې دي. یو ګوښه کړل شوي یو نارینه ښوونکي ویلي دي: «زه په یوه مکتب کې ښوونکی وم، او پرته له دې چې کومه تېروتنه مې کړې وي، یوازې د هزاره قومي تړاو له امله د طالبانو د معارف ریاست له خوا له دندې ګوښه شوم. د معارف رئیس زما پر ځای خپل یو خپلوان، چې د دیني مدرسې فارغ و، په دنده وګماره.» همدارنګه، د هرات ولایت له غوریان ولسوالۍ څخه یوې مرکه شوې ښځې ویلي دي: «څلور میاشتې دمخه، زه په یوه دولتي ښوونځي کې له خپل تدریسي مقام څخه پرته له کوم دلیله ګوښه شوم، یوازې د دې لپاره چې زه تاجکه یم. د معارف مدیر وروسته زما پر ځای له خپلو خپلوانو څخه یوه ښځه وګومارله، چې لوړې زده‌کړې نه لري.»

سره له دې، داسې پېښې هم راپور شوې دي چې طالبان ایډیولوژیکي تړلتیاوې، کاري مخینه او د خلکو وفادارۍ کچه د دولتي کارکوونکو د استخدام او ګوښه کولو د معیار په توګه په نظر کې نیسي؛ لکه څنګه چې د شیعه ټولنې اړوند یو کس له هلمند ولایت څخه رواداري ته ویلي: «طالبان په استخدام کې هغو کسانو ته پاملرنه کوي چې له هغوی سره د همکارۍ مخینه ولري او دوی ته توپیر نه کوي چې د کوم قوم، مذهب یا سیمې وي. هغوی حتا په ټیټو بستونو د کارمندانو د استخدام لپاره دا شرط لري چې د جمهوریت په دوره کې یې دنده نه وي ترسره کړې.»

## ۳. پر مذهبي ازادیو د محدودیتونو لګول

د بشري حقونو په نړیوالو اسنادو او معاهدو کې د راغلو موادو له مخې، مذهبي ازادي د عقیدې ازادي او د دیني تعلیماتو او مراسمو د ترسره کولو ازادي رانغاړي.[۵۵] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق د مذهب یا عقیدې د څرګندولو ازادي، که په فردي توګه وي او که په جمعي، که په علني ډول وي او که په پټه، او همدارنګه د عبادتونو، دیني دودونو، اعمالو او تعلیماتو د ترسره کولو ازادي په رسمیت پېژندلې ده.[۵۶]

همدارنګه، یاد سند اعلان کړی چې په نژادي، قومي او مذهبي لږکیو پورې اړوند اشخاص حق لري چې په خصوصي یا عامه توګه، په ازاد ډول او له هر ډول لاسوهنې یا تبعیض پرته، له خپلې ځانګړې فرهنګ څخه ګټه واخلي، خپل دین څرګند کړي، عمل پرې وکړي، او خپله ځانګړې ژبه وکاروي.[۵۷]

55 . د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۷مه ماده.
56 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۱۸مه ماده.
57 . هماغه سرچینه، ۲۷مه ماده.

د رواداري د ځېړنو پايلې ښيي چې طالبانو د ۲۰۲۵ کال په بهير کې په ټول هېواد کې د مذهبي مراسمو د ترسره کولو پر ازادۍ پراخ محدودیتونه پلي کړي دي. د بېلګې په توګه، د محرم د لسو ورځو په جریان کې، د هیواد په بیلابیلو برخو کې د شیعه ګانو د ماتم په مراسمو محدودیتونه ولګول شول، لکه د کابل ښار او د غزني، هرات، پروان، نیمروز، بامیان او دایکندي ولایتونو کې. د لاس ته راغلو معلوماتو له مخې، د طالبانو ځواکونو د ښارونو له بېلابېلو برخو څخه د عزادارۍ بیرغونه او نښانونه راټول کړي، د ماتم د لاریونونو د جوړېدو مخه یې نیولې، او په ځینو مواردو کې یې د نذر او خوړو د وېش ځایونه هم ویجاړ کړي دي.

د هلمند ولایت یو مرکه شوي ویلي دي: «شیعه‌ګان کولای شي خپل مذهبي مراسم د جوماتونو دننه ترسره کړي، خو د عامه پروګرامونو په ترسره کولو او له جوماتونو څخه بهر محدودیتونه شته، او آن په ځینو سیمو کې د شیعه جوماتونو د لوډسپیکر کارول هم محدود شوي دي.» ورته قضیې په نیمروز ولایت کې هم راپور شوي دي. د مثال په توګه، د جعفري فرقې پیروان په عامه ځایونو کې د خپلو مذهبي مراسمو له ترسره کولو منعه شوي دي او ورته ویل شوي چې دا مراسم باید یوازې په تړلو ځایونو کې ترسره شي.

**سربېره پر دې، په یوه وروستۍ قضیه کې، شیعه جوماتونو ته ویل شوي چې یا د اذان د خپرولو وختونه له سني جوماتونو سره همغږي کړي یا د اذان له خپریدو څخه ډډه وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د شیعه ګانو او اهل سنیانو د آذان وخت شاوخوا پنځلس دقیقې توپیر لري. په غزني ولایت کې طالبانو د ۲۰۲۵ کال په لومړیو کې د دولتي ادارو د استازو په ګډون یوه کمېټه جوړه کړه او د شیعه‌ګانو جوماتونو او مذهبي مرکزونو ته یې اعلان وکړ چې د شپې او ورځې په اوږدو کې د لودسپیکرونو کارول منعه دي او عزاداري باید په پرانیستې فضا کې ترسره نه شي.**

همدارنګه، د دایکنډي ولایت څخه لاس ته راغلي معلومات ښيي چې د امر بالمعروف مامورین د شیعه دیني مدرسو پر څارنې سره د دغو مدرسو له مسؤلانو سره ناوړه چلند کوي او تل د هغوی د درسي نصاب په اړه لاسوهنه کوي. په بادغیس ولایت کې، طالبانو په ښوونځیو کې نارینه زده کونکي اړ کړي دي چې خپل مذهب ته له پاملرنې پرته د ماسپښین یا مازیګر د جمعي لمونځونو ته حاضر شي، او که دوی دا کار ونه کړي، نو له ښوونځي څخه به وشړل شي.

هممهاله، په غزني ولایت کې د امر بالمعروف مامورینو درې تنه شیعه دیني عالمان ځکه ونیول چې د طالبانو له رسمي اعلان څخه یوه ورځ وروسته یې د اختر لمونځ ادا کړی و. همدارنګه، د جاغوري او مالستان ولسوالیو کې یو شمېر شیعه وګړي چې د خپلو دیني باورونو له مخې یې روژه نیولې وه، د طالبانو د امر بالمعروف ځواکونو له خوا په زور روژه ماتوولو او د اوبو څښلو ته اړ ایستل شوي دي. تر دې مخکې، د طالبانو د امر بالمعروف اداري په همدې ولایت کې د شیعه علماوو د شورا غړي ورغوښتي وو او اعلان یې کړی و چې د مبارکې روژې میاشت باید د طالبانو د رسمي اعلان او د حنفي فقهې له مخې پیل شي.

## د مذهب بدلون او د حنفي فقهې زده کړې ته د اسماعیلي شیعه‌ګانو اړیستل

د لاس ته راغلو شواهدو او معلوماتو له مخې، طالبانو د ۲۰۲۵ کال کې هم په بدخشان ولایت کې پر اسماعیلي شیعه‌ګانو د ایډیولوژیکو فشارونو واردولو او په جبري توګه د هغوی د مذهب بدلولو بهیر ته دوام ورکړی دی. لکه څنګه چې اوس مهال په ټولو اسماعیلي مېشتو ولسوالیو کې طالبانو دیني مدرسې فعالې کړې دي او د هغوی ماشومانو ته په جبري ډول حنفي فقهه ور زده کوي. دغه اقدام، په خپل ډول کې، د بشري حقونو تر ټولو سخته سرغړونه او په ځانګړي ډول د مذهبي ازادۍ ښکاره نقض ګڼل کېږي. د لاس ته راغلو معلوماتو له مخې، د اسماعیلي ټولنې د غړو د مذهب د بدلون بهیر په ځینو مواردو کې د تاوتریخوالي له لارو تعقیب شوی دی؛ لکه وېروول، ګواښل، نیول او آن شکنجه کول.

رواداري د ۲۰۲۵ کال په ډسمبر میاشت کې یو څېړنیز راپور خپور کړ، چې د مرکه شویو د مستقیمو او لومړنیو معلوماتو پر بنسټ چمتو شوی دی. د دې راپور موندنې ښیي چې طالبانو د بدخشان او بغلان ولایتونو په ځینو برخو کې په منظم او هدفي ډول پر اسماعیلي ماشومانو د حنفي فقهې جبري زده کړه تحمیل کړې دي، او همدارنګه یې د علني تکفیر او منظمو فشارونو له لارې د دې ټولنې غړي اړ کړي چې خپل مذهب او دیني باورونه پرېږدي.[58]

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي هم په یو راپور کې اعلان کړی دی چې د بدخشان ولایت په ځینو ولسوالیو کې د واکمنې اداري چارواکو د اسماعیلي ټولنې پر غړو فشار راوړی چې سني مذهب ته واوړي. په راپور کې دا هم ویل شوي چې طالبانو د دولتي مرستو ترلاسه کول د سني مذهب په پیروۍ پورې مشروط کړي دي.[59]

58. رواداري، په افغانستان کې د اسماعیلي شیعه ګانو حقوق بشري وضعیت، ډسمبر ۲۰۲۵. https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/12/RW-Ismaili-Report-Pashto.pdf
59. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی، په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت: تازه رپوټ جولای - سپتمبر ۲۰۲۵، مخ ۶. https://unama.unmissions.org/update-human-rights-situation-afghanistan-july-sept-2025

ځلورمه برخه

# پایــــله او وړانــــدیزونه



Photo (C) Shushko / Alamy

# پـــایله

د هدفي او له محاکمې پرته وژنو، اجباري تري تم کولو، خپلسرو نیونو، او د ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکو سزاګانو کې د پام وړ زیاتوالی او د ښځو د ژوند پر بیلابېلو ابعادو د تبعیضي محدودیتونو لګول د بشر حقونو د نقض هغه تر ټولو لوی موارد دي چې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې پېښ شوي دي.

حاکمو چارواکو د راپور په دې موده کې د دې هیواد د ښځو او نجونو پر وړاندې د خپلو منظمو او هدفي سیاستونو په تعقیبولو سره، په ځانګړي ډول د امربالمعروف قانون د پلي کولو له لارې د زده‌کړو، کار، ازاد تګ راتګ او عدالت ته د لاسرسي په برخو کې تبعیض لا پسې سخت کړی دی. د دې راپور د موندنو له مخې، د یاد قانون پلي کول په ۲۰۲۵ کال کې د ښځو آزادي لا ډېره سلب کړې ده او د هغوی پر فردي او ټولنیز ژوند یې ژورې اغېزې درلودلې دي.

زیانمنې قومي او مذهبي ډلې هم، په قصدي او تبعیضي ډول له کاري فرصتونو، ملي سرچینو او امکاناتو ته له لاسرسي او له انکشافي پروژو څخه محرومې شوې دي. لکه څنګه چې د دې راپور موندنې ښیي، طالبانو د یادو برخو تر څنګ له تبعیضي چلند سره سره، د مذهبي مراسمو د ترسره کولو پر ازادۍ هم سخت محدودیتونه لګولي دي.

هممهاله، د پخواني حکومت کارکوونکي، مخالفان او معترضان، د بشري حقونو فعالان او خبریالان د تاوتریخجنو او غچ اخیستونکو بریدونو هدف ګرځېدلي، او په خپلسري او غیرقانوني ډول نیول شوي، نادرکه شوي، شکنجه شوي او آن وژل شوي دي. همدارنګه، طالبانو اعتراضي غونډې او لاریونونه په زور او تاوتریخوالي سره ځپلي او معترضان یې نیولي، ټپیان کړي او آن وژلي دي.

د دې راپور ورکولو په موده کې د ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکو سزاوو د پلي کېدو کچه‌په څرګند ډول لوړه شوې ده، لکه په عام محضر کې اعدام او دُرې وهل، چې دا د حاکمو چارواکو له خوا د عادلانه محاکمې اصولو او د بشري حقونو معیارونو ته د نه پاملرنې ښکارندويي کوي.

سره له دې، له مجازاتو څخه د معافیت ژور ریښه لرونکی فرهنګ او د حساب‌ورکونې نشتوالی په دې هېواد کې د بشري حقونو د سرغړونو د زیاتېدو له مهمو او اغېزناکو لاملونو څخه دي، او تر هغه وخته چې د اوسني وضعیت عاملان او مسؤلان د نړیوالو قضایي میکانیزمونو له لارې په اغېزناک ډول حساب‌ورکوونکي نه شي، د بشري حقونو سرغړونې به همداسې دوام ومومي.

د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې په افغانستان کې د بشري حقونو د نقض د مرتکبینو د ځواب ویونکي کولو په برخه کې تاریخي او ارزښتمنې لاسته راوړنې هم وې. د دې لاسته راوړنو له جملې څخه کولای شو د بین المللي جزایي محکمې له خوا د بشریت ضد جنایت د ارتکاب له امله د طالبانو د رهبرانو د نیولو حکم صادرولو، او د افغانستان د ښځو لپاره د ولسي محکمې جوړولو ته اشاره وکړو. سره له دې، د بشر حقونو پراخ نقض ته رسیدګي او په ځانګړي ډول د دې هیواد د ښځو او نجونو پر وړاندې سیستماتیک او سازمان شوی تبعیض پای ته رسول د ټولو قانوني ابزارو او د بین المللي قضایي میکانیزمونو کارولو ته اړتیا لري.

## وړانـــدیزونـه

روداري په افغانستان کې د بشري حقونو د اندېښمنوونکي وضعیت د ارزونې او د شته ننګونو او ستونزو د حل لپاره، لاندې وړاندیزونه حاکمو چارواکو او نړیوالې ټولنې ته وړاندې کوي.

حاکمو چارواکو ته

- له حاکمو چارواکو په جلا توګه غواړو چې نور دې د بشري حقونو له سرغړونو لاس واخلي او د هغو نړیوالو بشري حقونو اسنادو له مادو او مقرراتو سره سم خپل مسئولیتونه ترسره کړي، چې افغانستان پکې غړیتوب لري.
- له خپلو بشري حقونو او آزادیو څخه د ښځو په قصدي او هدفي توګه محرومول د هیواد سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي وضعیت ته د تلپاتو او دایمي زیانونو پر اړولو سربېره سختې حقوقي پایلې هم لري. له همدې امله له حاکمو چارواکو غواړو چې د افغانستان د ښځو او نجونو ازادۍ او انساني کرامت ته په درناوي او ملاتړ سره، د امربالمعروف د قانون په ګډون خپل ټول فرمانونه، پالیسۍ او تبعیضي قوانین لغوه کړي.
- له حاکمو چارواکو غوښتنه کوو چې د ماشومانو د ژوند د حق د خوندي کولو او د موجودو ګواښونو د له منځه وړلو په موخه، د ماینونو او د جګړې په نورو پاتې شونو د ککړو شویو سیمو د پاکولو لپاره عملي ګامونه واخلي، او په دې برخه کې له ملي او نړیوالو نادولتي بنسټونو سره اغېزناکه همکاري وکړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د هیوادوالو د امنیت او خوندیتوب د تأمین لپاره خپل قانوني مسؤلیتونه ادا کړي او د پخواني حکومت د کارکوونکو، خپلو مخالفانو او منتقدانو او د بشري حقونو د مدافعانو له قضایي بهیر څخه بهر وژنو ته ژر تر ژره پای ورکړي. دوی باید د قربانیانو کورنیو او د افغانستان خلکو ته د داسې وژنو د عاملینو د تعقیب او سزا ورکولو په اړه د خپلو اقداماتو په اړه راپور ورکړي.
- سربېره پر دې، له حاکمو چارواکو غواړو چې د بشري حقونو بنسټونو ته د آزادۍ د سلب ځایونو ته د اغېزناک لاسرسي زمینه او امکان برابر کړي او نور دې له زندانیانو سره د شکنجې او ناوړه چلند له ترسره کولو ډډه وکړي.

## نړیوالې ټولنې ته

- له مجازاتو څخه د معافیت د فرهنګ پر وړاندې دوامداره مبارزه او د طالبانو حساب‌ورکوونکي کول، په افغانستان کې د بشري حقونو د پراخو او سیستماتیکو سرغړونو د پای ته رسولو له اساسي شرطونو څخه دي. سره له دې، له نړیوالې ټولنې څخه په ټینګار غوښتنه کوو چې له ټولو سیاسي، دیپلوماتیکو او قضایي وسیلو څخه کار واخلي او عدالت ته د قربانیانو د لاسرسي ملاتړ وکړي.
- له نړیوالې ټولنې غواړو چې د بشري حقونو د مدافعانو، په ځانګړې ډول د دې د هېواد د ښځو او نجونو د عدالت‌غوښتونکو مبارزو ملاتړ وکړي، او په افغانستان کې د نیولو، جبري تري تم کولو، شکنجې او د معترضانو د وژنې دوسیو ته اغېزناکه رسېدنه وکړي.

- لکه څنګه چې د دې راپور موندنې ښيي، د پخواني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي لا هم د طالبانو او نورو نامعلومو وسله‌والو له لوري د غچ اخیستونکو او هدفي بریدونو له ګواښ سره مخ دي. له همدې امله، له نړیوالې ټولنې غوښتنه کوو چې پر حاکمو چارواکو د فشار د راوستلو او د پخواني حکومت د کارکوونکو د امنیت او خوندیتوب د تأمین لپاره عملي اقدامات ترسره کړي.
- له ملګرو ملتونو غوښتنه کوو چې د هدفي، له محاکمې پرته او مشکوکو وژنو په اړه، په ځانګړي ډول د پخواني حکومت د کارکوونکو پر وړاندې د غچ اخیستونکو بریدونو په تړاو، هر اړخیزې څېړنې ترسره کړي او پایلې یې له خلکو او نړیوالې ټولنې سره شریکې کړي.
- له ملګرو ملتونو غوښتنه کوو چې د افغانستان د خلکو، په ځانګړي ډول د ښځو او زیان‌منو قومي او مذهبي ډلو د ساتنې په اړه خپل قانوني مکلفیت او مسؤلیت ترسره کړي او په دې برخه کې اغېزناک اقدامات او تدابیرعملي کړي.

رواداری

RAWADARI